# خپل حقونه وپېژنئ

## د ماشوم یا ځوان کس په توګه ستاسو حقونه

CHILDREN'S RIGHTS ALLIANCE
Uniting Voices For Children

د دې خپل حقونه وپېژنئ لارښود (Know Your Rights Guide) ژباړه او ډيزاين د ماشومانو او ځوانانو د خدماتو د کميټې (CYPSC) لخوا د 2024 کال CYPSC د نړيوال خونديتوب د بوديجې له لارې تمويل شوي دي.

دا سند د DCU Language Services DAC (Dublin City University, Invent Building, Glasnevin, D09 PH2K, Ireland لخوا ژباړل شوی.)

د ”خپل حقونه وپيژنئ (Know Your Rights)“ اصلي خپرونه يا اشاعت د ماشومانو د حقونو اتحاد لخوا د مدني آزاديو لپاره د آيرليند شورا په همکارۍ رامينځته شوې. دا د ماشومانو او ځوانانو لپاره د ”خپل حقونه وپېژنئ“ لارښودونو په لړۍ کې دويم دی.

# لړلیک


- د دغه لارښود په اړه 2
- مهمي کلمې (د الف با د تورو په ترتیب) تشریح شوې دي 4
- پېژندنه 10

1 برخه: زما حق چې برابر چلند راسره وشي، شمولیت ولرم او خپله پرېکړې وکړم 16

2 برخه: د تعلیم اړوند زما حق 34

3 برخه: د روغتیا اړوند زما حق 58

4 برخه: له ضرر څخه د خوندیتوب په اړه زما حق 76

5 برخه: په کورنۍ کې زما حق 92

6 برخه: د کډوال یا مهاجر په توګه زما حقونه 107

7 برخه: له جزایي قانون او ګارډا (آیرلنډي پولیس) سره د معاملې په اړه زما حقوق 126

8 برخه: زما آنلاین حقونه 138

9 برخه: د سرپناه اړوند زما حق 144

10 برخه: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟
د کټورو سازمانونو او ادارو فهرست 148

# د دغه لاربنود په اړه

## دغه لاربنود د ماشومانو د حقونو د ائتلاف د ټیم له خوا لیکل شوی دی، او تاسو ته د ماشوم یا ځوان کس په توګه ستاسو د حقونو په هکله معلومات وړاندې کوي.

مونږ دغه لاربنود عمدتاً د 18-12 کلنو ماشومانو لپاره لیکلی دی، خو ښايي ځيني برخې ستاسو لپاره په پوهېدو کې ستونزمنې وي، او مونږ وړانديز کوو چې هغه برخې له يوه لوی کس سره ولولئ. دغه لاربنود نسبتا اوږود هم دی، خو تاسو کولای شئ د محتوياتو مخکينی پاڼه وکاروئ تر څو يوازې هغه برخې ولولئ چې ستاسو لپاره اړوند وي، او د 'ګټورو سازمانونو او ادارو فهرست' څخه مرسته واخلئ تر څو د لاربنود هرې برخې ته چې وغواړئ لاړ شئ.

ستاسو حقونه د ملي، اروپايي او نړيوالو قوانينو او د آيرلنډ د اساسي قانون په واسطه تاکل شوي دي.

معمولاً ستاسو والدين يا پالونکی به ستاسو په استازيتوب ستاسو د ځينو حقونو څارنه کوي. که چېرې تاسو له والدينو څخه يو يا پالونکی نه لرئ چې مرسته درسره وکړي، تاسو کولای شئ بل داسې کس ومومئ چې ستاسو د والدينو په ځای ستاسو لپاره پرېکړه وکړي. دغه لاربنود همدارنګه هغه پوښتنې ځوابوي چې هغوی يې ښايي ستاسو د حقونو د خونديتوب په هکله ولري.

## دغه لاربنود نهه ساحې تر پوښښ لاندې نيسي

- برابر يا مساوي چلند
- تعليم
- روغتيا
- له ضرر څخه خونديتوب
- په کورنۍ کې حقونه
- مهاجرت
- په جزايي قانون او ګارډا (آيرلنډي پوليس) سره د معاملې په اړه حقونه
- ډيجيټلي حقونه
- د سرپناه حق

دغه لاربنود تاسو ته ښيي چې چېرې کولای شئ اضافي معلومات، مرسته يا ملاتړ ترلاسه کړئ. د ماشومانو او کوچنيو کسانو لپاره د ښې مشورې او مرستې ګڼې سرچينې شتون لري. د دغو سرچينو لېست په 10مه برخه کې پيلېږي: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟ د دغه لاربنود. که تاسو د خپلو حقونو په اړه ډېرو تفصيلي مشورو ته اړتيا لرئ، کولای شئ په دې اړه له وکيل سره خبرې وکړئ.

د ماشومانو په ائتلاف کې مونږ کولای شو تاسو ته داسې قانوني معلومات او مشورې درکړو چې ستاسو لپاره ګټورې وي. مونږ د تلفون له لارې وړيا قانوني معلومات چمتو کوو، او مونږ کولای شو زمونږ له داسې وکيل سره ستاسو ملاقات تنظيم کړو چې تاسو ته به ستاسو د حقونو په هکله وړيا قانوني مشورې درکوي.

## له موږ سره اړیکه ونیسئ:

تاسو کولای شئ په لاندې ذریعو له موږ سره د ماشومانو د حقونو په ائتلاف کې اړیکه ونیسئ:

- تلفون، 01-902 0494
- برېښنالیک، help@childrensrights.ie

په دغه لارښود کې ځینې داسې کلمې شته چې ښایي تاسو یې ونه پېژنئ. موږ دغه کلمې په راتلونکي پاڼه کې تشریح کړې دي.

د دې لارښود معلومات د 2022 کال تر جون پورې حقوقي پرمختګونه تر پوښښ لاندې نیسي.

## لاس اخیستنه

په دغه لارښود کې، زموږ موخه تاسو ته ستاسو د حقونو په اړه معلومات درکول دي. موږ خپله نهایي هڅه کړې ترڅو ډاډ ترلاسه کړو چې معلومات کره او تازه وي، خو دا کومه حقوقي مشوره نده.

# مهمې کلمې (د الف با د تورو په حساب) تشریح شوې دي

### لاسرسی
له دغو کلمو څخه هغه مهال استفاده کېږي کله چې تاسو له خپلو والدینو یا د کورنۍ له نورو غړو سره د اړیکو په اړه خبرې کوئ

- کله چې تاسو د پاملرنې لاندې یاست
- کله چې ستاسو والدین یوځای نه اوسېږي.

### په فرزندۍ د نیول شوو ماشومانو ثبت
که چېرې تاسو په فرزندۍ نیول شوي یاست، ستاسو په فرزندۍ نیول کېدل د فرزندي ماشومانو په ثبت (لېست) کې درج کېږي. دغه ثبت پاڼه ستاسو د کورنۍ په اړه چې تاسو يې په فرزندۍ نیولي یاست معلومات لري.

### فرزندي کورنۍ
فرزندي کورنۍ لږ تر لږه په فرزندۍ د یوه نیول شوي ماشوم لرونکي وي او لږ تر لږه یو له والدینو څخه چې چې ماشوم يې په فرزندۍ نیولی وي.

### پناه غوښتونکی
هغه چا ته ویل کېږي چې خپل اصلي ټاټوبی يې پرېښی وي او په بل هېواد کې د خوندیتوب په لټه کې وي.

### تولد کارټ
تولد کارټ لاندې موارد ښيي:


- ستاسو د زېږون نېټه او ځای
- ستاسو نوم
- ستاسو په والدینو کې د یو یا دواړو نومونه.



### مدیریتي پلاوی (په ښوونځي کې)
د هغو خلکو ډله چې ښوونځي اداره کوي. په دې کې په عام ډول لاندې موارد شاملېږي:

- والدین
- هغه خلک چې د ښوونکو استازیتوب کوي
- د ښوونځي مالکین.

د ښوونځي مدیر مدیریتي پلاوي ته راپور ورکوي.



### د پاملرنې حکم

د محکمې یو ډول حکم دی چې تاسو ته په Tusla ( د ماشوم او کورنۍ اېجنسۍ) کې د ماشوم یا ځوان کس په توګه ځای درکوي.

که چېرې تاسو تر پاملرنې لاندې یاست، تاسو به معمولاً له پالونکې کورنۍ یا د ماشومانو د هستوګنې په مرکز کې ژوند کوئ.

---



### خبرداری

د ګارډا له خوا خبرداری. کله چې یو کوچنی کس د جرم مسئولیت ومني، ګارډا کولای شي خبرداری وړاندې کړي. رسمي او غیر رسمي خبرداري شتون لري.

---

### د ماشومانو او کورنۍ اداره (Tusla)

دا یو ایالتي نهاد دی چې د ماشومانو د سلامتیا و پایلو د بهبود مسئولیت پرغاړه لري. دغه نهاد په لاندې برخو کې خدمات وړاندې کوي:

- د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې خدمتونه؛
- د تعلیمي هوساینې خدمتونه؛
- رواني خدمات؛
- بدیله پاملرنه؛
- د کورنۍ او د محل پر کچه د ټولنې ملاتړونه؛
- د لومړنیو کلونو خدمتونه؛
- د کورنۍ او جنسیت پر اساس تاوتریخوالي خدمات.

---



### سرپرستي

یوه اصطلاح چې د والدینو یا د بل بالغ شخص چې د والدینو په ځای عمل کوي (چې د والدینو پر ځای شخص ګڼل کېږي) د ماشوم د فزیکي پاملرنې او کنټرول حق ته اشاره کوي.

---

### د ایسټلو حکم

داسې یو حکم دی چې له غیر آیرلنډي تبعه څخه غوښتنه کوي چې له دغه هېواد څخه ووځي ځکه چې داسې پرېکړه شوې ده چې هغوی په آیرلنډ کې د اوسېدو حق نه لري.

---

### توقیف یا نیول

توقیف یا نیول هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې یو څوک باید په یوه مشخص ځای کې پاتې شي - معمولاً د یوې ځانګړې مودې لپاره. دا کېدی شي:

- په ښوونځي کې د غرمې پر مهال د انضباطي وسیلې په توګه وي
- په یوه توقیفي ښوونځي کې د جرم د جزا په توګه وي
- په یوه روغتون کې د رواني ناروغیو د درملنې لپاره د اجازې ورکولو په موخه وي.

### مستقیمه پاملرنه

دا د حکومت سیستم دی چې خلکو ته د ایرلینډ په هېواد کې د پناه غوښتنې د پرېکړې د تمې پر مهال د استوګنې او خوړو چمتو کول یقیني کوي.

### د تعلیمي هوساینې مسئول

هغه چاته ویل کېږي چې له ښوونځیو، ښوونکو او والدینو سره کار کوي ترڅو ماشومان په ښوونځي کې حاضرۍ ته تشویق کړي.

### اروپايي ټولنه (EU)

اروپايي ټولنه د 27 هېوادونو سیاسي، ټولنیزه او اقتصادي اتحادیه ده. هر غړی ایالت یو خپلواک هېواد ګڼل کېږي خو په دې توافق لري چې له ځینو عامو قوانینو او پالیسیو څخه به پیروي کوي.

### د ګارډا د کډوالۍ ملي دفتر (GNIB)

ګارډا (د پولیسو) اداره چې د آیرلنډ د کډوالۍ قوانینو د پلي کولو مسؤلیت لري. دغه اداره:

- د پولو څارنه کوي
- د غیر قانوني مهاجرت او انساني قاچاق په اړه پلټنې کوي
- د ایستلو او اخراج چارې ترسره کوي.



### سرپرست یا پالونکی

هغه چاته ویل کېږي چې د ماشوم په توګه ستاسو لپاره قانوني مسئولیت لري. دا معمولاً ستاسو له والدینو څخه یو یا دواړه وي. په هر صورت، دغه رول همدارنګه کېدی شي د لاندې کسانو له خوا ترسره شي:

- بل خپلوان
- سرپرست مراقبت کوونکی
- ټولنیز کارمند.

### سرپرست او لایتم (GAL)

هغه چاته ویل کېږي چې د محکمې له خوا د ماشوم د خوندیتوب لپاره یا د مراقبت او پاملرنې په مواردو کې ټاکل شوی وي ترڅو:

- دا یقیني کړي چې قاضي ستاسو نظریات اوري
- محکمې ته د هغه څه په اړه مشوره ورکوي چې ستاسو په ګټه وي.

### د روغتیایي خدمتونو اجرائیه ریاست (HSE)

یو ایالتي نهاد دی چې له لاندې سرچینو څخه په استفادې سره روغتیایي او شخصي ټولنیز خدمات وړاندې کوي:

- طبي متخصصین
- روغتونونه
- د ټولنې روغتیایي مرکزونه.

## مهاجرت

دا آیرلنډ ته د خلکو راتګ دی ترڅو زده کړې، کار یا د پناه غوښتنه وکړي.

## د آیرلنډ د تابعیت ترلاسه کولو او کډوالۍ خدمت (INIS)

د عدلیې وزارت د لاندې مواردو مسئولیت پر غاړه لري:

- پناه غوښتنه
- کډوالي
- تابعیت
- ویزې.

## د نویو ځوانانو د اړیکو مسئول (JLO)

عبارت له هغه ګارډا یا ساتونکي څخه دی چې د ګارډا د ځوانانو د انحراف د مخنیوي له پروګرام سره کار کوي. دا د فعالیتونو یو پروګرام دی چې له ماشومانو سره مرسته کوي، ترڅو بنه چلند وکړي او په دې توګه د قانون پر وړاندې له ستونزو څخه خوندي وي.

## کډوال

هغه څا ته ویل کېږي چې نوي هېواد یا سیمې ته کوچېږي. دا کېدی شي د لاندې موخو لپاره وي:



- کار
- زده کړه
- د کورنۍ وحدت
- خوندیتوب
- غوره فرصتونه
- د ژوند کولو غوره معیار.

## ازموینتي دوره

دا هغه ټاکنه ده چې بنایي محکمه یې په جرم مرتکب کس ته ورکړي. که چېرې تاسو په ازموینتي دوره کې یاست، نو تاسو باید ژمنه وکړئ چې بنه چلند به کوئ او د ازموینتي دورې په جریان کې به په جرم کې له ښکېل کېدو څخه ډډه کوئ.

## د پذیرش او ادغام اداره (RIA)

د عدلیې وزارت اداره چې د پناه غوښتونکو او نورو هغو کسانو لپاره چې په دولت کې د ساتنې غوښتنه کوي، د استوګنې ځای برابروي. د RIA اداره:

- پناه غوښتونکي د استوګنې په ځانګړو مرکزونو کې ځای پر ځای کوي.
- د هغوی لپاره د روغتیا او تعلیم خدمتونه تنظیموي
- د اروپایي ټولنې هېوادونو له بې وزله (ډېرو غریبو) اتباعو سره مرسته کوي، ترڅو خپل کور ته راستانه شي.

### کډوال

هغه چاته ویل کیږي چې د لاندې دلایلو د وېرې له امله یې خپل اصلي ټاټوبی پرېښی وي:

- نژاد
- مذهب
- ملیت
- په ځانګړي ټولنیز ګروپ کې غړیتوب
- ځکه چې ځانګړې سیاسي نظریه لري.

که چیرې څوک له دې ډول ځوروني سره مخ شوي وي، نو د عدلیې او مساواتو وزیر کولی شي هغوی د پناه غوښتونکي په توګه وپېژني.

### اعاده کوونکې عدل

دا د کډوالو د بېرته احیاء کېدو یوه طریقه ده چې له قربانیانو او ټولنې سره د "مصالحې" له لارې ترسره کیږي. د "اعاده کوونکي عدل" بیلګې به هغه ځایونه وي چیرې چې تاسو:

- له قرباني شوي کس څخه بښنه غواړئ
- د ټولنې کارونه ترسره کوئ.

### د پلټنې حکم

دا یو قانوني حکم دی چې عموماً د محکمې له خوا ورکول کیږي او ګارډا ته اجازه ورکوي چې د جرم د پلټنې په جریان کې یوه ودانۍ یا کور وپلټي.

### جدا شوی ماشوم

د بې سرپرسته ماشوم تعریف وګورئ.

### جنسي تمایل

دا هغه جنسیت ته اشاره کوي چې یو شخص ځان وربانديې پیژني او دغه جنسیت ته جنسي تمایل لري. دا کېدی شي هیتروسکشیوال (مستقیم)، ګې، لزبین یا بایسکشوال وي.

### ټولنیز کارمند

ټولنیز کارمند له هغو ماشومانو او کوچنیو کسانو سره مرسته کوي چې په خطر کې وي او خوندي نه وي. Tusla (د ماشوم او کورنۍ ایجنسي) ټولنیز کارمندان ګوماري، ترڅو له ماشومانو او کورنیو سره کار وکړي.

### وکیل

یو ډول وکیل دی چې تاسو ته حقوقي مشورې درکوي یا له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته کوي، ترڅو د محکمې په مخ کې یوې قضیې ته چمتووالی ونیسئ.



### د ځانګړي پاملرنې حکم

د محکمې هغه حکم دی چې کوچنی کس ته د محکمې په ځانګړې برخه کې ځای ورکوي، چې معمولاً د لنډې مودې لپاره وي.

### د ځانګړې مراقبت برخه یا یونټ

یو خوندي بند شوی استوګنځی (د اوسېدو ځای). ستره محکمه دلته هغه ماشومان یا ځوانان چې عمر یې د 11 تر 17 کلونو پورې وي، هغه وخت ځای پر ځای کوي کله چې دوی د خپلې روغتیا یا خوندیتوب لپاره ګواښ بلل کیږي.



### د ځانګړو اړتیاوو همکار (SNA)

د ښوونځي له خوا هغه ګومارل شوی کس دی چې په ټولګي کې له معلولیت لرونکو کسانو سره د هغوی د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته کوي.

### فرعي خوندیتوب

دغه خوندیتوب د ایالت له خوا ورکول کېږي. دا د هغو خلکو لپاره دی چې که چېرې خپل هېواد ته بېرته ستانه شي، نو د زیان او خطر سره مخ کیږي، خو هغه سخت معیارونه نه پوره کوي چې د پناه غوښتونکي وضعیت ترلاسه کړي.

### د هستوګنې ملاتړ شوي ځایونه

د 15 کلونو او لوړ عمر لرونکو ځوانانو لپاره داسې یو پروګرام دی چې هغوی ته په یوه کورنۍ چاپېریال کې استوګنه ورکوي. دا پروګرام له ځوانانو څخه ملاتړ کوي مخکې له دې چې هغوی مجبور شي یوازې ژوند وکړي.

### Tusla



Tusla د ماشوم او کورنۍ د حکومتي اداري نوم دی. دغه اداره د ماشومانو او د هغوی د کورنیو لپاره بېلابېلې مرستې او ملاتړ چمتو کوي.

د ماشوم او کورنۍ اداره وګورئ.

### بې سرپرسته ماشوم

که چېرې تاسو له 18 کلونو کم عمر لرئ او پخپله آیرلنډ ته راشئ یا که چېرې هغه مشر کس چې له تاسو سره راغلی او هېواد ته له داخلېدو وروسته تاسو پرېږدي، نو تاسو به د "بې سرپرسته ماشوم" په توګه وپېژندل شئ.

'جدا شوی ماشوم' وګورئ.

### ملګري ملتونه (UN)



ملګري ملتونه (UN) یو نړیوال سازمان دی چې موخه یې د هېوادونو ترمنځ د سولې او امنیت ټینګښت دی.

# معرفي

# له حقونو څخه زموږ مطلب څه دی؟

## بشري حقونه هغه قانوني قواعد دي چې دا په ګوته کوي چې دولت څنګه له تاسو سره تعامل وکړي.

دا حقونه باید د هرچا لپاره شتون ولري، پرته له دې چې د هغوی:

- جنسیت
- نژاد
- مذهب
- مدني حالیت یا د کورنۍ حالت
- جنسي تمایل
- عمر
- معلولیت
- د ټریولر ټولنې د غړي په توګه وضعیت څه دی.

د آیرلنډ حکومت د ملي او نړیوالو قوانینو لاندې ژمنه کړې ده چې د دولت په داخل کې د هر فرد حقوقو ته به درناوی کوي، ساتنه به یې کوي او رسیدګي به ورته کوي.

## زه کوم حقونه لرم؟

عموماً، ماشومان او ځوانان د لویانو په څېر ورته حقوق لري، پرته له ځینو ځانګړو برخو لکه د رایې ورکولو. تاسو ځانګړي اضافي حقوق هم لرئ لکه په فرزندۍ د نیولو حق. دا ځکه چې ماشومان او ځوان کسان له لویانو څخه متفاوتې اړتیاوې لري.

## دا به څوک یقیني کوي چې زما حقونو ته درناوی کېږي؟

د آیرلنډ دولت باید د حکومت له لارې دا یقیني کړي چې ستاسو حقونو ته درناوی کېږي. دا دنده په قانون کې د لاندې مرجع لخوا ټاکل شوې ده:

- د آیرلنډ اساسي قانون (چې په آیرلنډ کې د Bunreacht na hÉireann په نامه یادیږي)
- د بشري حقونو په اړه اروپایي کمیسیون (ECHR)
- د ماشومانو د حقونو په اړه د ملګرو ملتونو (UN) میثاق (CRC)

ټول حکومتي نهادونه باید ستاسو حقونو ته درناوی ولري. په دې کې لاندې نهادونه شاملیږي:

- An Garda Síochána (د پولیسو ځواک)
- ښوونځي
- روغتیایي خدمتونه.

## آیا زه د دې حق لرم چې غږ مې واورېدل شي یا خپل ځان څرګند کړم؟

هو، تاسو د دې حق لرئ چې هغه وخت مو غږ واورېدل شي کله چې خلک ستاسو یا هغه څه په اړه پرېکړې کوي چې په تاسو باندې اغېز کوي. که چېرې تاسو د دې فرصت ونه لرئ چې غږ مو واورېدل شي، نو بیا تاسو کوای شئ پوښتنه وکړئ چې څنګه دا کار وکړئ.


حتی کوچني ماشومان او هغه ماشومان چې خبرې نه کوي، کوای شي خپل نظریات د هنر او تخلیقي لوبو له لارې څرګند کړي.

لویان باید د پرېکړو د ترسره کولو پر مهال ستاسو نظریات په پام کې ونیسي.

## آیا زه د قانون له نظره ماشوم یم؟

د قانون په اساس، که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو څخه ټیټ وي او واده مو نه وي کړی، نو تاسو ماشوم ګڼل کېږئ. دا تاسو ته د قانون له مخې بېلابېل خوندیتوبونه درکوي. په هر صوت، دا همدارنګه په دې مانا هم دی چې تاسو داسې ځانګړي کارونه نه شئ ترسره کولی چې لویان یې ترسره کوي، لکه رایه ورکول یا حد اقل مزد ترلاسه کول.

په دې لارښود کې "کوچنیو کسانو" ته اشاره د 13 تر 17 کلونو عمر لرونکو کسانو ته اشاره ده.




## پالونکی یا سرپرست څوک دی؟

هغه چاته ویل کېږي چې ستاسو لپاره تصامیم نیسي. دا معمولاً یو یا دواړه ستاسو والدین دي. دغه رول همدارنګه کېدی شي د لاندې کسانو له خوا ترسره شي:

- بل لوی کس
- کوم خپلوان
- سرپرست مراقبت کوونکی
- ټولنیز کارمند.

# زه څنګه له خپلو حقونو استفاده وکړم؟

تاسو کولی شئ له خپلو ځینو حقونو څخه پخپله استفاده وکړئ. په هر صورت، ځینې وختونه ستاسو والدین یا ستاسو پالونکی باید له تاسو سره مرسته وکړي. که چیرې تاسو د خپلو حقونو په هکله پوښتنې لرئ او دا چې څنګه یې باید وکاروئ، نو تاسو کولی شئ:

- د ماشومانو د حقونو د ائتلاف معلوماتي کرښې ته په 0494 902-01 شمېره زنګ ووهئ
- برېښنالیک help@childrensrights.ie.

ماشومان او ځوانان اکثره پر لویانو تکیه کوي، ترڅو د هغوی حقوق وساتي. ستاسو والدین یا پالونکی مسئولیت لري، ترڅو له تاسو سره د خپلو حقونو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي. د بېلګې په توګه، هغوی باید تاسو ته خواړه، سرپناه او طبی مراقبت چمتو کړي او له ضرر څخه مو خوندي کړي.

ستاسو والدین یا پالونکی همدارنګه قانوني حق لري چې داسې پرېکړې وکړي چې پر تاسو باندې اغېز کوي، مثلا:

- تاسو به څه ډول ښوونځي ته ځئ
- تاسو به څه ډول طبي درملنه ترلاسه کوئ.

ستاسو والدین او پالونکی همدارنګه ښایي تاسو ته د ځانګړو کارونو د ترسره کولو اجازه درکړي، لکه:

- د پاسپورټ ترلاسه کول
- ورزشي کلپ ته تلل
- د ښوونځي په سفر تلل.

په ځینو قانوني چارو کې، لکه د ماشومانو د محافظت، د کورنیو قوانینو او په فرزندۍ د ماشوم د نیولو په قضیو کې ماشوم د دې قانوني حق لري چې نظر یې واورېدل شي او په پام کې ونیول شي. دا ځکه چې داسې مهمې پرېکړې نیول کیږي چې د هغوی په ژوند تاثیر لري.

## زه څنګه کولای شم شکایت وکړم یا د یوې ستونزې په اړه راپور ورکړم؟

که چېرې تاسو فکر کوئ چې د کوم سازمان له خوا ناسم چلند درسره کېږي، نو کولی شئ شکایت وکړئ. تاسو به د دغه لاربنود په جریان کې داسې بېلګې ووینئ چې څنګه دا ترسره کړئ. که څه هم هغه سازمان چې تاسو ورته شکایت کوئ د شکایت د موضوع پر اساس توپیر لري، خو ځینې ګټورې مشورې شته چې تاسو کولای شئ پرته له دې چې چاته شکایت وکړئ، ویې کاروئ.

### لومړی ګام: د مضوع تفصیلات ولیکئ

د هغه څه تفصیلات ولیکئ چې پېښ شوي دي. دا غوره ده چې د پېښې نېټه، وخت او ځای ولیکئ. تاسو باید همدارنګه د ښکېل کس نوم ولیکئ.

### دویم ګام: له اړونده خدمت سره خبرې وکړئ

تاسو کولی شئ چې له هغه چا سره خبرې وکړئ چې ورسره په اړیکه کې یاست یا د مدیر د لیدو غوښتنه وکړئ. تاسو باید دا یادداشت کړئ چې له چا سره مو خبرې کړې دي او هغو څه ځواب درکړی دی.

### درېیم ګام: رسمي شکایت وکړئ

- په لیکلي ډول شکایت وکړئ او د شکایت یوه کاپي د خپلو سوابقو لپاره وساتئ
- په مختصر ډول څرګند دا کړئ چې څه پېښ شوي دي
- د امکان تر حده یې مختصر او واضح کړئ
- پر اصلي ستونزو باندې تمرکز وکړئ

تاسو باید دا هم څرګنده کړئ چې تاسو غواړئ هغه شخص ستاسو د شکایت د حل لپاره څه وکړي. تاسو باید د ټولو هغو لیکونو کاپیانې وساتئ چې استوئ یې او دا یقیني کړئ چې نېټه ورباندې ولیکئ.

### څلورم ګام: اړونده نهاد ته شکایت وکړئ

که چېرې اړونده شخص یا ډله ستاسو شکایت ته رسیدګي ونه کړي، نو تاسو کولی شئ اړونده قانوني نهاد ته شکایت وکړئ، که چېرې ستاسو د شکایت د ډول لپاره کوم قانوني نهاد شتون ولري. د بېلګې په توګه، د ماشومانو لپاره د شکایتونو مسئول یا د آیرلنډ د بشري حقونو او د برابرښت کمیسیون.

که چېرې تاسو د لاربنود اړونده برخه وګورئ، نو تاسو به ومومئ چې چاته باید شکایت وکړئ.

که چېرې تاسو هر ډول مرستې یا لارښوونې ته اړتیا لرئ، نو تاسو کولی شئ زموږ د قانوني معلوماتو د کرښې له لارې د ماشومانو د حقونو له ائتلاف سره اړیکه ونیسئ:

- تلفون، 01-902 0494
- برېښنالیک help@childrensrights.ie.

# زه څنګه کولی شم وړیا حقوقي مشورو ته لاسرسی ولرم؟

په آیرلنډ کې خلک کولی شي د حقوقي مرستو د بورډ له لارې حقوقي مرستو ته لاسرسی ولري. تاسو کولی شئ د والدینو یا پالونکي له لارې یوازې مدني حقوقي مرستو ته لاسرسی ولرئ. په ځینو حالاتو کې به د قانوني مرستې بورډ له یوه ماشوم څخه په هغه صورت کې غوښتنلیک ومني چې که چېرې دوی فکر وکړي چې تاسو کافي کچه بلوغ ته رسېدلي یاست.

د ماشومانو په ائتلاف کې موږ کولی شو تاسو ته داسې قانوني معلومات او مشورې درکړو چې کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي. موږ د تلفون له لارې وړیا قانوني معلومات چمتو کوو، او موږ کولای شو زموږ له داسې وکیل سره ستاسو ملاقات تنظیم کړو چې تاسو ته به ستاسو د حقونو په هکله وړیا قانوني مشورې درکوي.

## له موږ سره اړیکه ونیسئ:

تاسو کولای شئ په لاندې ذریعو له موږ سره د ماشومانو د حقونو په ائتلاف کې اړیکه ونیسئ:

- ټلیفون: 01-902 0494
- برېښنالیک: help@childrensrights.ie



# زما حق چي برابر چلند راسره وشي، شمولیت ولرم او خپله پریکړي وکړم





1

د ماشوم یا ځوان کس په توګه تاسو د دې حق لرئ چې برابر او مساوي چلند درسره وشي. ستاسو عمر او ځینو قانوني محدودیتونو ته په پام سره تاسو حق لرئ چې د خپلې ټولنې په ژوند کې برخه واخلئ، په کار کې ګډون وکړئ او په هغو مسایلو کې چې په تاسو پورې اړه لري خپل خپلواکه انتخابونه وکړئ.

په دې برخه کې موږ ځیني له دغو حقونو څخه تشریح کوو. موږ همدارنګه یو جدول وړاندې کوو چې ځیني هغه شیان ښیي چې تاسو کولی شئ د عمر په مختلفو پړاوونو کې یې ترسره کړئ.

## 1.1 برابر یا مساوي چلند

## برابرښت یا مساوي چلند څه شی دی؟

برابر چلند دا دی چې هر څوک یو شان ارزښت لري او باید په درناوي سره چلند ورسره وشي.

تبعیض هغه وخت پیښیږي کله چې له تاسو سره د یوه بل کس په پرتله په ورته وضعیت کې د لاندې دلایلو له امله مختلف یا لږ مناسب چلند کیږي:

ستاسو جنسیت: که چیرې د بېلګې په توګه، تاسو خپل ځان د هلک یا جینۍ په توګه معرفي کوئ. تبعیض کېدی شي ستاسو د جنسیتي هویت پراساس وي، چې ستاسو د داخلي ژور احساس په توګه ښځه، نارینه یا بل هویت لکه غیر باینري په توګه پیژندل کیږي. دا کېدی شي ستاسو د جنسیت د څرګندولو پراساس هم وي، چې تاسو د خپلو جامو، وېښتو یا غږ له لارې خپل جنسیت څرګندوئ.

**ستاسو مدني حالت:** دا چې تاسو واده یاست یا نه یاست یا د مدني اړیکو لرونکي یاست که نه.

**ستاسو د کورنۍ وضعیت:** د بېلګې په توګه که چیرې تاسو:

- امېدواره یاست
- د یوه ماشوم والد یا والده یاست
- د معلولیت لرونکي کس پالونکی یاست
- داسې څوک یاست چې کورنۍ نه لرئ.

**جنسي تمایل:** که چیرې تاسو د مثال په توګه، هتروسکشوال (مستقیم)، ګې، لزبین یا بایسکشوال یاست یا نه.

**ستاسو مذهب**، یا د مذهبي عقیدې نه لرل.

**ستاسو عمر**، (دا معمولاً یوازې په هغو کسانو باندې اعمالیږي چې عمر یې 18 کاله یا لوړ وي).

**ستاسو معلولیت -** که چیرې تاسو د معلولیت لرونکي یاست، نو له تاسو سره باید مساوي چلند وشي.

**ستاسو نژاد**، توکمیزه سابقه، ملیت یا رنګ.

**دا چې تاسو د ټریولر ټولنې غړي** یاست یا نه یاست.

دغه شخصي ځانګړني د "تبعیض د اساساتو" په نوم پیژندل کیږي. تاسو هم د دې حق لرئ چې له ضرر څخه خوندي وئ. په آزار او ځورونه کې توهین آمیزه تبصرې او متني پیغامونه یا فزیکي کارونه لکه خلکو ته زور ورکول یا ټکول شاملیږي.

غیرمستقیم تبعیض هغه وخت پیښیږي کله چې له یوه شخص سره د نورو خلکو په پرتله لږ ښه چلند کیږي ځکه چې داسې غوښتنې شتون لري چې دوی به یې د نورو په پرتله د پوره کولو لپاره سختې وګڼي.

تاسو حق لرئ چې له تبعیض څخه هغه وخت وساتل شئ کله چې تاسو:

- په ښوونځي کې یاست
- کوم څه پیرئ یا پلورئ
- د بس په څیر خدمتونه کاروئ
- د ځوانانو په ګروپ یا ورزشي ګروپ کې غړیتوب لرئ
- په کار کې یاست.

ځیني وختونه تبعیض د لاندې دلایلو له امله پیښیږي:

- منفي چلندونه
- کلیشه
- عقاید، لکه توکم پالنه.

## که چیرې داسې احساس وکړم چې تبعیضي چلند راسره شوی دی، نو څه کولی شم؟

### د کاري ساحې د اړیکو کمیسیون

که چیرې تاسو احساس کوئ چې محصولاتو او خدمتونو ته د لاسرسي پر مهال یا په تعلیم یا کار کې ستاسو پر وړاندې د پورته ذکر شوو برخو پراساس تبعیض شوی دی، نو تاسو کولای شئ د کاري ساحې د اړیکو کمیسیون (WRC) ته شکایت وکړئ.

WRC ته د شکایت کولو لپاره تاسو باید لومړی هغه شخص یا شرکت خبر کړئ چې تاسو غواړئ پرې شکایت وکړئ. تاسو باید دغه کار له پیښې وروسته په دوو میاشتو کې د ننه ترسره کړئ. WRC په خپله ویب پاڼه کې د شکایت کولو په اړه نور معلومات لري، 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چیرې تللای شم؟ د ډیرو معلوماتو لپاره. WRC به یوه قانوني اړینه پریکړه ورکړي چې هڅه به وکړي ستاسو وضعیت حل کړي. په ځینو مواردو کې تاسو ښایي حق الزحمه ترلاسه کړئ.

### د آیرلنډ د بشري حقونو او مساویتوب کمیسیون

تاسو کولی شئ د معلوماتو او لارښوونو لپاره د آیرلنډ د بشري حقونو او د مساویتوب له کمیسیون سره اړیکه ونیسئ (10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چیرې تللای شم؟ یا د اړیکو معلومات).

### والدین، پالونکی یا ملاتړی سازمان

تاسو باید له خپلو والدینو یا سرپرست څخه ملاتړ وغواړئ یا د هغو ملاتړو سازمانونو د مرستې په لټه کې شئ چې د دې لارښود په پای کې ذکر شوي دي.

# که چیرې داسې وانګېرم چې د نژاد، جنسي تمایل، جنسیت یا مذهب په اساس د تبعیض قرباني یم، نو څه به کیږي؟

تاسو حق لرئ چې د ګواښونو، بدنامو او توهین کوونکو خبرو او چلندونو څخه چې ترسره کیږي، د خوندیتوب حق ولرئ:

- هغه که مخامخ وي یا آنلاین
- په نشراتو کې
- په ننداره
- یا په نورو موادو کې وي.

که چیرې تاسو فکر کوئ چې د دې ډول چلند قرباني یاست، نو تاسو کولی شئ له ګارډا سره په 112 یا 999 شمېره اړیکه ونیسئ او د جرم په توګه یې راپور کړئ.

دا د هغه چا لپاره د جرم ارتکاب دی چې:

- تاسو په فزیکي ډول ګواښي
- په دوامدار ډول مو ځوروي
- په جنسي ډول مو ځوروي
- د هر دلیل له امله جدي زیان درته اړوي..

دا هم جرم دی چې که څوک ستاسو مال زیانمن کړي یا د زیان رسولو ګواښ وکړي. بیاځلې، تاسو کوای شئ په دې اړه ګارډا ته راپور ورکړئ.

# 1.2 په ټولنه کې ګډون

## په کوم عمر کې کولای شم رایه ورکړم؟

تاسو کولای شئ له 18 کلنۍ څخه رایه ورکړئ. که چیرې تاسو 18 کلن یا د لوړ عمر لرونکی او د آیرلنډ تبعه یاست، نو تاسو کولای شئ په ټولو ټاکنو او ټولپوښتنو کې رایه ورکړئ. که چیرې تاسو په آیرلنډ کې اوسیږئ، اما د آیرلنډ تبعه نه یاست، نو تاسو په ځینو ټاکنو کې د ګډون حق لرئ. د رایې ورکولو لپاره تاسو باید دا یقیني کړئ چې ستاسو نوم د رایو د ثبت په کتاب (د هغو کسانو په لیست کې چې کولای شي رایه ورکړي) شتون لري. د ټاکنو د ثبت په کتاب کې د خپل نوم د ثبتولو لپاره تاسو کولای شئ د غوښتنلیک فورمه ترلاسه کړئ:

- ټولې محلي ادارې
- پستي دفتر
- عامه کتابتونونه
- www.checktheregister.ie.

تاسو باید خپله ډکه شوې فورمه خپلې محلي ادارې ته وسپارئ.

## که چیرې زما عمر له 18 کلونو ټیټ وي، نو آیا کولی شم په پریکړو کې برخه واخلم؟

### Comhairle na nÓg

تاسو کولی شئ په خپله ټولنه کې په پریکړو کې برخه واخلئ. د بېلګې په توګه، Comhairle na nÓg د محلي ځوانانو شوراګانې لري چې په هېواد کې د محلي نهاد په کچه لیدنې سره کوي. هغوی ماشومانو او کوچنیو کسانو ته فرصت ورکوي ترڅو په هغو مسائلو کې په پریکړو کې دخیل شي چې پر هغوی باندې اغېز کوي.

په دې باندې د پوهاوي لپاره چې څنګه دخیل شئ، د Comhairle وېب پاڼه وګورئ

په هرو دوو کلونو کې هر Comhairle na nÓg خپل استازي Dáil na nÓg ته استوي، د 12 او 18 کلونو تر منځ ماشومانو لپاره ملي پارلمان. دا یو غوره فرصت دی، ترڅو خپلې اندېښنې سیاسیونو او نورو پرېکړه کوونکو ته راجع کړئ.

### د اروپایي ټولنې د ځوانانو ډیالوګ

د اروپايي ټولنې د ځوانانو د ډیالوګ موخه د اروپايي ټولنې پالیسۍ جوړوونکو ته د ځوانانو د غږ وړاندې کول دي. په آیرلنډ کې د اروپايي ټولنې د ځوانانو د ډیالوګ پروګرام د آیرلنډ د ملي ځوانانو شورا (NYCI) لخوا د ځوانو غړونو پروګرام له لارې وړاندې کیږي. د لازیاتو معلوماتو لپاره د NYCI وېب پاڼه وګورئ.

### ملي ستراتيژي

د 2015-2020 کلونو لپاره د ماشومانو او ځوانانو په پریکړو کې د ګډون د ملي ستراتیژۍ موخه دا ده چې ډاډ ترلاسه کړي چې ماشومان او ځوانان په خپل ورځني ژوند کې خپل غږ پورته کوي. دا پر هغو ساحو باندې تمرکز کوي چېرې چې ماشومان او ځوان کسان په هغو پرېکړو کې د خپلو غړونو د پورته کولو مستحق دي چې د هغوی پر ژوند باندې اغېز کوي. په دې کې د لاندې مواردو اړوند تنظیمات شاملېږي:

- ټولنه
- زده کړه
- روغتیا او سلامتیا
- قانوني تنظیمات.

خو، دا په مختلفو حکومتي وزارتونو او ادارو پورې اړه لري چې دا پلي کړي.

### Hub na nÓg



د ماشومانو، مساواتو، معلولیت، ادغام او ځوانانو وزارت د ځوانانو د ګډون ملاتړ ټیم لري. هغوی د Foróige او د یوت ورک آیرلنډ په ګډې همکارۍ سره Hub na nÓg’ (د ځوانانو مرکز) رامنځ ته کړی دی. د دې موخه دا ده چې ماشومانو او ځوانانو ته د خپلو غږونو د پورته کولو فرصت ورکړي او ګڼ شمېر سرچینې لري چې تاسو یې ګټوري موندلی شئ.

تاسو کولی شئ د ځایي ماشومانو او ځوانانو له سازمانونو سره یوځای شئ، ترڅو په فعالیتونو کې ګډون وکړئ او په خپله ځایي ټولنه کې توپیر رامنځ کړئ. د دغه لارښود په پای کې د سازمانونو لېست وګورئ.

## آیا زه اجازه لرم چې په خپل ګاونډ کې وګرځم؟

تاسو د دې حق لرئ چې په خپل ګاونډ کې وګرځئ او د خپلې ټولنې له مرکزونو څخه استفاده وکړئ. په ټولنه کې د لویانو، ماشومانو او ځوانانو په ګډون هر څوک باید د قانون په چوکاټ کې عمل وکړي. که چیرې په ټولنه کې د خلکو چلند مزاحمت جوړوونکی وي، نو تاسو کولی شئ په دې اړه شکایت وکړئ. په ورته توګه نور خلک هم حق لري چې په هغه صورت کې شکایت وکړي چې که چېرې د هغوی لپاره ستاسو چلند مزاحمت جوړوونکی وي.

که چېرې ګارډا ته زنګ ووهل شي، نو هغوی کولی شي له تاسو څخه وغواړي چې مخ ته لاړ شئ. تاسو د دې حق لرئ چې د ګارډا له خوا سم چلند درسره وشي. که چېرې ګارډا له تاسو سره ناسم چلند وکړي، نو تاسو کولی شئ د Garda Síochána د شکایاتو کمیسیون ته شکایت وکړئ. 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟ د ډېرو معلوماتو لپاره.

# آیا زه حق لرم چې تفریحی تسهیلاتو، دوکانونو او د خریداری مرکزونو ته ورشم؟

هو، تاسو لویانو ته ورته حق لرئ چې دوکانونو، د خریداری مرکزونو، تفریحی تسهیلاتو یا بل هر عام ځای ته ورشئ. مالک یا مدیر حق لري چې تاسو ته په هغه صورت کې د داخلېدو اجازه درنه کړي چې که دوی ستاسو د چلند په اړه اندېښمن وي، لکه څنګه چې دوی کولی شي دا حق د لویانو لپاره هم وکاروي. خو، هغوی نه شي کولی چې د تبعیضي دلایلو له امله ستاسو د داخلېدو د اجازې مخه ونیسي (دغه تبعیضي دلایل په 1 برخه کې ذکر شوي: زما حق چې برابر چلند راسره وشي، شمولیت ولرم او خپله پرېکړې وکړم

تاسو کیدی شي د خپل عمر پر اساس شراب خاني ته له داخلېدو څخه منع شئ. که چېرې ستاسو عمر تر 15 کلونو ټیټ وي، نو تاسو باید خپل والدین یا پالونکی له ځان سره ولرئ. که چېرې مو عمر له 15 کلونو څخه لوړ وي، نو اړ نه یاست چې خپل والدین یا پالونکی له ځان سره ولرئ، اما تاسو یوازې د شپې تر 9 بجو پورې پاتې کېدی شئ. دا غیر قانوني کار دی چې تر 18 کلونو د ټیټ عمر لرونکی کس شراب وپېري.



# 1.3 پرېکړې ترسره کول: مواد

که چېرې غواړئ له موادو څخه د استفادې په اړه خبرې وکړئ یا ملاتړ ته اړتیا لرئ، نو یو شمېر داسې ګروپونه شتون لري چې د هېواد په کچه غیر قضایي مرستې او ملاتړ چمتو کوي. د مرستې ترلاسه کول ښایي سخت احساس شي، خو داسې خلک شته چې کولی شي د دې پروسې له لارې ستاسو ملاتړ وکړي. تاسو کولی شئ معلومات ترلاسه کړئ 10مه برخه: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟.

## آیا زه د شرابو د پېرودلو حق لرم؟



نه. دا یو غیر قانوني کار دی چې تر 18 کلونو د کم عمر کسان الکول وپېري یا یې له ځان سره ولري.

## آیا زه د سګرټو د پېرودلو حق لرم؟

نه. دا یو غیر قانوني کار دی چې یو دوکان له 18 کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکي کس باندې سګرېټ وپلوري، حتی که هغوی یې د کوم بل چا لپاره پېري.

## آیا زه له نشه یي توکو څخه د استفادې حق لرم؟

هېڅوک نه شي کولی په آیرلنډ کې نشه یي توکي وکاروي.

په نشه یي توکو کې چرس، هیروئین، اکستازي او کوکائین شاملېږي اما په دې مواردو سره نه محدودېږي. که چېرې تاسو نه شه یي توکي کاروئ، نو کولی شئ ملاتړ او مرسته ترلاسه کړئ. د لازیاتو معلوماتو او ملاتړ لپاره Drugs.ie ته مراجعه وکړئ.

په ځینو محدودو شرایطو کې خلک کولی شي د ځانګړو طبي حالتونو د درملنې لپاره د طبي حشیشو د ترلاسه کولو غوښتنلیک ورکړي. په دې اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره له خپل عمومي (ډاکټر) سره اړیکه ونیسئ.

# 1.4 پرېکړې ترسره کول: جنسي اړیکي

## چېرې کولی شئ د جنسي اړيکو او ارتباطاتو په هکله معلومات ترلاسه کړم؟

دا مهمه ده چې تاسو ته د جنسي اړیکو او ارتباطاتو په اړه معلوماتو او زده کړې ته لاسرسی ولرئ، ترڅو تاسو د پرېکړې پر مهال بشپړ معلومات ولرئ. دې ته آګاهانه تصمیم وايي. دغه معلومات باید کره، خپلواک او ساینسي شواهدو په اساس وي. تاسو کولی شئ د جنسي اړیکو او ارتباطاطو په اړه بې پلوه او حقیقي معلومات په لاندې پته ومومئ:

- B4UDecide
- SpunOut.ie
- BeLonGTo In The Know Course

10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرته تللی شم؟ د ډېرو معلوماتو لپاره.

## د جنسي اړیکي رضایت څه دی؟

رضایت یا توافق هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې خلک په ګډه توافق وکړي چې هغوی غواړي جنسي اړیکه ولري یا کوم جنسي عمل ترسره کړي. په دې کې ښکلول او په جنسي ډول لمسول شاملېږي.

## تاسو کولی شئ هر وخت نه ووایاست

توافق یوازې هغه مهال توافق ګڼل کېږي چې تاسو په خپله خوښه کړی وي او تاسو مجبور شوي نه یاست چې هو ووایئ. دا ډېره مهمه ده چې پوه شئ چې حتی که تاسو په لومړي سر کې د جنسي اړیکو یا جنسي عمل ترسره کولو لپاره موافقه ورکړئ، نو تاسو په بشپړه توګه آزاد یاست چې خپل ذهن بدل کړئ مخکې له دې چې پیل وکړئ یا هر وخت مخکې له دې چې جنسي اړیکه مو ختمه شي. که چېرې کوم چا "نه" نه وي ویلي یا د جنسي عمل پر وړاندې يې مقاومت نه وي کړی، نو دا معنی نه لري چې هغوی موافقه ورکړې ده.




ځینې داسې شرایط شتون لري چې یو شخص نه شي کولی آزاد او داوطلبانه توافق ورکړي. په دې کې لاندې موارد شاملېږي:

### a) کله چې له زور څخه کار اخیستل کېږي

یو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې توافق ورکړي که چېرې هغوی:

- په زور مجبور شوي وي چې په جنسي فعالیت کې برخه واخلي.
- یو شخص ته د جبر یا زور په وسیله ګواښ وشي چې که د جنسي فعالیت ته رضایت ورنکړي، نو دا ګواښ د هغه یا بل شخص پر ضد کېږي.

- یو شخص د دې لپاره ښه دلیل ولري چې وډار شي چې که دوی د جنسي فعالیت لپاره رضایت ورنه کړي، نو پر دوی یا بل شخص به زور او جبر وکارول شي.

### b) ویده یا بې هوښه

یو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعالیت توافق وکړي که چېرې ویده یا بې هوښه وي.

### c) د الکولو او نشه يي توکو تر اغېز لاندې

یو شخص ښایي ونه شي کولی د الکولو د اغېز یا نورو هغه نشه يي توکو د اغېز له امله چې کارولي يې دي، د جنسي فعالیت توافق وکړي.

### d) نه شي کولی توافق وکړي

یو شخص کیدی شي د جنسي فعالیت لپاره د موافقې وړ نه وي ځکه چې یو فزیکي معلولیت لري چې دوی ته اجازه نه ورکوي چې څرګند کړي چې ایا دوی موافقه لري یا نه.

### e) نه شي کولی پوه شي

یو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعالیت لپاره وړیا او رضاکارانه موافقه ورکړي که چیرې دوی د عمل په ماهیت او هدف نه پوهیږي.

### f) غلط هویت

یو شخص د جنسي فعالیت لپاره په هغه صورت کې موافقه نه ورکوي چې که چیرې هغوی په جنسي عمل کې د بل شخص هویت غلط پیژندلی وي (یعني که دوی باور لري چې په جنسي عمل کې ګډون کوونکی کس بل څوک دی).

### g) بل شخص هم دا خبره کوي

یو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعالیت لپاره وړیا یا رضاکارانه موافقه ورکړي چې که چیرې د موافقې یواځینی ښه د بل شخص لخوا ورکړل شي (یو شخص وایي چې بل شخص موافقه لري).

### h) نه يې شي پرېښودلی

یو شخص نه شي کولی د جنسي فعالیت لپاره وړیا او رضاکارانه موافقه ورکړي که چیرې دوی د خپلې ارادې خلاف بې له کوم مناسب دلیل څخه له تللو څخه منع شي.

### نور دلایل

کېدی شي نور حالتونه هم وي چیرې چې د جنسي فعالیت لپاره وړیا او رضاکارانه موافقه نه شي ورکول کیدای، خو دا هغه ځینې عام حالتونه دي.

## په کوم عمر کې کولی شم د جنسي اړیکو د لرلو توافق وکړم؟

د قانون په اساس، تاسو کولی شئ په 17 کلنی کې د جنسي اړیکې توافق وکړئ. په دې کې مهمه نه ده چې جنسي تمایل مو څه دی یا له جنسي اړخه له کوم جنسیت یا جنسیتونو سره فعال یئ.

قانون هم دا پیژني چې ځوانان کولی شي یو له بل سره جنسي فعالیت وکړي او دعمر نږدېوالي د دفاع یو میکانیزم معرفي کړی دی. دا په دې مانا دی چې که یو شخص له یوه 15 تر 17 کلونو عمر لرونکي شخص سره د جنسي عمل کولو په تور محاکمه شي، نو دوی کولی شي د عمر د نږدېوالي دفاع وړاندې کړي، خو یوازې په هغه صورت کې چې:

- د دوو کسانو تر منځ د عمر توپیر دوه کاله یا لږ وي
- توافق په آزادانه او داوطلبانه ډول شوی وي
- هیڅ یو شخص نه وي احساس کړي چې سوء استفاده ترې شوې یا ویرول شوی وي.
- هیڅ یو شخص د واک یا اقتدار په حالت کې نه وي.

## په کوم عمر کې کولی شم د جنسي روغتیا د درملنې لپاره موافقه وکړم؟

که چېرې تاسو له 16 کلونو څخه زیات عمر لرئ، نو تاسو کولی شئ د طبي درملنې لپاره رضایت ورکړئ، په دې کې ټولې هغه ازمویني یا درملنې شاملې دي چې تاسو د جنسي روغتیا لپاره اړتیا ورته لرئ، لکه د STI (جنسي انتقالېدونکي انتان) ازموینه یا د سهار وروسته ګولی.

که چېرې تاسو د جنسي روغتیا په هکله معلوماتو او مشورې ته اړتیا لرئ، نو 3 برخې ته مراجعه وکړئ: د روغتیا اړوند زما حق



# 1.5 جنسيتي هويت

## جنسيتي هويت څه شی دی؟

جنسيتي هويت د يو شخص هغه ژوره داخلي پيژندنه ده چي خپل ځان د ښځې، نارينه يا بل جنسيت لکه غير باينري په توګه احساسوي. دا کېدی شي هغه جنسيت ته ورته وي چې هغوی د زيږون پر مهال ورباندې نومول شوي دي.

## ترانسجندر يا ترانس څه معنا لري؟

ترانسجندر يا ترانس يوه عمومي اصطلاح ده چي د هغو کسانو لپاره کارول کيږي چي د هغوی جنسيتي پيژندنه يا د جنسيت څرګندونه له هغه جنسيت څخه توپير لري چې دوی ته د زيږون پر مهال ورکړل شوی و.

## جنسيتي څرګنده څه ته وايي؟

جنسيتي څرګندونه يعني دا چي خلک څنګه خپل جنسيت د جامو، ويښتو، غږ او نورو لارو څرګندوي.

## ولې جنسيتي پيژندنه مهمه ده؟

جنسيتي پيژندنه ځکه مهمه ده چي دا يوه شخص ته اجازه ورکوي، ترڅو په خپل سم جنسيت سره په بشپړه توګه او قانوني توګه وپيژندل شي.

## آيا زه د دې حق لرم چې زما جنسيتي هويت وپيژندل شي؟

تاسو په هر سن کي خپل جنسيتي هويت ټاکلی شئ. په هر حال، د دې لپاره چې ستاسو جنسيت قانوناً وپيژندل شي، نو د 18 کلونو نه لوړ خلک کولای شي خپله جنسيتي پيژندنه اعلان کړي، خو د 16 او 17 کلونو کسان بايد يوه مختلفه پروسه طی مراحل کړي. قانون تر 16 کلونو د ټيټ عمر کسان تر پوښښ لاندې نه نيسي.

د يوه ځوان کس لپاره چې خپله جنسيتي پيژندنه يي په قانوني ډول معرفي کړي وي، هغوی بايد د جنسيتي پيژندني تصديقنامي لپاره د کورنی حوزوي محکمي ته درخواست وکړي. محکمه به دغه ستونزه په شخصي ډول واوري. دا يو وړيا خدمت دی. که ستاسو والدين يا سرپرست د درخواست لپاره رضايت ورکړي، نو محکمه به درخواست منظور کړي. محکمه همدارنګه کولای شي درخواست د والدينو له توافق پرته منظور کړي که چېرې

- ستاسو والدين يا پالونکی نشي پيژندل کېدلای
- ستاسو والدين يا پالونکي ونشي کولای د توافق لپاره غوښتنه ځواب کړي
- دا به ستاسو په ګټه نه وي چې له هغوی څخه غوښتنه وکړئ ځکه دا به ستاسو خونديتوب او هوسا‌ينه په خطر کي واچوي.

تاسو بايد د درخواست کولو لپاره له طبي متخصصينو څخه تصديقليک ترلاسه کړئ.

# زه چېرې کولای شم مرسته، مشوره یا ملاتړ ترلاسه کړم؟

که تاسو مشورې او ملاتړ ته اړتیا لرئ، تاسو کولای شئ له TENI BeLonG To Youth Service، د ترنسجند د برابرۍ له شبکې، یا LGBT Ireland سره اړیکه ونیسئ 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د تفصیلاتو لپاره.



# 1.7 په کوم عمر کې کولای شم مختلف کارونه ترسره کړم؟؟

| | |
|---|---|
| **روغتیايي پرېکړې وکړئ** | |
| **له ډاکتر ښځه خصوصي طبي مشورې ترلاسه کړئ.** | که چېرې تاسو 16 کاله عمر لرئ، خو ډاکټر کولی شي ستاسو تر 18 کلنۍ پورې ستاسو معلومات ستاسو له والدینو یا سرپرست سره شریک کړي. |
| **طبي درملنه (له رواني روغتیا پرته) د خپلو والدینو یا پالونکي له اجازې پرته ترلاسه کړئ.** | عمر 16. |
| **د رواني روغتیا درملنه د خپلو والدینو یا پالونکي له اجازې پرته ترلاسه کړئ.** | عمر 18. |
| **طبي درملنه د خپلو والدینو یا پالونکي له اجازې پرته رد کړئ.** | عمر 18. |
| **وینه ورکړئ.** | عمر 18. |
| **له جنسي پلوه فعال اوسئ** | |
| **د جنسي اړیکي لپاره توافق.** | عمر 17. |
| **ډریوري** | |
| **موټرسایکل، موپېډ یا تراکتور وچلوئ.** | عمر 16. |
| **موټر وچلوئ.** | عمر 17. |
| **د پیلوټۍ جواز واخلئ.** | عمر 16. |

| | |
|---|---|
| **د جرم لپاره مسئول اوسئ** | |
| **د جرم د ارتکاب په صورت کې به توقیف شئ او محکمې ته به حاضر کړل شئ.** | 12 کاله عمر (یا 10 کاله عمر د جدي جرم لپاره). |
| **د ماشومانو د توقیف ښوونځي ته به استول کیږئ.** | له 10 تر 17 کلونو عمر |
| **زندان ته به استول کیږئ.** | 18 کاله یا لوړ عمر. |
| **مختلف شیان به پیرئ** | |
| **سپی به ولرئ.** | عمر 16. |
| **د لاټرۍ ټیکټ به اخلئ یا به شرط تړئ.** | عمر 18. |
| **سګرټ به پیرئ.** | عمر 18. |
| **شراب به پیرئ.** | عمر 18. |
| **په شرابخانه کې به وئ.** | • تر 15 کلونو کم – یوازې د والدینو یا سرپرست په شتون کې او د سهار 10:30 بجو څخه (د یکشنبې په ورځ 12:30) د ماښام تر 9:00 بجو پورې.<br><br>• له 15 تر 18 - د سهار د 10.30 (په یکشنبه د ماسپښین له 12.30 او د سهار د 9.00 بجو ترمنځ. |
| **خپلو سوابقو ته به لاسرسی ولرم** | |

| | |
|---|---|
| **تعلیمي او روغتیایي سوابقو ته به لاسرسی ولرم.** | عمر 18.<br>کله چي ستاسو عمر تر 18 کلونو تیټ وي، نو ستاسو والدین یا پالونکی ښایي ستاسو په استازیتوب ستاسو سوابقو ته لاسرسی ولري. |
| **د جنسیتي هویت د تصدیقپاڼي لپاره به درخواست کوئ** | |
| تاسو کولی شئ د 16 کلنی په عمر د جنسیتي هویت تصدیقپاڼي ته درخواست وکړئ. | |
| **د موټر د ماشومانو له څوکی پرته سفر (د ماشوم د منعي سیستم)** | |
| تاسو باید د خپل ماشوم لپاره هغه د موټر څوکی وکاروئ چي د هغوی له قد او وزن سره مناسبه وي تر څو هغوی 150 سانتي متره قد یا 36 کیلوګرامه وزن ته ونه رسیږي. | |

# 1.8 له حد اقل عمر پرته

## د ځينو شيانو لپاره په قانون کې د عمر محدوديت شتون نلري.

. په دې کې لاندې موارد شامليږي:

- د عريضې لاسليکول
- ټکسي نيول
- ټټو يا خال وهل ( ډېرى ځايونه د عمر ځانګړي محدوديتونه لري)
- په کور کې يوازې پاتې کېدل
- ماشوم پالنه
- له سپي پرته د نورو کورنيو ژويو لرل (لکه کب، پيشو يا ګينه خرس).

## آيا والدين مې کولی شي ما په کور کې يوازې پرېږدي؟

د قانون په اساس دا نده څرګنده چې ستاسو والدين په کوم عمر کې کولی شي تاسو په کور کې يوازې پرېږدي. دا ستاسو په والدينو يا پالونکي پورې اړه لري چې په دې هکله پرېکړه وکړي. هغه مقدار څارنه چې ښايي تاسو اړتيا ورته ولرئ په لاندې مواردو پورې اړه لري:

- ستاسو عمر، پوخوالی او وړتيا چې خپل ځان ته پاملرنه وکړئ
- دا چې نږدې نور لويان شتون لري کنه
- دا چې څو ځله او د څومره مودې لپاره تاسو په کور کې يوازې پاتې کېږئ

د ځوانو ماشومانو او زيانمنونکو ځوانانو په اړه نور قوانين يا غوره کړنلارې تطبيق کيږي. د بېلګې په توګه، والدين کولی شي د ماشومانو د بې پامۍ په تور محاکمه شي که چيرې هغوی يو ځوان ماشوم يوازې په کور کې پريږدي يا ماشوم په داسې حالت کې واچوي چې د هغه روغتيا يا امنيت ته خطر پيښ شي.

## په کوم عمر کې کولی شم ماشوم پالنه وکړم؟

دا ستاسو په والدينو يا پالونکي پورې اړه لري چې پرېکړه وکړي. تاسو بايد په کافي اندازه پخوالي ته رسېدلي وئ، ترڅو د کوچنيو ماشومانو اړتياوې پوره کړئ او په سمه توګه ځواب ويلو ته چمتو شئ که چېرې مو په کور کې کومه ناڅاپي پېښه رامنځ ته شي. د بېلګې په توګه، که چيرې اور لګېدلی وي يا يو ناپيژندلی کس د دروازې زنګ ووهي. په بريتانيا کې د ماشومانو د ظلم د مخنيوي لپاره ملي ټولنه (NSPCC) سپارښتنه کوي چې د ماشومانو پالونکي کسان بايد لږ تر لږه 16 کاله عمر ولري.

# د تعلیم اړوند
# زما حق

2

# 2.1 عمومِ

## آیا زه د تعلیم حق لرم؟

هو. په آیرلنډ کې ټول اوسېدونکي خلک د دې حق لري چې لومړنیو زده کړو ته لاسرسی ولري. دغه حق د آیرلنډ د اساس قانون په واسطه خوندي شوی دی.

حکومت مکلف دی چې دا یقیني کړي چې په آیرلنډ کې هر ځوک د تعلیم یو ځانګړی معیار او کچه ترلاسه کړي چې د هغوی له اړتیاوو او وړتیاوو سره سمون ولري. دا حق عموماً د ابتدایي او ثانوي کچې تعلیم پوښښ ګڼل کیږي.



# 2.2 لومړنۍ زده کړې او پاملرنه او د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو پاملرنه

## د لومړني ښوونځي د پیل څخه مخکې د ماشومانو لپاره کومې لومړنۍ زده کړې او پاملرنې شتون لري؟

د لومړنیو زده کړو او پاملرنې دېرى خدمتونه په ټول هیواد کې فعالیت کوي. په دې کې هغه پاملرنه شامله ده چې د چا په کور کې نه وي ورکړل شوې، لکه وړکتونونه، نرسرې؛ یا د کور پر بنسټ د ماشومانو پالنځایونه.

د لومړنیو زده کړو او پاملرنې خدمتونه ممکن په شخصي ډول د کټې ترلاسه کولو لپاره مخ ته یوړل شي؛ پداسې حال کې چې د ټولنې پر بنسټ خدمات په غیر انتفاعي ډول وړاندې کېږي.

ټولې هغه لومړنۍ زده کړې او د پاملرنې خدمتونه چې د کور څخه بهر وړاندې کېږي، باید د Tusla د لومړنیو کلونو د تفتیش اداري سره ثبت شي.

د ثبت شوو خدمتونو د لېست د لیدو لپاره د Tusla وېب پاڼې‌ته وګورئ.

د ماشومانو د پاملرنې اصلي ډولونه چې له کور څخه د باندې وړاندې کیږي عبارت دي له:

- بشپړه ورځ - په ورځ کې تر پنځه ساعته دېر
- نیمه ورځ - تر 3.5 ساعته دېر اما په ورځ کې تر پنځه ساعته کم
- فصلي - حد اکثر 3.5 ساعته په ورځ کې..

که چېرې تاسو غواړئ ډېر معلومات ترلاسه کړئ یا تاسو ته د نږدې مرکز یا د ماشومانو د پالنځای په موندلو کې مرستې ته اړتیا لرئ، نو تاسو کولی شئ له خپل ځایي ښار یا د ناحیې د ماشومانو د پاملرنې له کمیټې سره اړیکه ونیسئ، 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د تفصیلاتو لپاره.

## د ماشومتوب د لومړۍ دورې د پاملرنې او تعلیم پروګرام (ECCE) یا ’فري پریسکول‘ څه شی دی؟

د ماشومتوب د لومړۍ دورې د پاملرنې او تعلیم پروګرام (ECCE) د ’فري پریسکول‘ په نامه هم یادیږي. دا همدارنګه د ټولو ماشومانو لپاره له ښوونځي د مخکې زده کړو ځایونه چمتو کوي:

- د دوو کلونو او اتو میاشتو ترمنځ عمر لرونکي ماشومان تر هغې پورې چې لومړني ښوونځی پیلوي، یا
- دا چې تر پنځو کلونو او شپږو میاشتو ډېر عمر ونه لري.

دا د والدینو لپاره وړیا دی.

نرسرۍ ته داخله پر دې اساس ده چې ستاسو د ماشوم د زیږون نېټه د پروګرام کال سره څنګه تړاو لري. دغه تعلیمي کال له سپټمبر تر جون پورې دی. هغه عمر چې ستاسو ماشوم یې په سپټمبر کې لري دا په ګوته کوي چې آیا تاسو نرسرۍ ته تللای شئ کنه. په دې باندې د پوهېدو لپاره چې آیا او کله ستاسو ماشوم په شرایطو برابر دی، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو، برابرۍ، معلولیت او ځوانانو وزارت ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

دغه پروژه ستاسو ماشوم ته اجازه ورکوي چې په وړیا ډول داسې یوې نرسرۍ ته ورشي چې د Tusla د نرسرۍ په ثبت شوي خدمت کې برخه اخلي. هغوی کولی شي هره ورځ درې ساعته، پنځه ورځې په هفته کې، د کال 38 اوونیو لپاره لاړ شي.

که چېرې ستاسو ماشوم د اضافي ساعتونو لپاره د ماشوم د پالنې په خدمتونو کې ګډون وکړي، نو تاسو باید د دې اضافي ساعتونو لپاره په معمول ډول پیسې ورکړئ. چمتو کونکي کولی شي د ماشوم لپاره د ECCE پروګرام ځای ساتلو لپاره د بیرته ورکولو وړ ډیپازټ غوښتنه وکړي.

که چېرې تاسو غواړئ ډېر معلومات ترلاسه کړئ چې څنګه پروګرام ته لاسرسی پیدا کړئ، نو تاسو کولی شئ له خپل ځایي ښار یا د ناحیې د ماشومانو د پاملرنې له کمیټې سره اړیکه ونیسئ، 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د تفصیلاتو لپاره.

## د لومړني ښوونځي د پیل وروسته د ماشومانو لپاره کوم د پاملرنې خدمات شتون لري؟

د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره تنظیم شوې پاملرنه په مختلفو ځایونو کې وړاندې کیږي:

- د ماشومانو د پاملرنې مرکزونه کولی شي له زیږون څخه تر 15 کلونو پورې ماشومانو ته پاملرنه وړاندې کړي
- د ماشوم پالونکي کور
- ځینې د ماشومانو د پاملرنې خدمتونه یوازې د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره وړاندې کیږي.

د مرکز پر بنسټ خدمتونه کیدی شي په ښوونځي کې یا له ښوونځي څخه د باندې وړاندې شي. تمه کېږي چې د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره د پاملرنې خدمت به وکولی شي له ښوونځي وروسته او د ښوونځي په غیر رسمي وختونو کې د ماشومانو اړتیاوې د استراحت، آرام او تفریح لپاره پوره کړي.

د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره د پاملرنې خدمات ممکن په شخصي توګه د ګټې ترلاسه کولو لپاره مخ ته یوړل شي، یا د ټولنې پر بنسټ وي چې د غیر انتفاعي اهدافو لپاره مخ ته وړل کېږي. ځینې مرکزونه به ماشومان له ښوونځي وروسته د پاملرنې مرکز ته راولي. په دې هکله د معلوماتو لپاره چې کوم خدمتونه شتون لري، نو تاسو باید په دې هکله د خدمتونو له خپل چمتو کوونکي سره خبرې وکړئ.

که چېرې تاسو غواړئ ډېر معلومات ترلاسه کړئ یا د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو لپاره د پاملرنې د خدماتو د موندلو په هکله مرستې ته اړتیا لرئ، تاسو کولای شئ له خپل ځایي ښار یا د ناحیې د ماشومانو د پاملرنې له کمیټې سره اړیکه ونیسئ، 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د تفصیلاتو لپاره.

## کومو مالي مرستو ته کولی شم لاسرسی ولرم، تر څو د خپل ماشوم د لومړنیو زده کړو او پاملرنې یا د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو د پاملرنې د خدمتونو له فیسونو سره مرسته وکړم؟

(له ښوونځي مخکې) ECCE پروګرام وړیا دی. والدین اړ نه دي چې په دې کې ونډه واخلي، اما دا چې هغوی اضافي ساعتونو ته اړتیا ولري.

د ماشومانو ملي سبسایډی شتون لري، ترڅو والدین د خپل ماشوم د لومړنیو زده کړو او پاملرنې یا د ښوونځي د عمر لرونکو ماشومانو د پاملرنې د خدماتو د فیسونو په ادا کولو کې مرسته وکړي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ماشوم د مراقبت د ملي پروګرام ویب پاڼه وګورئ.

## که چېرې زما ماشوم د معلولیت لرونکی وي، څه ډول اضافي ملاتړ شتون لري؟

د لاسرسي او شمولیت موډل (AIM) داسي ملاتړ چمتو کوي چې د معلولیت لرونکو کسانو د پیاوړتیا لپاره طراحي شوی دی ترڅو:

- د ماشومانو د لومړۍ دورې د پاملرنې او تعلیم پروګرام (ECCE) ته په عامه نرسریو کې لاسرسی وکړئ.
- د نورو ماشومانو سره په بشپړه توګه ګډون وکړي.

د AIM موډل د ماشوم د اړتیاوو پراساس ځانګړي، عملي ملاتړونه وړاندي کوي او د معلولیت رسمي تشخیص ته اړتیا نلري.

تاسو کولی شئ د AIM ملاتړ ته د نرسرۍ د خپل ښوونځي له لارې درخواست وکړئ. هغوی کولی شي، ستاسو په همکارۍ، د ماشوم لپاره د AIM د هدف وړ ملاتړونو غوښتنه وکړي.

د AIM په اړه معلومات او لارښود ستاسو د ځایي ښار او ناحیې د ماشومانو پاملرنې کمیټي او د AIM ویبپاڼې څخه ترلاسه کیدی شي.

## که چیرې زه د ماشومتوب د لومړۍ دورې پاملرنې او تعلیم یا د ښوونځي د عمر ماشومانو د پاملرنې د خدماتو په اړه کومه اندیښنه یا شکایت ولرم، نو زه چیرته تللی شم؟

د ماشومانو د پاملرنې د خدمت چمتو کوونکی باید شکایات مدیریت کړي او ویې څېړي. د امکان په صورت کې تاسو باید خپل شکایت په مستقیم ډول دوی ته راوړئ.

ستاسو د لومړنیو زده کړو او پاملرنې چمتو کوونکی باید د شکایتونو لپاره یوه هر اړخیزه او جامع پالیسي ولري. دغه پالیسي به دا په ګوته کړي چې ستاسو اندېښنې به څنګه مدیریت کېږي. که چیرې تاسو شکایت لرئ، باید:

- د شکایاتو د پالیسۍ د یوې کاپۍ غوښتنه وکړئ
- خپلې اندېښنې په لیکلې بڼه د ماشوم د پاملرنې چمتو کوونکي ته وړاندې کړئ
- غوښتنه وکړئ چې د ماشوم د پاملرنې چمتو کوونکی لکه څنګه چې پالیسۍ څرګنده شوې ستاسو اندېښنو ته رسیدګي وکړي.

تاسو ښایي د هغوی له ځواب څخه ناخوښ یاست یا داسې احساس کوئ چې نشئ کولی ستونزه په مستقیم ډول خپل د خدماتو چمتو کوونکي ته راجع کړئ. که چیرې داسې وي، نو تاسو کولی شئ د Tusla د لومړنیو کلونو د تفتیش له اداري سره د تیلیفون له لارې یا د Tusla په ویب پاڼه کې د فورمې په ډکولو سره اړیکه ونیسئ.

د Tusla د لومړنیو کلونو د تفتیش اداره به تاسو ته خبر درکړي چې هغوی ستاسو شکایت ترلاسه کړی دی او دا به درته څرګنده کړي چې ایا هغوی ستاسو اندېښنه منلې ده کنه. د تفتیش اداره د فردي اندیښنو یا شکایاتو پلټنه نه کوي، نو تاسو به د خپلې ځانګړې ستونزې په اړه کومه پایله یا پرېکړه ترلاسه نه کړئ. هغه معلومات چې تاسو یې د تفتیش اداري ته لیږئ، له هغوی سره به د خدمتونو د تفتیش او څېړنې پر مهال مرسته وکړي چې آیا خدمات د قوانینو مطابق وړاندې کېږي کنه.

## که چیرې زه د ماشومتوب د لومړۍ دورې په زده کړو او مراقبت کې، یا د ښوونځي د عمر د ماشوم پالنې په خدماتو کې د خوندیتوب او هوساینې په اړه اندېښنې ولرم، نو چیرته تللی شم؟

که چیرې تاسو د ماشوم د خوندیتوب او هوساینې په اړه هر ډول اندېښنې لرئ، باید په Tusla کې د کار له خپل محلي ټولنیز دفتر سره اړیکه ونیسئ. 4 مه برخه وګورئ: له ضرر څخه د خوندیتوب په اړه زما حق، د ډېرو تفصیلاتو لپاره.

# 2.3 د ښوونځي حاضري

## آیا زه باید ښوونځي ته لاړ شم؟

هو. تاسو باید له شپږو کالو څخه تر 16 کلونو پورې ښوونځي ته ولاړ شئ یا تر هغه وخته پورې چې د ثانوي زده کړو درې کلونه بشپړ کړئ، هر کوم چې ژر واقع کېږي. یوازینی استثنی دا ده که چېرې تاسو په کور کې زده کړې کوئ. تاسو باید د ښوونیز کال په پیل کې لږترلږه څلور کلن وي چې ښوونځی پیل کړئ.

## آیا زده د دې حق لرم چې په کور کې تعلیم راکړل شي؟

ستاسو والدین او پالونکی کولی شي پرېکړه وکړي چې تاسو ته په کور کې تعلیم درکړي. د دې کار د ترسره کولو لپاره هغوی باید تاسو د Tusla د بدیلو زده کړو د ارزونې او نوملیکنې له خدماتو سره ثبت کړي. دغه خدمت به ستاسو له والدینو یا پالونکې سره کار کوي، ترڅو دا یقیني کړي چې ستاسو زده کړې اړین معیارونه پوره کوي. تاسو کولی شئ په دې اړه لازیات معلومات د Tusla پر وېب پاڼه ومومئ.

## آیا زه باید ښوونځي ته هره ورځ لاړ شم؟

هو. ستاسو والدین یا پالونکی باید ډاډ حاصل کړي چې تاسو هره ورځ ښوونځي ته ځئ. هغوی باید ښوونځي ته ووایي او په هغه صورت کې دلیل وړاندې کړي چې که پوهیږي چې تاسو به غیرحاضري کوئ یا کله چې له غیرحاضرۍ څخه بیرته راستانه شئ.

## که چېرې زه ناروغ شم یا د کوم بل دلیل له امله ښوونځي ته لاړ نه شم، نو څه به کیږي؟

که چېرې تاسو ونه شئ کولی ښوونځي ته لاړ شئ، نو ستاسو والدین یا پالونکی باید له ښوونځي سره اړیکه ونیسي، غوره ده اړیکه په لیکلې بڼه وي، چې ولې نشئ کولی ښوونځي ته راشئ. ټول ښوونځي د حاضرۍ ستراتیژي لري. که چېرې ستاسو ښوونځی ستاسو د حاضرۍ په اړه اندېښنه لري، نو هغوی به په دغه ستراتیژۍ کې شته ګامونه تعقیب کړي. د اړتیا په صورت کې به هغوی ستاسو غیرحاضري د Tusla د تعلیم او هوساینې خدمت ته راجع کړي.

که چېرې تاسو په یوه ښوونیز کال کې 20 ورځې یا ډېره غیرحاضري ولرئ یا که چېرې ښوونځی اندېښنه ولري چې ستاسو غیرحاضري ډېره ده، نو ښوونځی باید د Tusla د تعلیم او هوساینې خدمتونو ته خبر ورکړي. که چېرې ستاسو د غیرحاضرۍ لپاره واضح دلیل نه وي، نو اداره بنایي یو څوک درواستوي، ترڅو ستاسو له والدینو یا سرپرست سره وګوري او د ښوونځي د حاضرۍ د بهبود لپاره یوه لاره پیدا کړي.



# 2.4 د ښوونځي د داخلې انتخاب او داخله

## آیا زه کولی شم دا انتخاب وکړم چې کوم ښوونځي ته غواړم لاړ شم؟

تاسو د دې حق نه لرئ چې پرېکړه وکړئ چې کوم ښوونځي ته لاړ شئ. ستاسو والدین یا پالونکی به معمولاً پرېکړه کوي چې کوم ښوونځي ته درخواست وکړي.

## آیا ښوونځی باید ما ومني؟

تاسو مطلق حق نه لرئ چې د خپلو والدینو د خوښې ښوونځي ته ورشئ، خو دولت باید ستاسو کور ته نږدې ستاسو لپاره داسې ښوونځي ته لاسرسی برابر کړي چې د والدینو یا سرپرست د دیني عقایدو سره سمون ولري. ښوونځي د ځای د نشتون په صورت کې باید ماشومانو ته داخله ورنه کړي. ښوونځي باید د ځای د ورکړې پر مهال د ښوونځي د داخلې پالیسي تعقیب کړي.

## زده کوونکو ته د داخلې د ورکړې پر مهال ښوونځي باید کوم قوانین تعقیب کړي؟

هر ښوونځی باید د داخلې داسې پالیسي ولري چې د خلکو لپاره د لاسرسي وړ وي. په عمومي توګه ښوونځی نه شي کولی تاسو د لاندې مساواتو پر بنسټ له داخلې څخه منع کړي:

- جنسیت
- ستاسو د والدینو مدني حالت
- د کورنی وضعیت، د بېلګې په توګه که تاسو د یوه والد کورنی برخه یاست
- جنسي تمایل
- مذهب
- معلولیت
- نژاد
- د ټریولر ټولنې غړیتوب.

ځینې استثناوې شتون لري. د بېلګې په توګه د نجونو ښوونځي یوازې نجونو ته داخله ورکوي. ورته پالیسي د هلکانو د ښوونځیو لپاره اعمالیږي. ښوونځي نور نه شي کولی چې دین د منلو لپاره د انتخاب معیار وټاکي، حتی که چېرې د هغوی ځای ډک وي، مګر هغه ښوونځي چې د اقلیتي دینونو لکه د ایرلند کلیسا، یهودي یا اسلامي دینونو لپاره مذهبي زده کړې ورکوي، کولی شي دې ته اجازه ولري، ځکه چې دا ډول ښوونځیو ته لاسرسی ستونزمنوي.

## زه څنګه درخواست وکړم چې خپل ماشوم ته په ښوونځي کې نوملیکنه وکړم؟

تاسو د ښوونیز کال په جریان کې کولی شئ هر وخت د ښوونځي د ځای لپاره درخواست وکړئ. تاسو همېشه باید د اداري پلاوي سکرتریت ته په لیکلې بڼه درخواست وکړئ. که چېرې ښوونځي د درخواست فورمه ولري، نو تاسو باید له دې فورمې څخه په استفادې سره درخواست وکړئ - دا کېدی شي یو آنلاین فورم وي. تاسو باید همېشه غوښتنلیک ته نېټه ورکړئ او د غوښتنلیک او هر هغه اسناد چې تاسو یې وړاندې کوئ، یوه کاپي وساتئ.

## که چېرې په ښوونځي کې زما د ماشوم نوملیکنه رد شي آیا د دې حق لرم چې شکایت وکړم؟

هو. یو ښوونځی یوازې په هغه صورت کې کولی شي د ماشوم د منلو څخه انکار وکړي چې د ښوونځي د داخلې د خپرې شوې پالیسۍ په اساس وي. یو ښوونځی نه شي کولی د پورته ذکر شوو مساواتو پر بنسټ یوه ماشوم ته د داخلې له ورکولو څخه انکار وکړي.

که چېرې ښوونځی له دې څخه انکار وکړي چې ستاسو ماشوم ته داخله ورکړي، نو تاسو کولی شئ د ښوونځي مدیره پلاوي ته د استیناف غوښتنه وکړئ. که چېرې دا نتیجه ورنه کړي، نو تاسو کولی شئ د پوهنې وزارت عمومي سکرتیت ته مو د استیناف غوښتنه وړاندې کړئ.

د ماشوم او کورنۍ د تعلیم او رفاه خدمت د ټولو هغو والدینو یا سرپرستانو لپاره شتون لري چې غواړي د استیناف غوښتنه وکړي. تاسو کولی شئ د آیرلنډ د بشري حقونو او مساواتو له کمیسیون څخه هم مرسته وغواړئ، ترڅو د کاري ځای د اړیکو کمیسیون یا د ماشومانو لپاره د شکایتونو مسئول ته شکایت وکړئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د ښوونې وزارت وېب پاڼه وګورئ.


# 2.5 د ښوونځي نصاب او آزموينې

## ځوک پرېکړه کوي چې زه به په ښوونځي کې څه زده کوم؟

د پوهنې وزير ښوونيز نصاب ټاکي ( هغه مضامين چې تدريس کېږي به). هغوی د نصاب د ارزونې د ملي شورا مشورې په پام کې نيسي. ستاسو ښوونځی او ښوونکي دا پرېکړه کوي چې تاسو به هره ورځ په ښوونځي کې له نصاب څخه زده کړې کوئ. د ښوونځي له ځانګړې روحيې څخه رامنځته شوی نصاب بايد په لومړني ښوونځي کې هره ورځ 30 دقيقې تدريس شي، د بېلګې په توګه مذهب. پټرن، هغه بنسټ چې ښوونځی جوړوي، پرېکړه کوي چې دا بايد څه ډول محتوی وي.

## آيا زه دا حق لرم چې په ښوونځي کې خپل د خوښې مضامين انتخاب کړم؟

په ښوونځي کې ستاسو د لومړيو اتو کلونو (له کوچني نوزېږي څخه تر شپږم ټولګي پورې) لپاره به تاسو ټاکلی نصاب لولئ.



په منځيو زده کړو کې به تاسو وکولی شئ چې له نصاب څخه ځانګړي مضامين انتخاب کړئ. په هر صورت تاسو بايد انګليسي، رياضيات او آيرلنډي ژبه ولولئ. تاسو کولی شئ په ځانګړو شرايطو کې د آيرلنډي ژبې د زده کړې معافيت ترلاسه کړئ. د لازياتو معلوماتو لپاره د آنلاين نصاب ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

## آيا زه بايد په ښوونځي کې مذهب ولولم؟

نه، اما تاسو بايد مذهب ولولئ، مګر دا چې ستاسو والدين يا پالونکی ووايي چې دا کار مه کوئ. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو لوړ وي، نو تاسو کولی خپله د ځان لپاره پرېکړه وکړئ. که چېرې تاسو د خپل ښوونځي مذهب شريک نه کړئ، يا د کوم مذهب پيروي نه کوئ، نو تاسو بايد مذهبي زده کړو ته لاړ نه شئ. ستاسو والدين يا پالونکی کولی شي له تاسو غوښتنه وکړي چې په دغه ټولګي کې برخه مه اخلئ او ښوونځی بايد په اړه موافق وي.

که چېرې تاسو د خپل ښوونځي د مذهب خلاف د بل مذهب پيروي کوئ، نو ښوونځی به تاسو تو ستاسو د مذهب زده کړې چمتو نکړي.

د هغو کسانو لپاره چې مذهبي زده کړې نه غواړي، د ټولنې له لومړنيو زده کړو وروسته ښوونځيو او د ښوونې او روزنې د بورډ (ETB) پخواني ښوونځي بايد يو يا څو بديل مضامين وړاندې کړي. ښوونځی بايد والدينو ته خبر ورکړي چې داسې بديل تدريس شتون لري. له تاسو او ستاسو له والدينو بايد غوښتنه وشي چې د مذهبي تعليم او ښوونځي لخوا د وړانديز شوي بديل مضمون يا مضامينو ترمنځ انتخاب وکړي.

## آیا زه باید کورنۍ دنده ترسره کړم؟

هو. هر ښوونځي د کورنۍ دندې لپاره خپل ځانګړي قوانین او پالیسۍ لري او د زده کوونکي په توګه تاسو باید د خپل ښوونځي قوانین او پالیسۍ تعقیب کړئ.

## آیا زه باید آزموینې او امتحانونه ترسره کړم؟

تاسو باید د ښوونځي قوانین او پالیسۍ تعقیب کړئ او په دې کې ښايي د آزمیونو او امتحانونو ترسره کول شامل وي. د لومړنیو زده کړو زده کوونکي به په 2م، 4م، او 6م ټولګیو کې د لوست او ریاضي په برخه کې معیاري آزموینې ورکوي. قانون نه وايي چې تاسو باید د کوچنیانو د تصدیقپاڼي او د منځنیو زده کړو د فراغت د تصدیقپاڼي آزموینې ورکړئ. په هر صورت، د پرېښودو تصدیقپاڼه د دریمې کچې تعلیم (پوهنتونونو او دریمې کچې کالجونو) ته د داخلیدو تر ټولو عامه لاره ده.

نورې تعلیمي ګزینې هم شتون لري لکه:

- لکه د تطبیق وړ د پرېښودو تصدیقپاڼه
- د کیفیت او مدارکو آیرلنډ (QQI) انعامونه
- نور کورسونه او د لاسرسي پروګرامونه.

که چېرې تاسو په کور کې زده کړه کوئ، نو تاسو ته د رسمي آزموینو لکه د کوچنۍ یا د پرېښودو تصدیقپاڼې د آزموینې اخیستل اړین نه دي، خو تاسو کولای شئ خپلو والدینو یا سرپرست ته ووایاست چې ستاسو لپاره دا آزموینې ترتیب کړي. تاسو کولی شي اضافي معلومات د ایالتي آزموینو د کمیسیون پر ویب پاڼه ومومئ.

## آیا زه کولی شم د کوچنۍ یا د پرېښودو د تصدیقپاڼو د آزموینو نتیجې ونه منم که چېرې فکر وکړم چې نامناسبې دي؟

هو. د کوچنیانو د تصدیقپاڼې په یوه مضمون کې د پایلې د نه منلو لپاره له خپل ښوونځي سره خبرې وکړئ چې هغوی به ستاسو لپاره د آیالتي آزموینو کمیسیون ته درخواست وکړي. د پرېښودو د تصدیقپاڼې په مضمون کې د نتایجو د نه منلو لپاره تاسو باید:

- د نه منلو یا استیناف د غوښتنې فورمه چې کولی شئ له خپل ښوونځي څخه یې ترلاسه کړئ، ډکه کړئ
- فورمې د ایالتي آزموینو کمیسیون ته واستوئ.


د دواړو آزموینو لپاره د هر هغه مضمون لپاره چې غواړئ نتایج یې ونه منئ فیس شتون لري.

# 2.6 د زده کوونکو شوراګانې

د زده کړو شوراګانې دویمه کچه زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې د ښوونځي د مدیریت، کارکوونکو او والدینو سره د ښوونځي او زده کوونکو د ګټې لپاره همکاري وکړي.

## آیا زه کولی شم په خپل ښوونځي کې د زده کوونکو شورا جوړه کړم؟

هو. له ابتدايي زده کړو وروسته د ښوونځیو زده کوونکي حق لري چې د زده کړو شورا ګانې جوړې کړي او د دې لپاره له ښوونځي څخه مرسته ترلاسه کړي. د ښوونې او روزنې د وزارت ویب پاڼه د زده کړو شوراګانو په اړه یوه د سرچینو کڅوړه لري چې ښايي تاسو يې ګټوره وموموئ.



# 2.7 د ښوونځي نظم

## که چېرې زه په ښوونځي کې له ستونزې سره مخ شم څه به کوم؟

که چېرې تاسو په ښوونځي کې له ستونزو سره مخ شئ، نو ستاسو ښوونځی باید داسې یو سیستم ولري چې تاسو یې تعقیب کړئ. که چېرې زده کوونکي په ټولګي کې مزاحمت کوي یا له قوانینو څخه سرغړونه کوي، اړونده سیستم باید له هغوی سره مناسب چلند وکړي. د هر ښوونځي مدیره پلاوی باید زده کوونکو لپاره د چلند کوډ ولري. د چلند کوډ هغه قواعد توضیح کوي چې تاسو یې باید په ښوونځي کې د شتون پر مهال تعقیب کړئ. دا به همدارنګه څرګنده کړي چې که چېرې تاسو د ښوونځي قوانین تعقیب نکړئ، نو څه به کېږي.

ستاسو ښوونځی به د نوملیکنې پر مهال تاسو او ستاسو والدینو یا پالونکي ته د زده کوونکو د چلند د کوډ یوه کاپي درکړي. ښوونځی ښایي ستاسو له والدینو یا پالونکي څخه غوښتنه وکړي، ترڅو په لیکلي بڼه دا تایید کړي چې هغوی له کوډ سره موافق دي او هغوی به له تاسو سره هر ډول ممکنه مرسته وکړي ترڅو له قوانینو څخه پیروي وکړئ.

که چېرې تاسو په ښوونځي کې ستونزه رامنځته کړئ، نو ښوونځی ښایي ستاسو لپاره ځینې ګزینې په پام کې ونیسي، لکه:

- توقیف - تاسو باید د غرمې د ډوډۍ د وخت په جریان کې یا له ښوونځي وروسته د یو یا څو ساعتونو لپاره په ښوونځي کې پاتې شئ.
- مصادره کول – ښوونځی کولی شي له تاسو څه کوم شی لکه ستاسو موبایل واخلي.
- په مؤقتي توګه له ټولګي څخه ایستل - تاسو د مدیر دفتر ته استول کېږئ.

که چېرې ستاسو چلند ډېر جدي وي، نو ښوونځی کولی شي ستاسو شتون وځنډوي یا مو اخراج کړي. په هر صورت ښوونځی باید عادلانه چلند وکړي او تاسو ته د پاتې کېدو چانس درکړي.

## که چېرې زه له ښوونځي څخه وځنډول شم، نو څه به کېږي؟

ځنډېدل په دې مانا دي چې تاسو به ونه شئ کولی د ټاکلي شمېر ورځو لپاره ښوونځي ته لاړ شئ. ښوونځی کولی شي تاسو په هغه صورت کې وځنډوي چې که تاسو په جدي ډول ناسم چلند کړی وي. د ښوونځي پرېکړه باید مناسبه وي او باید د هغه څه جدیت منعکس کړي چې تاسو ترسره کړي دي. ښوونځی باید د داسې طرزالعملونو لرونکی وي چې د هغو ګامونو لاربښوونه وکړي چې هغوی یې مخکې له دې چې تاسو وځنډوي، واخلي. که چېرې ښوونځی تاسو وځنډوي اما اړونده طرزالعملونه تعقیب نه کړي، نو تاسو کولی شئ د هغوی د پرېکړې مخالفت وکړئ.

## که چېرې زه له ښوونځي څخه اخراج شم، نو څه به کېږي؟

اخراج یعني تاسو نور نه شئ کولی ښوونځي ته لاړ شئ. د قانون په اساس ښوونځی باید د داسي طرزالعملونو لرونکی وي چي د هغو ګامونو لاربښوونه وکړي چي هغوی یې مخکې له دې چي تاسو اخراج کړي، واخلي. د بېلګې په توګه، د ښوونځي مدیره پلاوی باید د تعلیمي هوساینې خدمت ته څرګنده کړي چي ښوونځی غواړي تاسو اخراج کړي.

ښوونځی باید بیا لږ تر لږه 20 ورځې انتظار وکړي مخکې له دې چي تاسو اخراج کړي. په خانګړو شرایطو کې ښوونځی ښایي تاسو وځنډوي تر هغې چي اخراج ترسره شي. د تعلیمي هوساینې خدمتونه به کوښښ وکړي، ترڅو یوه داسي لاره پیدا کړي چي د اخراج مخنیوی وکړي او دا یقیني کړي چي تاسو لا هم ښایي په بل ښوونځي کې تعلیم ترلاسه کوئ.

## آیا کولی شئ زما ځنډول کېدو یا اخراج په اړه د پرېکړې مخالفت وکړم؟

هو، اما تاسو نه شئ کولی پخپله د پرېکړې مخالفت وکړئ، نو ستاسو والدین یا ستاسو پالونکی کولی شي ستاسو لپاره د پرېکړې مخالفت وکړي. هغوی لومړی باید د ښوونځي مدیره پلاوي ته له پرېکړې سره مخالف یا د استیناف غوښتنه وکړي. که چېرې دا نتیجه ورنه کړي، نو هغوی کولی شي د ښووني وزارت ته د استیناف غوښتنه وړاندې کړي.

د استیناف د غوښتنې کمېټه به ستاسو د استیناف غوښتنه واوري او د هغو اقداماتو په هکله د وزارت عمومي سکرتریت ته سپارښتنې وکړي چي باید ترسره یې کړي. عمومي سکرتر به بیا ستاسو والدینو یا پالونکي او د ښوونځي مدیره پلاوي ته لیک واستوي او خپله پرېکړه او پرېکړې دلایل به پکې بیان کړي.

عمومي سکرتر هم ښایي مدیره پلاوي ته ووایي چي څنګه دا ستونزه حل کړي. که چېرې تاسو معلوماتو او ملاتړ ته اړتیا لرئ، نو کولی شئ د ماشومانو د حقونو له ائتلاف سره اړیکه ونیسئ:

- تلفون، 01-902 0494
- برېښنالیک، help@childrensrights.ie.

## که چېرې ښوونکی ما په ښوونځي کې ووهي، نو څه به کوم؟

هېڅوک په هېڅ صورت نه شي کولی تاسو ووهي یا له تاسو څخه په فزیکي ډول ناوړه استفاده وکړي. که چېرې په ښوونځي کې له تاسو څخه د ښوونکي یا کوم بل کس له خوا په فزیکي ډول ناوړه استفاده وشي، نو تاسو باید خپلو والدینو یا پالونکي یا داسي لوی کس ته چي باور ورباندې لرئ ووایاست. تاسو یا ستاسو والدین یا پالونکی چي ستاسو په استازیتوب عمل کوي، کولی شي ګارډا ته شکایت وکړي. ستاسو والدین یا پالونکی هم کولی شي ستاسو په استازیتوب ښوونځي ته شکایت وکړي. تاسو همدارنګه کولی شئ د آیرلنډ د تدریس شورا ته شکایت وکړئ.


## که چېرې زه فکر وکړم چې ښوونځی له ما سره ناسم چلند کوي، نو څه کولی شم؟

تاسو نه شئ کولی په مستقیم ډول شکایت وکړئ، اما ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي ستاسو په استازیتوب په مستقیم ډول ښوونکي ته شکایت وکړي. که چېرې تاسو د ښوونکي له ځواب څخه خوښ نه یاست، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي د ښوونځي مدیر ته شکایت وکړي. که چېرې ستونزه حل نه شي، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي د ښوونځي مدیره پلاوي ته په مستقیم ډول شکایت وکړي.

په پای کې، که چېرې تاسو فکر کوئ چې ستاسو شکایت ته د ښوونځي له خوا په سم ډول رسیدګي نده شوې، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو د دفتر د شکایاتو مسئول ته شکایت وکړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟

که چېرې شکایت د تبعیض په اړه وي، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي د کارځای د اړیکو کمیسیون ته شکایت وکړي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، 1 برخه وګورئ: زما حق چې برابر چلند راسره وشي، شمولیت ولرم او پرېکړې وکړم. د دې کار د ترسره کولو لپاره د تبعیض له وروستي عمل وروسته په دوو میاشتو کې د ننه تاسو باید لومړی هغه ښوونځي ته خبر ورکړئ چې شکایت ورته کوئ. که چېرې تاسو د ښوونځي د غبرګون له څرنګوالي څخه ناراضه یاست، یا ونه شي کولی په یوه میاشت کې غبرګون وښیي، نو تاسو کولی شئ د کارځای د اړیکو کمیسیون ته شکایت وکړئ. تاسو باید دا کار د تبعیض له وروستي عمل وروسته په دوو میاشتو کې دننه ترسره کړئ.

که چېرې شکایت د معلوماتو د خوندیتوب اړونده ستونزې له امله وي، نو تاسو کولی شئ د معلوماتو د خوندیتوب کمیسیون ته شکایت وکړئ (تفصیلات د دې لاربنود په اخر کې د "ګټورو سازمانونو او ادارو فهرست" کې شته).



## ایا زه کولی شم په ښوونځي کې لاریون ترسره کړم؟

ښوونځی یو شخصي ملکیت دی. که چېرې تاسو غواړئ په شخصي ملکلیت کې لاریون په لاره واچوئ، نو تاسو باید د ښوونځي له مدیرانو او مالک څخه اجازه واخلئ، یعني له مدیر او مدیره پلاوي څخه. تاسو د دې حق لرئ چې په عامه ځای کې سوله یز لاریونونه ترسره کړئ. تاسو باید له ګارډې ( د آیرلنډ له پولیسو) سره اړیکه ونیسئ، ترڅو هغوی ته خبر ورکړئ چې تاسو غواړئ لاریون ترسره کړئ. په دې سره هغوی کولی شي ترافیک بل مسیر ته رهبري کړي او تاسو ته اجازه درکړي چې په خوندي ډول لاریون ترسره کړئ..

# زه څنګه کولی شم د خپل ماشوم ښوونځي ته شکایت وکړم؟

که چېرې تاسو غواړئ د خپل ماشوم د تعليم یا له هغه سره د چلند په اړه شکایت وکړئ، نو تاسو باید دغه ګامونه تعقیب کړئ.

1. د ښوونځي په پالیسیو کې له ټاکل شوو معیارونو څخه په پیروی سره په مستقیم ډول د ماشوم له ښوونکي سره خبرې وکړئ.
2. که چېرې ستونزه حل نه شوه، نو د ښوونځي له مدیر سره خبرې وکړئ.
3. د اړتیا په صورت کې او که چېرې شکایت د ښوونکي لپاره اندېښنه وي، نو د ښوونځي مدیر ته لیک واستوئ.
4. که چېرې مدیر ونه شي کولی شکایت ته رسیدګي وکړي، نو د ښوونځي د مدیره پلاوي مشر ته لیک ولیکئ. د مدیره پلاوي مشر به شکایت یوې فرعي کمېټې ته راجع کړي چې په اړه به پلټنې ترسره کړي او تاسو ته به ځواب درکړي.
5. که چېرې تاسو د پلټنې له پایلو سره موافقه ونه کړئ، نو د مدیره پلاوي مشر ته لیک واستوئ او له پرېکړې سره مخالفت ښکاره کړئ.
6. که چېرې تاسو د مدیره پلاوي له ځواب څخه ناراضه یاست، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو د شکایاتو مسئول ته شکایت وکړئ.
7. تاسو همدارنګه کولی شئ حقوقي مشوري ترلاسه کړئ، ترڅو وګورئ چې آیا تاسو د حقوقي شکایت د ترسره کولو لپاره دلایل لرئ کنه. تاسو کولی شئ د ماشومانو د حقونو له آئتلاف یا د وړیا حقوقي مشورو له مرکزونو څخه وړیا حقوقي مشوري ترلاسه کړئ

د پوهني وزارت د ښوونځي په شکایت کې هیڅ رول نه لري. که چېرې تاسو معلوماتو او ملاتړ ته اړتیا لرئ، نو کولی شئ د ماشومانو د حقونو له ائتلاف سره اړیکه ونیسئ:

- ټلیفون: 0494 01-902
- برېښنالیک: help@childrensrights.ie.

# 2.8 ځورونه

## ځورونه څه ده؟

ځورونه د یوه شخص یا ګروپ له خوا د بل شخص پر وړاندې ضرر رسوونکی چلند دی چې د وخت په تېرېدو سره تکرارېږي. ځورونه کېدی شي په لاندې ډول، په شفاهي توګه، رواني توګه یا فزیکي توګه ترسره شي:

- ستاسو مخ ته
- د تلفون له لارې
- آنلاین.

د ځورېدنې تجربې کولی شي پر یوه شخص جدي عاطفي او رواني اغیزې ولري. د ځورونې چلند کېدی شي په بېلابېل ډول ترسره شي، لکه:

- په قصدي ډول له یوه ګروپ یا فعالیت څخه ستاسو ایستل
- ستاسو په هکله بې ځایه خبرې کول.

په ځورونه کې داسې پیغامونه هم شاملېږي چې د نورو خلکو لخوا لیدل کیدی شي یا تکرارېدلی شي، د بېلګې په توګه، یو عکس یا له لاندې لارو بیان:

- د ټولنیزې شبکې سایټ
- نور عامه فورمونه
- وېب پاڼه.

تاسو همدارنګه کېدی شي د خپل هویت له مخې وځورول شئ. دا ځورېدنه ده ځکه چې تاسو

- ګې یا ټرنسجنډر یاست
- د متفاوت نژاد لرونکی یاست
- سفر کوونکی یاست
- معلولیت لرئ
- ځانګړې تعلیمي اړتیاوې لرئ.

که چېرې تاسو ځورول کېږئ، نو تاسو حق لرئ چې خوندي شئ. هېڅوک باید په هېڅ دلیل تاسو ونه ځوروي.

## که چیرې زه یا زما ملګرې وځورل شي، نو ښوونځی به څه کوي؟

لومړی، تاسو باید خپل ښوونکي، د ښوونځي مدیر یا بل د اعتبار وړ کس ته د ځورونې په اړه وواياست. ښوونځی ځورونې ته د رسیدګی لپاره باید د ځانګړې پالیسی لرونکی وي. په دې پالیسی کې باید په څرګند ډول تشریح شي چې ځورونه د منلو وړ نه ده.

ښوونځی باید:

- د ځورونې د پلټنې او ځورونې ته د رسیدګی لپاره ځانګړې طرزالعملونه (لارښوونې) ولري
- د ځورونې په واسطه له اغېزمنو کسانو سره د مرستې طرزالعملونه ولري
- داسې ستراتیژی ولري چې په لومړي سر کې د ځورونې مخنیوی وکړي
- د هغو اقداماتو سوابق باید ولري چې دوی یې د ځورونې د مخنیوي لپاره ترسره کوي..

## ځنګه کولی شم ډاډ حاصل کړم چې زه نورو ته احترام لرم؟

دا مهمه ده چې تاسو د نورو خلکو حدودو ته درناوی ولرئ، هم د هغوی فزیکي شتون او هم یې مال ته. په دې کې لاندې موارد شاملېږي:

- بدن
- ټلفون
- د شا پنډه
- په ښوونځي کې د هغوی پر مېز ایښې توکي. .

ځینې وختونه کېدی شي ستاسو د چلند په اړه ناسم پوهاوی رامنځته شي او کوم څوک ښایي داسې فکر وکړي چې تاسو هغوی ځوروئ. د ناسم پوهاوي د مخنیوي لپاره ځینې کارونه شته چې تاسو یې باید ترسره کړئ.

### خپل چلند کنټرول کړئ

کله چې کوم څوک له تاسو څخه د کوم کار د بندولو غوښتنه کوي، نو باید هغوی ته غوږ ونیسئ او هغه کار چې ترسره کوئ یې، بند کړئ.

### په ځورونه کې برخه مه اخلئ

د نورو په بې برخې کولو یا اخراج کې مه ښکېل کېږئ یا په قصدي ډول نور مه ناآرامه کوئ.

### د بېلابېلو محیطونو تمې وپېژنئ

مختلف ځایونه کېدی شي د مختلفو قوانینو لرونکي وي، لکه:

- په کور
- په ښوونځي کې
- په ورزشي کلپ کې
- په مختلفو کلتورونو کې.

یو شی ښایي په یوه ځای کې د منلو وړ وي او په نورو ځایونو کې د منلو وړ نه وي. که ډاډه نه یاست چې څه مناسب دي، په دې صورت کې له بل چا څخه پوښتنه وکړئ چې څه مناسب دي.

# 2.9 په ښوونځي کې محرمیت

## آیا زه په ښوونځي کې د محرمیت حق لرم؟

په ښوونځي کې محرمیت یعني په لاندې برخو کې د ښوونځي له مداخلې پرته ښوونځي ته تګ:

- ستاسو شخصي ژوند
- ستاسو شخصي ځای
- ستاسو بدن
- ستاسو اړونده توکي.

ځینې داسې حالات شته چې ښوونځي کولی شي ستاسو په محرمیت کې مداخله وکړي. د بېلګې په توګه، ښوونځي کولی شي په هغه صورت کې ستاسو بکس تلاشي کړي چې که چېرې هغوی فکر کوي چې تاسو غیر قانوني توکي یا الکول لېږدوئ. په هر صورت ستاسو والدین او پالونکی دواړه په دې اړه توافق وکړي.

که چېرې کوم ښوونکی غواړي تاسو تلاشي کړي، نو ستاسو والدین یا پالونکی باید حضور ولري، د بېلګې په توګه، د دې کتل چې ستاسو په بکس کې څه دي.

ستاسو الماری د ښوونځي ملکیت ګڼل کېږي، اما کله چې الماری تاسو ته مختص شي تاسو د ښوونیز کال په جریان کې د محرمیت حق لرئ. ښوونکی کولی شي ستاسو الماری تلاشي کړي، اما یوازې په هغه صورت کې چې د هغوی د دې کار لپاره منطقي دلایل ولري. ښوونکی باید تاسو ته څرګنده کړي چې ولې غواړي ستاسو بکس وګوري.

## ایا زما والدین د دې حق لري چې پوه شي چې زما زده کړې څنګه رواني دي؟

هو، ستاسو والدین یا پالونکی د دې حق لري چې ستاسو د تعلیم او په ښوونځي کې ستاسو د چلند په اړه هغوی ته معلومات ورکړل شي. دا معمولاً د ښوونځي د راپورونو په واسطه ترسره کېږي چې والدین یې په کال کې یوځل ترلاسه کوي، او د والدینو او ښوونکي د غونډو له لارې هم ترسره کېږي چې په آنلاین ډول ترسره کېږي، په داسې توګه چې والدین سیستم ته د ننه کېږي او ویني چې ماشومان یې څنګه دې زده کړې کوي.

## آیا زه د دې حق لرم چې خپل د ښوونځي سوابق وګورم؟

نه، مګر دا چې تاسو د 18 کلنۍ عمر ته ورسېږئ. دا هغه وخت دی کله چې ښوونځی اړ وي چې تاسو ته د غوښتنې په صورت کې د ښوونځي سوابق درکړي. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي ستاسو په استازیتوب ستاسو د سوابقو ارزونه ترسره کړي.

## آیا زما ښوونکی کولی شي زما تلفون وګوري؟

ستاسو د ښوونځي د چلند کوډ به تاسو ته څرګنده شي چې آیا کولای شئ مبایل ښوونځي ته یوسئ کنه او که چېرې تاسو له ځانه سره تلفون ولرئ څه به کېږي. که چېرې ښوونځي ته د مبایل وړل د ښوونځي د قوانینو خلاف کار کوي، نو ښوونکي به اجازه ولري چې ستاسو تلفون قید کړي. ستاسو ښوونکی باید ستاسو د والدینو یا پالونکي له اجازې پرته ستاسو ټلفون ونه ګوري.

# 2.10 د ښوونځي لګښت

## آيا زه کولی شم مالي مرسته ترلاسه کړم، ترڅو وکولی شم ښوونځي ته د تګ لپاره د خپل ماشوم لګښتونه تاديه کړم؟

يو شمېر مالي مرستي شتون لري. دغه مالي مرستي تاسو ته ستاسو د عايد له مخې درکول کېږي او په شرايطو د پوره کېدو لپاره تاسو بايد ځيني شرايط ومنئ.

په دغو مالي مرستو کې ښوونځي ته د تګ د جامو او پايزار د لګښت مرسته شامليږي

سربېره پر دې، که چېرې تاسو د طبي کارت لرونکي ياست، نو تاسو بايد د آزموينې فيس تاديه نکړئ.

تاسو کولی شئ په دې هکله اضافي معلومات د تولنيز خونديتوب وزارت پر ويب پاڼه باندې ومومئ.

ځيني ښوونځي له والدينو سره د لګښتو په برخه کې د مرستي لپاره ځانګړي پروګرامونه لري. پر دې باندې د

پوهېدو لپاره چې آيا ستاسو د ماشوم ښوونځي دا ډول کوم پروګرام لري کنه، له ښوونځي سره اړيکه ونيسئ

# 2.11 اضافي تعليمي اړتياوې

## که چېرې تاسو ځانګړې تعليمي اړتياوې لرئ، نو تاسو داسې تعليم ته د لاسري حق لرئ چې ستاسو اړتياوو ته مناسب دی.

## آيا زه د دې حق لرم چې د نورو زده کوونکو په څېر مساوي چلند راسره وشي؟

هو، تاسو د دې حق لرئ چې په ښوونځي کې د نورو زده کوونکو په څېر مساوي چلند درسره وشي. له تاسو سره بايد ستاسو د معلوليت پر بنسټ د نورو هغو زده کوونکو په پرتله چې د ورته حالت لرونکی دي، نامناسب چلند ونه شي. په دې اړه د لازياتو معلوماتو لپاره 1 برخه وګورئ: زما حق چې برابر چلند راسره وشي، شموليت ولرم او پرېکړې وکړم.

## که چېرې زه ځانګړې تعليمي اړتيا ولرم، نو چېرې کولی شم لاړ شم؟

تاسو کولی شئ په لاندې ځايونو کې زده کړې ترلاسه کړئ:

- يو عادي ټولګی په يوه عادي لومړني يا له لومړنيو زده کړو وروسته ښوونځي کې
- يو ځانګړی ټولګی په يوه عادي لومړني يا له لومړنيو زده کړو ښوونځي کې چې د نورو ټولګيو په پرتله لږ زده کوونکي لري.
- يو ځانګړی ښوونځي چې د ځانګړو زده کړو د اړتياوو لرونکي زده کوونکي لري..

قانون وايي چې د ځانګړو تعليمي اړتياوو لرونکي زده کوونکي بايد د امکان په صورت کې په يوه عادي ښوونځي کې د هغو ماشومانو سره زده کړه وکړي چې ځانګړې اړتياوې نه لري. دا بايد ترسره شي، مګر يوازې په هغه صورت کې چې که چېرې دا ستاسو لپاره يا د ښوونځي د نورو ماشومانو لپاره تر ټولو غوره ګام نه وي.

## که چېرې زه د لومړنيو زده کړو عادي ښوونځي ته لاړ شم، نو اضافي ملاتړ به ترلاسه کړم؟

د زده کړې ملاتړ يا د ځانګړو زده کړو ښوونکی ښايي تاسو ته د تدريس اضافي ملاتړ وړاندې کړي. که چېرې تاسو د جدي پاملرنې اړتياوې ولرئ، نو تاسو ممکن د ځانګړې اړتياوو مرسته کوونکي (SNA) ته هم لاسرسی ولرئ. د ځانګړې اړتياوو مرسته کوونکی SNA به له تاسو سره په عملي کارونو کې مرسته وکړي، لکه د ښوونځي په شاوخوا کې ګرځېدل.

د لومړنيو زده کړو ټول ښوونځي د ځانګړې زده کړې يو شمېر ښوونکي يا د زده کړې د ملاتړ کارمندان لري. د ځانګړو تعليماتو د ښوونکو شمېر چې يو ښوونځي ته ورکول کيږي د ښوونځي د کچې او تعليمي پروفايل پراساس ټاکل کيږي. ښوونځي بيا پرېکړه کوي چې څنګه ښوونکي په ښوونځي کې د زده کوونکو د اړتياوو په اساس ځای پر ځای کړي.

ښوونځی ستاسو د زده کړو اړتیاوو ته په پام سره ملاتړ چمتو کوي. تاسو اړ نه یاست چې د ځانګړي معلولیت تشخیص ولرئ. اضافي تدریس ښايي په ټولګي یا په بېلو کوچنیو ګروپونو کې ترسره شي.

که چېرې تاسو لاندې شرایط پوره کړئ، نو یو ښوونځی کولی شي د ځانګړو تعلیماتو له ملي شورا (NCSE) څخه د اضافي تدریسي ملاتړ یا SNA ملاتړ ته د لاسرسي غوښتنه وکړي:

- د پاملرنې د مرستې لپاره د پام وړ طبي اړتیا
- د فزیکي یا حسي فعالیت جدي کمزورتیا، لکه فزیکي یا ذهني معلولیت.
- کله چې ستاسو چلند په داسې توګه وي چې تاسو د خپل ځان یا نورو زده کوونکو لپاره خطر یاست.

دغه ملاتړ او د SNA ملاتړ ته د لاسرسي لپاره به تاسو په رسمي ډول وارزول شئ.

## که چېرې داسې وانګېرم چې د اړتیا وړ ملاتړ نشم ترلاسه کولای، آیا کولای شم شکایت وکړم؟

که چېرې داسې انګېرئ چې د اړتیا وړ ملاتړ نه ترلاسه کوئ، ستاسو والدین کولای شي د ځانګړو تعلیمي اړتیاوو له ترتیبوونکي (SENO) څخه غوښتنه وکړي ترڅو دا په ګوته کړي چې ولې تاسو دغه ملاتړ نه دی ترلاسه کړی.

تاسو کولای شئ له ښوونځي څخه وغواړئ چې د پرېکړې مخالفت وکړي که تاسو احساس کوئ چې ځینې معلومات چې تاسو ورکړي وو، په پام کې نه دي نیول شوي، یا که تاسو داسې انګېرئ چې د ښوونځي یا د ښوونې او روزنې د وزارت پالیسي په سمه توګه په پام کې نده نیول شوې. له دې امله چې ټولې سرچینې لکه SNAs یا د زده کړې د ملاتړ ښوونکي د ښوونځي لپاره اختصاص شوي دي، نو هغوی باید هر ډول د استیناف غوښتنې مطرح کړي.

که چېرې تاسو فکر کوئ چې د استیناف د غوښتنې پروسه په سمه توګه کار نکوي، تاسو کولای شئ د دې غوښتنه وکړئ چې پرېکړه د استیناف غوښتنو مشورتي کمېټې ته راجع شي. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د NCSE وېب پاڼه وګورئ.

## که چېرې ما په لومړني ښوونځي کې اضافي ملاتړ ترلاسه کړی وي، نو آیا له لومړنیو ښوونځیو وروسته به یې هم ترلاسه کړم؟

کله چې تاسو له لومړنیو زده کړو وروسته ښوونځي ته ځئ، نو تاسو به د ښوونې د اضافي ملاتړ یا د ځانګړو اړتیاوو د مرسته کوونکي په څېر اضافي ملاترونه په اتوماتیک ډول ترلاسه نکړئ. والدین یا پالونکي کولی شي داډ ترلاسه کړي چې ستاسو ابتدايي ښوونځی ټول راپورونه مخکې له دې چې تاسو ورسیږئ، پخواني ښوونځي ته لېږلي دي.

که چېرې تاسو دوامداره ملاتړ ته اړتیا لرئ، ښوونځي ښايي د خپل ملاتړي ټيم په واسطه تاسو ته يو څه اضافي ملاتړ چمتو کړي. همدارنګه کولی شي د ځانګړو زده کړو له ملي شورا څخه د اضافي سرچينو غوښتنه وکړي. دا په دې مانا ده چې ستاسو والدين يا پالونکی باید ستاسو د ځانګړو اړتیاوو په اړه طبي راپورونه وسپاري ترڅو شورا وکولی شي ارزونه وکړي چې آيا تاسو ته اضافي ملاتړ چمتو کړي کنه. په دې کې د SNA ملاتړ شاملېږي که چېرې تاسو لا هم اړتیا ورته ولرئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره د شورا ویب پانه وګورئ.

# زه څنګه کولی شم د آزموينې لپاره مناسبو شرايطو ته لاسرسی ولرم؟

که چېرې تاسو په منځني ښوونځي کې یاست او ځانګړې اړتیاوې لرئ، ستاسو ښوونځي ښايي ستاسو لپاره ځانګړي تدابير په پام کې ونيسي په داسې حال کې تاسو ايالتي آزمونيي ورکوئ لکه له منځنيو زده کړو څخ د فراغت تصديقپانه یا د کوچنيانو تصديقپانه. که چېرې تاسو د معلوليت لرونکي یاست، د بېلګې په توګه د لیدو ستونزه لرئ، تاسو کولای شئ د کاتب یا لوستونکي په توګه د آزموينو په جریان کې د خپل ښوونځي له طريقه مناسبو خدماتو ته درخواست وکړئ.

که چېرې تاسو له هغو تدابيرو څخه خوښ نه یاست چې ستاسو لپاره په پام کې نيول شوي دي، تاسو کولای شئ د استيناف غوښتنې خپلواک فورم ته د استيناف غوښتنه وکړئ.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له خپل ښوونځي سره خبرې وکړئ یا د ايالتي آزموينو د کميسيون ويب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

# د روغتیا
# اړوند زما
# حق

# 3.1 روغتیايي مراقبت

## آیا زه د روغتیايي مراقبت حق لرم؟

د بېړنیو طبي حالاتو په صورت کې په آیرلنډ کې هرڅوک دا حق لري چې د خپل محلي روغتون د پېښو او بېړني حالت څانګې ته لاړ شي. دا ښايي لګښت ولري مګر دا چې تاسو د خپلې کورنۍ د ډاکټر (GP) له خوا راجع شوي وئ یا طبي کارت درسره وي.

ځیني روغتیايي خدمتونه وړیا دي. په دې کې لاندې موارد شاملېږي:

- د مور او ماشوم مراقبت
- له ښوونځي مخکې ماشومانو لپاره روغتیايي خدمتونه
- د ښوونځي روغتیايي خدمتونه
- واکسین
- د واکسینو خدمتونه.



## آیا زه د وړیا واکسینو د ترلاسه کولو حق لرم؟

هو، تاسو د وړیا واکسینو د ترلاسه کولو مستحق یاست. که چېرې ستاسو عمر له 16 کلونو څخه کم وي، نو تاسو د خپلو والدینو توافق ته اړتیا لرئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د واکسینو د ملي دفتر ویب پاڼه وګورئ.

## زما ماشوم به له زیږون وروسته کوم وړیا خدمات ترلاسه کړي؟

سالم ماشومتوب د ملي پروګرام له مخې چې د ټولو ماشومانو لپاره وړیا دی، د عامي روغتیا نرساني او د ټولني روغتیایي ډاکټران د ماشومانو لپاره له زیږون نه تر دویم ټولګي پورې د "ماشوم د روغتیا معاینه او د رشد څارنه" (د ښوونځي واکسینونه) ترسره کوي.

د مورتوب او ماشومانو د پاملرني په پروګرام کې به ستاسو ډاکټر ستاسو ماشوم د دوه اونیو په عمر کې معاینه کړي او تاسو او ستاسو ماشوم به شپږ اونۍ وروسته له دې چې ماشوم وزیږیږي، معاینه شئ.

په دوو میاشتو، څلورو میاشتو، شپږو میاشتو او یوه کال کې ستاسو د ماشوم لپاره بېلابېل واکسین چمتو کېږي.

په دې هکله او د مورتوب د نورو روغتیایي معلوماتو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د زما د ماشوم وېب پاڼه وګورئ.

## زما ماشوم به په ښوونځي کې څه ډول وړیا روغتیایي مراقبت ترلاسه کړي؟

هر ماشوم د ښوونځي د روغتیایي خدمتونو مستحق دی. هغه ماشومان چې عمرونه یې له شپږو کلونو ټیټ دي یا هغه کسان چې ملي ښوونځي ته ځي، هغوی به وړیا روغتیایي معایني ترلاسه کړي. په دې کې معمولاً لاندې موارد شاملېږي:

- د ځانګړو عفونتي ناروغیو پر وړاندې واکسین
- رشدي معایني
- د عامي روغتیا د نرسانو په واسطه لیدني
- د ماشوم د هوسایني کلینیکونه
- د ښوونځي روغتیایي آزمویني

شخصي ابتدایي ښوونځي ښایي د دې خدمت غوښتنه وکړي او د روغتیایي خدمتونو اجرائیه اداره کولی شي پرېکړه وکړي چې آیا دغه خدمت ښوونځیو ته وغځوي که نه.

که چېرې د ښوونځي د معایناتو په جریان کې ستاسو د ماشوم په غاښونو، لیدو یا اورېدو کې کومه ستونزه پیدا شي، په وړیا ډول به یې درملنه وشي. که چېرې ستاسو ماشوم ښوونځي ته ځي، هغوی تر 15 کلنۍ پورې د غاښونو د درملني د وړیا خدمتونو مستحق ګڼل کېږي.

## آیا زما ماشوم د طبي کارت د ترلاسه کولو مستحق دی؟

ماشوم کېدی شي د خپلو والدینو د عاید په اساس د طبي کارت د ترلاسه کولو مستحق وي. که چېرې ستاسو ماشوم ایالتي مراقبت یا په مستقیم ډول چمتو کېدونکې مراقبت ترلاسه کوي، نو هغوی به طبي کارت ترلاسه کړي. طبي کارت هغوی د لاندې خدمتونو مستحق ګرځوي:

- د روغتون مراقبت
- د ډاکټر لیدنې
- طبي تجهیزات
- د غاښو، لیدو او اورېدو خدمتونه.

تاسو لا هم ښایي د نسخې لګښتونه تادیه کړئ، حتی که ستاسو ماشوم طبي کارت هم ولري.

## آیا زما ماشوم د عمومي ډاکټر د لیدنې د کارت مستحق دی؟

په آیرلنډ کې ټول هغه ماشومان چې عمر یې تر شپږو کلونو ټیټ وي، د عمومي ډاکټر د لیدنې د وړیا کارتونو مستحق دي. دا باید د 2020 کال په سپټمبر میاشت کې د اتو کالو لاندې ټولو ماشومانو لپاره پراختیا ومومي.

د عمومي ډاکټر د لیدنې په وړیا کارت سره ستاسو ماشوم د لاندې خدمتونو د ترلاسه کولو مستحق دی:

- له عمومي ډاکټر سره وړیا لیدنې
- په دوه کلنۍ او پنځه کلنۍ کې ارزونې
- د عمومي ډاکټر په واسطه د کور لیدنه
- له رسمي ساعتونو د باندې د عمومي ډاکټر عاجل مراقبت
- د نفس د تنګۍ مراقبت.

دغه کارت د روغتون لګښتونه یا د درملو لګښتونه تر پوښښ لاندې نه نیسي. تاسو کولی شئ د دغه کارت لپاره آنلاین یا د پست له لارې درخواست وکړئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د HSE وېب پاڼه وګورئ.

د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې تر شپږو کلونو لوړ وي، که چېرې د هغوی والدین یا پالونکی د طبي کارت د ترلاسه کولو شرایط پوره نه کړي، نو هغوی ښایي خپلو شرایطو ته په پام سره د عمومي ډاکټر د ملاقاتونو کارت ترلاسه کړي. دغه کارت به ماشوم تر پوښښ لاندې ونیسي او هغوی ته به اجازه ورکړي چې په وړیا ډول له ډاکټر سره ووینې. که چېرې د ماشوم عمر تر 16 کلونو لوړ وي، هغوی ښایي وکولای شي په خپل نوم سره د عمومي ډاکټر د لیدنو د کارت مستحق وي.

# 3.2 توافق

## په کوم عمر کې کولی شم د طبي درملنې موافقه وکړم؟

د طبي درملنې لپاره توافق ورکول په دې مانا دي چې تاسو سرجرۍ، طبي یا د غاښو درملنې ته اجازه ورکوئ. که چېرې ستاسو عمر تر 16 کلونو ټیټ وي، نو ستاسو والدین یا پالونکی باید د هر ډول سرجرۍ، طبي یا د غاښو د درملنې توافق وکړي. په هر صورت، تاسو ته باید د درملنې په هکله وویل شي او ستاسو اندېښنې او نظریات باید واورېدل شي او په پام کې ونیول شي.

که چېرې ستاسو عمر تر 16 کلونو لوړ وي، نو تاسو کولی شئ د سرجرۍ، طبي یا د غاښو د درملنې توافق وکړئ، چې په دې کې هر ډول هغه درملنې یا معاینې شاملېږي چې په دې باندې د پوهېدو لپاره اړینې دي چې څه شي تاسو ناروغه کړي یاست. په هر صورت، ډاکټران او روغتونونه به معمولا مخکې له دې چې کومه آزموینه یا درملنه ترسره کړي، ستاسو د والدینو یا پالونکي توافق به ترلاسه کوي.


تاسو باید د 18 کلنی عمر بشپړ کړی وي، ترڅو وکولای شئ د رواني روغتیا د درملنې توافق وکړئ.

## آیا زه کولی شم د طبي درملنې له توافق څخه انکار وکړم؟

قانون په دې اړه وضاحت نه لري چې آیا تاسو کولی شئ له 18 کلونو څخه د ټیټ عمر لرلو په صورت کې له طبي درملنې څخه انکار وکړئ کنه. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، نو تاسو معمولاً دا اجازه نه لرئ چې له درملنې څخه انکار وکړئ که چېرې ستاسو ډاکټر په دې باور وي چې توافق ستاسو او ستاسو د والدینو یا پالونکي لپاره غوره دی. ډاکټر باید له تاسو سره مرسته وکړي، ترڅو د درملنې د ترلاسه کولو په اهمیت باندې پوه شي.

## آیا زه د دې حق لرم چې د خپلې روغتیا سوابق وګورم؟

تاسو کولی شئ د خپلې روغتیایي سوابق وګورئ کله چې 18 کلن شئ. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي ستاسو په استازیتوب هغوی ته لاسرسی ولري. په ځینو مواردو کې، که چېرې ډاکټر یا روغتون داسې فکر وکړي چې دا ښه کار نه دی یا کېدی شي تاسو ته زیان ورسوي، نو تاسو یا ستاسو والدین یا ستاسو پالونکی ښایي ونه شي کولی ستاسو طبي سوابقو ته لاسرسی ترلاسه کړي.



# 3.3 محرمیت

## آیا زه کولی شئ له خپلو والدینو یا پالونکي پرته ډاکتر ته لاړ شم؟

هو. اما تر هغه چي تاسو 18 کلن شوي نه یاست، ډاکتر نه شي کولای وعده وکړي چي هغوی به ستاسو د درملني په اړه ستاسو والدینو یا سرپرست ته نه وایي.

## ایا زه له خپل ډاکتر سره د محرمیت حق لرم؟

نه. که چیرې ستاسو عمر تر 16 کلونو کم وي، ستاسو ډاکتر باید د ځینو موارادو په استثنی ستاسو د لیدني په هکله ستاسو والدینو یا ستاسو پالونکي ته خبر ورکړي. حتی که ستاسو عمر له 16 کلونو څخه هم لوړ وي، ډاکتر نشي کولای ستاسو محرمیت تضمین کړي ځکه چي ستاسو والدین یا پالونکی دا حق لري چي تر هغي چي تاسو 18 کلن کیږئ، ستاسو طبي سوابقو ته د لاسري غوښتنه وکړي. اما که ستاسو ډاکتر فکر وکړي چي ستاسو لپاره به غوره وي چي ستاسو والدین ستاسو د لیدني په اړه ونه پوهیږي، نو دوی کولای شي پریکړه وکړي چي دغه معلومات له هغوی پټ وساتي.

که چیرې ډاکتر یا نرسه دا اندېښنه ولري چي تاسو یا کوم بل ماشوم ځورول کیږي یا په کوم ډول د ځورني له خطر سره مخ دی، د قانون له مخي هغوی مکلف دي په دې اړه Tusla ته راپور ورکړي.

# 3.4 معلولیت لرونکي ماشومان

## د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د تعلیمي حقونو په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره 2مه برخه وګورئ: د تعلیم اړوند زما حق

# آیا زما ماشوم د دې حق لري چې د اړتیاوو ارزونه یې وشي؟

هر هغه ماشوم چې د 2002 کال د جون له 1 نېټې څخه وروسته زیږېدلی وي، د دې مستحق دي چې روغتیايي او تعلیمي اړتیاوې یې د HSE د معلولیت د خدمت د ارزونې د مسئول له خوا په وړیا ډول وارزول شي. تاسو کولای شئ د اړتیاوو د ارزونې لپاره د غوښتنلیک له آنلاین فورمي څخه په استفادې سره د HSE پر وېب پاڼه درخواست وکړئ. د ځینو شرایطو په استثنی، HSE باید:

- په 14 ورځو کې ستاسو درخواست تصدیق کړي
- په دریو میاشتو کې ارزونه پیل کړي
- په دریو نورو میاشتو کې باید ارزونه بشپړه کړي.

که ستاسو د ارزونې بشپړول وځنډېږي، تاسو ته یې باید دلیل واضح شي او د وخت وضاحت باید درکړل شي چې کله به بشپړېږي.

له ارزونې وروسته به تاسو د ارزونې راپور ترلاسه کړئ. په راپور کې به لاندې موارد تشریح کېږي:

- آیا ستاسو ماشوم معلولیت لري کنه
- د معلولیت ډول او دا چې دا معلولیت څومره شدید دی
- له معلولیت څخه رامنځ ته کېدونکې تعلیمي او روغتیايي اړتیاوې
- د دغو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په پام کې نیول شوي خدمات او دا چې ستاسو ماشوم به کله دغه خدمات ترلاسه کوي
- HSE به کله د ارزونې بیاکتنه کوي.

تاسو به همدارنګه د خدمت د بیان په نوم یو سند ترلاسه کړئ. په دې کې هغه روغتیايي او تعلیمي خدمات تشریح شوي دي چې ستاسو ماشوم اړتیا ورته لري. دغه راپور لاندې موارد په پام کې نیسي:

- د ارزونې راپور
- دا چې ستاسو ماشوم د خدماتو لپاره په شرایطو برابر دی کنه
- د اجراآتو اړونده معیارونو او کوډونه
- د خدماتو د چمتو کولو عملي توب
- موجودې مالي سرچینې.


د خپل ماشوم د ارزونې لپاره د درخواست په موخه، په خپل محلي روغتیايي دفتر کې د ارزونې له مسئول سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولی شئ HSE ته شکایت وکړئ که چېرې:

- تاسو له ارزونې څخه ناخوښ یاست
- تاسو د ارزونې د ترسره کولو له څرنګوالي څخه ناخوښ یاست
- ارزونه د شپږو میاشتو په موده کې نه وي ترسره شوې.

تاسو کولی شئ د HSE د موندنو په هکله د معلولیت د استیناف غوښتنې د خپلواک دفتر مسئول ته د استیناف غوښتنه وکړئ. (د اړیکې جزیات په 10مه برخه کې وګورئ). د مرستې لپاره چېرته تللی شم؟ د دغه لارښود).

# 3.5 رواني روغتيا

## د راني روغتيا مراقبت ولې مهم دی؟



خپلې رواني روغتيا ته پاملرنه دومره مهمه ده لکه څومره چې فزيکي روغتيا ته مهمه ده.

د ژوند په مختلفو وختونو کې ستاسو رواني روغتيا کېدی شي د هغه څه له امله اغيزمن شي چې ستاسو شاوخوا کې روان وي. ډيرې ورځنۍ شيان کولی شي ستاسو په رواني روغتيا باندې اغېز وکړي يا ځينې وختونه لويې پېښې، لکه د هغه چا مړينه چې تاسو مينه ورسره لرئ يا په فقر کې ژوند کول، کولی شي تاسو باندې اغېز وکړي.

تاسو همدارنګه بڼايي دوامداره رواني ستونزې ولرئ، او ستاسو رواني روغتيا بڼايي له ستونزه سره مخ شي، حتی که چېرې ستاسو د ژوند نورې برخې ښې رواني وي.

## له کوم ځايه کولی شم مرسته ترلاسه کړم؟

که چېرې تاسو داسې انګېرئ چې مرستې ته اړتيا لرئ، نو په ياد ولرئ چې تاسو يوازې نه ياست، حتی که ممکن داسې ښکاره هم شئ. دا مهمه ده چې د خپلو احساساتو په اړه له هغه چا سره خبرې وکړې چې باور ورباندې لرئ. د آنلاين ملاتړ ګڼې سرچينې او ټلفوني کرښې شتون لري چې کولی شئ ويې کاروئ.

که د خپل ځان يا کوم ملګري په اړه اندېښنه درته پيدا شوه، نو له خپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ يا د ځوانانو د رواني روغتيا د سازمانونو او ګروپونو د مرستې په لټه کې شئ.

د ځوانانو لپاره ګڼ شمېر آنلاين او ټلفوني سرچينې شتون لري چې د رواني روغتيا د بېلابېلو برخو په اړه معلومات وړاندې کوي. په دې کې لاندې موارد شاملېږي:

- yourmentalhealth.ie
- Let someone Know
- Reachout
- Jigsaw
- .Pieta House

تاسو کولی شئ په دې اړه تفصيلي معلومات په 10مه برخه کې پيدا کړئ: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟ د دغه لاربښود.

تاسو همدارنګه کولی شئ له ملګري سره خبرې وکړئ، يا د خپل ښوونځي له لارې د ملاتړ غوښتنه وکړئ.

لومړی ګام بڼايي د هغه مرستې په اړه له ډاکټر سره خبرې کول وي چې تاسو اړتيا ورته لرئ. ستاسو ډاکټر کولی شي د رواني روغتيا اړوند ډيرې ستونزې په مستقيم ډول حل کړي، يا د هغه درملنې په مرسته چې ممکن ستاسو په ټولنه کې شتون ولري. ځينې وختونه، د درملنې د برخې په توګه، تاسو بڼايي لاندې موادرو ته اړتيا ولرئ:

- درمل
- د مشاور ليدل
- د رواني روغتيا د متخصص ډاکټر سره ليدل
- يا په روغتون کې پاتې کېدل.

ډاکټر به وکولی شي له تاسو د هغه درملنې د ډول په اړه له تاسو سره خبرې وکړي چې ستاسو لپاره يې سپارښتنه کوي.

## په کوم عمر کې کولی شم د رواني روغتیا د درملنې د ترلاسه کولو اجازه ورکړم؟

هره پرېکړه چې ستاسو د رواني روغتیا یا د هغه ستونزې د درملنې په اړه ترسره کېږي چې تاسو یې تجربه کوئ، باید ستاسو غوره ګټې په پام کې ونیول شي. تر هغې چې تاسو 18 کلن کېږئ، ستاسو والدین تاسو ته اجازه درکوي یا انکار کوي چې تاسو درملنه ترلاسه کړئ یا ترلاسه نکړئ. کله چې تاسو 18 کلن یاست، تاسو کولای شئ د رواني روغتیا د درملنې اجازه ورکړئ یا یې رد کړئ. په دې کې د رواني روغتیا د درملنې او پاملرنې لپاره په روغتون کې د داخلېدو رضایت هم شاملېږي.

## که چېرې زه په روغتون کې یم، د څومره مودې لپاره باید پاتې شم؟

په روغتون کې د پاتې کېدو موده د هر چا لپاره توپیر کوي. ډېری ځوان خلک روغتون ته په داوطلبانه ډول ورل کېږي. دا په دې مانا چې تاسو، ستاسو والدین یا پالونکی او ډاکټران په ګډه پرېکړه کړې ده چې تاسو روغتون ته لاړ شئ.

ډاکټران به کوښښ وکړي تر هغې تاسو روغتون کې وساتي ترڅو ښه شئ. ستاسو والدین حق لري چې هر وخت وغواړي کور ته مو بوځي، کله چې تاسو په داوطلبانه ډول په روغتون کې یاست. که چېرې ستاسو والدین داسې انګېري چې تاسو باید په روغتون کې وئ او نه غواړئ هلته وئ، تاسو کولای شئ خپل د ارزونې له ټیم څخه غوښتنه وکړئ چې پر خپله پرېکړه باندې بیا کتنه وکړي.

## جبري توقیف څه ته وایي؟

جبري توقیف هغه وخت دی کله چې ستاسو د پاملرنې مسؤل ډاکټران د ناحیې له محکمې څخه اجازه غواړي ترڅو تاسو روغتون کې داخل کړي یا په روغتون کې وساتي، کله چې ستاسو پلار یا سرپرست نه غواړي چې تاسو هلته پاتې شئ. دا په هغه صورت کې ترسره کېدی شي که چېرې ستاسو ډاکټر داسې وانګېري چې تاسو د خپل ځان او نورو لپاره خطر یاست. دا همدارنګه کېدی شي هغه وخت ترسره شي کله چې ستاسو پلار یا پالونکی پرېکړه وکړي چې تاسو له روغتون څخه وباسي او ډاکټران فکر کوي چې تاسو تیار نه یاست یا کافي روغتیا نلرئ ترڅو روغتون پرېږدئ.

محکمه کولی شي حکم وکړي چې تاسو تر 21 ورځو پورې په روغتون کې وساتل شئ. دغه حکم کېدی شي د دریو یا شپږو میاشتو لپاره تمدی شي. ستاسو ډاکټر به دوامدار ډول ستاسو د رواني روغتیا ارزونه کوي. له تاسو یا ستاسو له والدینو یا پالونکي څخه ښایي غوښتنه وشي چې خپل نظر څرګند کړئ. که چېرې ستاسو ډاکټر وانګېري چې په کافي اندازه ښه یاست، هغوی به له محکمې غوښتنه وکړي چې د جبري توقیف حکم لغوه کړي.


# څوک زما رواني روغتیا د درملنې په اړه د معلوماتو حق لري؟

ستاسو د رواني روغتیا په مراقبت کې ښکېل کسان به ستاسو د رواني روغتیا په هکله معلوماتو ته لاسرسی ولري. ستاسو معلومات به معمولاً ستاسو له والدینو یا پالونکي سره هم شریکېږي. ستاسو معلومات به له بل هېچا سره شریک نشي مګر دا چې:

- تاسو یې غوښتنه وکړئ
- تاسو د ضرر له خطر سره مخ وئ
- دا کېدی شي د جرم د شواهدو په توګه وکارول شي. .

# د رواني روغتیا کمیسیون کوم کارونه کوي؟

د رواني روغتیا کمیسیون یو خپلواک سازمان دی چې په 2002 کې تاسیس شوی دی. دا یو شمیر فعالیتونه ترسره کوي، چې په دې کې د تصویب شوي رواني ناروغۍ د ناروغانو د مرکزونو د ثبت ساتل، د رواني روغتیا په خدماتو کې د کار کوونکو لپاره د عمل کوډونه او د لارښودونو چمتو کول شاملېږي. هغوی همدارنګه د رواني روغتیا د خدمتونو پلټونکی ټاکي چې هر کال د رواني روغتیا د خدمتونو پلټنه ترسره کوي، چې په دې کې هغه مرکزونه شاملېږي چې د ځوانانو درملنه پکې کېږي. هغوی د انفرادي قضیو په اړه پلټنې نه کوي اما که له هغوی سره د ځانګړي خدمت اړوند د کومې اندېښنې په اړه اړیکه ونیسئ، هغوی کولای شي تاسو د رواني روغتیا د خدماتو پلټونکي ته راجع کړي. د پلټونکي له خوا ټولې هغه اندیښنې چې د رواني روغتیا له خدمتونو سره تړاو لري ثبت کیږي او دا اندیښنې د خدماتو په معاینه کولو کې په پام کې نیول کیږي.



# 3.6 جنسي روغتیا

## دا ولې مهمه ده چې د خپلو حقونو په اړه پوه شم او خپلې جنسي روغتیا ته پاملرنه وکړم؟

د جنسي اړیکو د ترسره کولو پریکړه یوه ډېره شخصي پریکړه ده او باید لومړی ستاسو د اړیکو او جنسیت په اړه باورونو پراساس وشي، او همدارنګه باید دا په پام کې ونیول شي چې تاسو څومره د بل شخص سره د آرامۍ احساس کوئ. کله چې تاسو د دې پریکړې کولو په اړه فکر کوئ چې آیا د جنسي اړیکو لپاره تیار یاست کنه، په دې اړه جدي فکر وکړئ څکه چې دا یوه لویه پریکړه ده. تاسو د جنسي اړیکو د ترسره کولو لپاره باید چمتو وئ او د ملګرو او د جنسي اړیکې د پارټنر له خوا باید تر فشار لاندې رانشئ. تاسو باید تل د خپلو پرېکړو په اړه باوري او آرام احساس ولرئ او هیڅکله باید اجازه ورنکړئ چې څوک تاسو ته د ناراحتۍ په حالت کې د فشار راوړلو یا زور اچولو هڅه وکړي. په خپلې غریزې او داخلي احساس باور ولرئ، او که تاسو نه پوهیږئ چې څه وکړئ، نو له یوه ملګي یا داسې چا سره خبرې وکړئ چې باور وربانديې لرئ.

Foróige د هغو ځوانانو لپاره د REAl U په نوم پروګرام مخ ته وړي چې عمرونه یې د 12 او 18 کلنو ترمنځ وي. REAL Uکولی شي د هغو ستونزو په هکله له تاسو سره د خپلو او نورو کسانو د نظریاتو په شریکولو کې مرسته وکړي چې کولای شي په موړ ټولو اغېز وکړي په ځانګړې توګه په عامه او جنسي اړیکو باندې.

تاسو باید وکولی شئ چې یوه داسې خوندي، خوښه او سالمه جنسي اړیکه تجربه کړئ چې له تاوتریخوالي او زیان څخه پاکه وي. دا مهمه ده چې د جنسي اړیکو اړوند خپل حقونه وپېژنئ او دا چې څنګه خوندي اړیکې ترسره کړئ.

همدارنګه دا مهمه ده چې څنګه خپلې جنسي روغتیا ته پاملرنه وکړئ. که چېرې تاسو د جنسي اړیکو د ترسره کولو پرېکړه وکړئ، په دې پوهېدل مهم دي چې څنګه د لاندې مواردو پر وړاندې ځان خوندي کړئ:

- له جنسي اړیکو لیږدېدونکي عفونتونه (STIs)
- غیر پلاني امېندواري.



## له کومه ځایه کولی شم د جنسي روغتیا او STIs په اړه اضافي معلومات ترلاسه کړم؟

په آیرلنډ کې ګڼ شمېر د جنسي روغتیا کلینیکونه شتون لري. دغه کلینیکونه همدارنګه د STI (د جنسي اړیکو د لیږدېدونکو انتانونو) د کلینیک یا جنسي او ادراري روغتیا (GUM) د کلینیکونو په نامه یادېږي. هغوی به له تاسو ملاتړ وکړي پرته له دې چې ستاسو عمر، جنسیت یا جنسي تمایل په پام کې ونیسي.

تاسو کولی شئ د جنسي اړیکو او ارتباطاتو په اړه بې پلوه او حقیقي معلومات په لاندې پته ومومئ:

- B4UDecide
- SpunOut.ie
- BeLonGTo In The Know Course

# د جنسي اړيکې رضايت څه دی؟

رضايت يا توافق هغه مهال رامنځ ته کيږي کله چې خلک په ګډه توافق وکړي چې هغوی غواړي جنسي اړيکه ولري يا کوم جنسي عمل ترسره کړي. په دې کې ښکلول او په جنسي ډول لمسول شامليږي. د توافق قوانين په هر حالت کې پلي کيږي، مهمه نده چې ستاسو جنسي تمايل څه دی او يا ستاسو د جنسي ملګري يا ملګرې جنسيت څه دی.

## تاسو کولی شئ هر وخت نه وواياست

توافق يوازې هغه مهال توافق ګڼل کيږي چې تاسو په خپله خوښه کړی وي او تاسو مجبور شوي نه ياست چې هو وواييئ. دا ډيره مهمه ده چې پوه شئ چې حتی که تاسو په لومړي سر کې د جنسي اړيکو يا جنسي عمل ترسره کولو لپاره موافقه ورکړئ، نو تاسو په بشپړه توګه آزاد ياست چې خپل ذهن بدل کړئ مخکې له دې چې پيل وکړئ يا هر وخت مخکې له دې چې جنسي اړيکه مو ختمه شي. که چيرې کوم څوک "نه" نه وي ويلي يا د جنسي عمل پر وړاندې يې مقاومت نه وي کړی، نو دا معنی نه لري چې هغوی موافقه ورکړې ده.

ځيني داسې شرايط شتون لري چې يو شخص نه شي کولی آزاد او داوطلبانه توافق ورکړي. په دې کې لاندې موارد شامليږي:

### a) کله چې له زور څخه کار اخيستل کيږي

يو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې توافق ورکړي که چيرې هغوی:

- په زور مجبور شوي وي چې په جنسي فعاليت کې برخه واخلي.
- يو شخص ته د جبر يا زور په وسيله ګواښ وشي چې که د جنسي فعاليت ته رضايت ورنکړي، نو دا ګواښ د هغه يا بل شخص پر ضد کيږي.
- يو شخص د دې لپاره ښه دليل ولري چې وډار شي چې که دوی د جنسي فعاليت لپاره رضايت ورنه کړي، نو پر دوی يا بل شخص به زور او جبر وکارول شي.

### b) ويده يا بې هوښه

يو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعاليت توافق وکړي که چيرې ويده يا بې هوښه وي.

### c) د الکولو او نشه يي توکو تر اغېز لاندې

يو شخص ښايي ونه شي کولی د الکولو د اغېز يا نورو هغه نشه يي توکو د اغېز له امله چې کارولي يې دي، د جنسي فعاليت توافق وکړي.

### d) نه شي کولی توافق وکړي

يو شخص کيدی شي د جنسي فعاليت لپاره د موافقې وړ نه وي ځکه چې يو فزيکي معلوليت لري چې دوی ته اجازه نه ورکوي چې څرګند کړي چې ايا دوی موافقه لري يا نه.

### e) نه شي کولی پوه شي

يو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعاليت لپاره وړيا او رضاکارانه موافقه ورکړي که چيرې دوی د عمل په ماهيت او هدف نه پوهيږي.

f)        غلط هویت

یو شخص د جنسي فعالیت لپاره په هغه صورت کې موافقه نه ورکوي چې که چیرې هغوی په جنسي عمل کې د بل شخص هویت غلط پېژندلی وي (یعنې که دوی باور لري چې په جنسي عمل کې ګډون کوونکی کس بل څوک دی).

g)        بل شخص هم دا خبره کوي

یو شخص نه شي کولی په هغه صورت کې د جنسي فعالیت لپاره وړیا یا رضاکارانه موافقه ورکړي چې که چیرې د موافقې یوازېنی بنه د بل شخص لخوا ورکړل شي (بو شخص وایي چې بل شخص موافقه لري).

h)        نه یې شي پرېښودلی

یو شخص نه شي کولی د جنسي فعالیت لپاره وړیا او رضاکارانه موافقه ورکړي که چیرې دوی د خپلې ارادې خلاف بې له کوم مناسب دلیل څخه له تللو څخه منع شي.

نور دلایل

کېدی شي نور حالتونه هم وي چیرې چې د جنسي فعالیت لپاره وړیا او رضاکارانه موافقه نه شي ورکول کیدای، خو دا هغه ځیني عام حالتونه دي.

## په کوم عمر کې کولی شي د جنسي اړیکو د لرلو توافق وکړم؟

د قانون په اساس، تاسو کولی شئ په 17 کلنۍ کې د جنسي اړیکي توافق وکړئ. دا همداسې دی، پرته له دې چې ستاسو جنسي تمایل په پام کې ونیول شي او یا ستاسو د جنسي ملګري یا ملګرې جنسیت څه دی.

قانون هم دا پیژني چې ځوانان کولی شي یو له بل سره جنسي فعالیت وکړي. د ”عمر د نږدېوالي“ دفاع شتون لري. دا په دې مانا دی چې که یو شخص له یوه 15 تر 17 کلونو عمر لرونکي شخص سره د جنسي عمل کولو په تور متهم شي، نو دوی کولی شي د عمر د نږدېوالي دفاع وړاندې کړي. په هر صورت، لاندې شرایط باید پوره شي:



- د دوو کسانو تر منځ د عمر توپیر باید دوه کاله یا لږ وي
- په جنسي اړیکو کې ښکېل کسان باید د جنسي اړیکو په اړه آزاد او داوطلبانه توافق ولري
- هیڅ یو شخص باید نه وي احساس کړي چې سوء استفاده ترې شوې یا ویرول شوی وي
- هیڅ یو شخص بنایي د واک یا اقتدار په حالت کې نه وي.

## په کوم عمر کې کولی شم د جنسي روغتیا د درملنې لپاره موافقه ورکړم؟

که چیرې تاسو له 16 کلونو څخه زیات عمر لرئ، نو تاسو کولی شئ د طبي درملنې لپاره رضایت ورکړئ. دې کې تولې هغه ازمویني یا درملنې شاملې دي چې تاسو د جنسي روغتیا لپاره اړتیا ورته لرئ. که چېرې تاسو له 16 کلنۍ څخه په ټیټ عمر کې په جنسي اړیکه کې ښکېل یاست، نو تاسو لا هم هر ډول داسې آزمویني یا درملنو ته لاسرسی لرئ چې ښآیي په STI یا GUM کلینیکونو کې د جنسي روغتیا لپاره اړتیا ورته ولرئ.

## په کوم عمر کې کولی شم کانډوم وپېرم؟

په هر عمر کې. د کانډوم د پېرلو لپاره د عمر محدودیت شتون نه لري.

## په کوم عمر کې زه کولی شم د مخنیوي نورو طریقو ته لاسرسی پیدا کړم؟

که چېرې ستاسو عمر تر 17 کلونو ټیټ وي، نو قانون په دې اړه روښانه نه دی چې تاسو حق لرئ چې د مخنیوي د طریقو لپاره نسخه ترلاسه کړئ. ځینې ډاکټران له 17 کالو څخه د کم عمر لرونکو ځوانانو ته د مخنیوي لارې تجویزوي، خو نور یې ردوي.

تاسو کولی شئ په 17 کلنۍ کې د مخنیوي ټولو طریقو ته لاسرسی ولرئ چې دا د جنسي اړیکو لپاره د رضایت قانوني عمر دی. د مخنیوي د ځینو لارو لپاره، لکه د مخنیوي ګولۍ به تاسو د ډاکټر نسخې ته اړتیا ولرئ او باید تادیه ورته وکړئ.

که چېرې تاسو له 16 کالو څخه پورته یاست، نو کولی شئ د بیړني مخنیوي درمل (چې د "سبا-سبا ګولۍ" په نامه هم پیژندل کیږي) له درملتون څخه د خپلو والدینو یا پالونکي له توافق پرته ترلاسه کړئ. که چېرې ستاسو عمر له 16 کلونو څخه ټیټ وي، نو فارمسېسټ به معمولاً ستاسو د والدینو یا پالونکي د توافق په لټه کې وي.

## که چېرې زه د مخنیوي غوښتنه وکړم آیا ډاکټر باید زما والدینو یا پالونکي ته خبر ورکړي؟

که چېرې تاسو 16 کلن یا د ډېر عم لرونکي یاست، نو تاسو کولی شئ د خپلو والدینو یا پالونکي له توافق او پوهې پرته د مخیوي په اړه خبرې وکړئ. که چېرې تاسو د 16 کالو څخه کم عمر ولرئ، په داسې حال کې چې ستاسو ډاکټر ممکن ستاسو له والدینو یا سرپرست سره اړیکه ونیسي یا یې ونه نیسي، هغوی حق لري په دې پوه شي چې تاسو درملنه ترلاسه کړې کنه، چې په دې کې د ګولۍ نسخه یا د مخنیوي نورې لارې شاملېږي.

که چېرې تاسو ډاکټر ته د معلوماتو د ورکړې په اړه اندېښنه لرئ، نو تاسو باید د خبرو په پیل کې دا له ډاکټر سره په ډاګه کړئ.

## که چېرې زه له 17 کلنۍ مخکې په جنسي ډول فعال یا امېندواره یم، نو آیا زما په هکله به ټولنیزو خدماتو یا ګارډا ته راپور ورکړل شي؟

قانون وایي چې د 17 کلنۍ عمر د جنسي اړیکو د توافق عمر دی، ستاسو جنیست یا جنسي تمایل که هر څه وي. معمولاً، دا جرم ګڼل کیږي چې له 17 کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکي کس سره جنسي اړیکه ونیول شي. د لازیاتو معلوماتو لپاره پورته د توافق برخه وګورئ. د آنلاین جنسي فعالیتونو په اړه د معلوماتو لپاره لاندې زما د آنلاین حقونو برخه وګورئ.

تاسو کولی شئ د هغو سازمانونو د اړیکو معلومات پیدا کړئ چې په 10مه برخه کې د جنسي روغتیا د سرچینو په اړه معلومات وړاندې کوي: د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟

# که چیرې د جنسي ځورونې قرباني شم، نو چیرې کولی شم لاړ شم؟

د ډوبلین د جنسي تجاوز د کړکیچ مرکز په 8888 77 1800 شمېرې سره 24 ساعته د مرستې ملي کرښه چلوي. دغه مرستندویه کرښه هغو ښځو او نارینه وو ته چې جنسي تجاوز پرې شوي، په جنسي ډول ځورول شوي یا جنسي تېری ور باندې شوی وي، محرمه غوږ نیونه او ملاتړ برابروي.

CARI د تخصصي ملاتړ خدمات وړاندې کوي چې لاندې موارد پکې شاملېږي:

- د مشورې ورکړه
- له تاسو سره ګارډا یا محکمې ته تلل
- له 18 کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکو هغو ماشومانو لپاره عمومي ملاتړ چې د جنسي تاوتریخوالي قربانیان دي.

د جنسي تجاوز د کړکیچ مرکزونه چې د هېواد په کچه فعالیت کوي، هغوی به ټول هغه کسان وګوري چې عمر یې له 14 کلونو څخه لوړ وي او یو مرکز (د جنسي تجاوز د کړکیچ شمال شرقي مرکز) به ټول هغه کسان وګوري چې عمرونه یې له 12 کلونو څخه لوړ وي.



# 3.7 امېندواري

## که چېرې زه داسې وانګېرم چې ښايي امېندواره يم، نو له کومه ځايه کولی شم مشوره ترلاسه کړم؟

که چېرې زه داسې وانګېرم چې ښايي امېندواره يم، نو له کومه ځايه کولی شم مشوره ترلاسه کړم؟

تاسو کولی شئ د مشورې او ملاتړ لپاره له خپل GP (د کورنی ډاکټر) يا محلي روغتيايي مرکز ته لاړ شئ.

په ټوله آيرلنډ کې وړيا، بې پرې او غير قضاوتي کړکېچ د امېندوارۍ مشورتي خدمات شتون لري. د دغو خدماتو د لېست لپاره، MyOptions.ie وېب پاڼې ته مراجعه وکړئ يا د 'LIST' کلمه په وړيا توګه 50444 شمېرې ته د پيغام له لارې واستوئ.

تاسو همدارنګه کولی شئ پر sexualwellbeing.ie او mychild.ie وېب پاڼو باندې معلومات ومومئ.

## آيا زه کولی د خپلو والدينو يا پالونکي له پوهاوي پرته د کړکېچنې امېندوارۍ د مشورو لپاره لاړ شم؟

تاسو کولی شئ دHSE My Options له خدمت سره د 1800 82 8010 شمېرې له لارې اړيکه ونيسئ، يا www.myoptions.ie يا sexualwellbeing.ie وېب پاڼو ته مراجعه وکړئ.

که چېرې تاسو د مشورې خدمت ته زنګ ووهئ، نو تاسو کولای شئ د هغوی د تګلارې په اړه وپوښتئ چې آيا دوی د 18 کالو لاندې شخص ته د والدينو يا سرپرست له توافق پرته خدمت وړاندې کوي کنه. ځيني خدمتونه به له تاسو سره خبرې وکړي چې څنګه خپل والدين يا سرپرست ته وواياست، او دوی به په دې کار کې ستاسو ملاتړ وکړي.

نور خدمتونه به يوازې هغه وخت تاسو ته خدمات وړاندې کړي چې ستاسو والدين يا سرپرست له تاسو سره راشي.

## آيا د ځوانو يا نوو ځوانو والدينو لپاره کوم ځانګړی د ملاتړ خدمت شتون لري؟

د هېواد ځيني برخې د هغو ځوانو والدينو لپاره د امېندوارۍ د ملاتړ پروګرام (TPSP) لري چې تر 19 کلونو کم عمر لري او تر هغې چې ماشومان يې د دوه کلنی عمر بشپړوي. TPSP د ټولنې پر بنسټ رامنځ ته شوی خدمت دی چې ځوانو والدينو او بابا او نيا په څېر د کورنيو نورو غړو ته وړيا او محرم معلومات او مشورې ورکوي.

TPSP به تاسو ته د ځوانو والدينو په توګه ستاسو د حقونو، مستحقتوبونو او مسئوليتونو په اړه ووايي. هغوی همدارنګه کولی شي د لاندې خدماتو په اړه تاسو ته معلومات درکړي:

- هوساینه
- هستوګنه
- زده کړه
- روزنه
- د ماشوم مراقبت.

د دغه خدمت په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، www.tpsp.ie ته مراجعه وکړئ.

## آیا کولی شم د امېندوارۍ په حالت کې وړیا طبي مراقبت ترلاسه کړم؟

هو، تاسو د مورتوب او ماشوم د مراقبت د پروګرام له مخې تر هغې پورې د امېندوارۍ د وړیا مراقبت مستحق ګڼل کېږئ چې ستاسو ماشوم د شپږو اونیو کېږي. په دې کې لاندې موارد تر پوښښ لاندې نیول کېږي:

- د ډاکټر لیدنې
- له امېندوارۍ مخکې کلینیکونه
- د مورتوب روغتون کله چې ستاسو ماشوم زیږېږي
- له تولد وروسته دوې معاینې.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له خپل GP (ډاکټر) یا د روغتیا له محلي مرکز سره اړیکه ونیسئ. تاسو همدارنګه کولی شئ د پروګرام په اړه اضافي معلومات له MyChild.ie وېب پاڼې څخه ترلاسه کړئ.

## آیا زه لاهم کولی شم ښوونځي ته لاړه شم که چېرې امېندواره یم؟

هو، که چېرې امېندواره یاست، نو کولی شئ خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ.

تاسو ښايي د کورني تدریس د مرستي تر پروګرام لاندې د کور ښووني لپاره د مالي مرستې د ترلاسه کولو حق ولرئ. دغه پروګرام د 10 اوونیو لپاره هره اوونۍ د ښووني نهه ساعته تادیه کوي. دا معمولاً هغو زده کوونکو ته ورکول کېږي د امېندوارۍ په وروستيو مرحلو کې یا د ماشوم له زیږیدو وروسته ژر له ښوونځي څخه غیرحاضر وي. دغه پروګرام ته د لاسرسي لپاره، د پوهنې وزارت وېب پاڼې د ځانګړو اړتیاوو او تدریسي مالي مرستې له برخې سره اړیکه ونیسئ.

# آیا زه کولی شم جنین سقط کړم؟

بې پلانه امېندواري ښايي تاسو اندېښمن او ګېچ کړي. امېندواری ته دوام ورکول یا نه ورکول یوه شخصي پرېکړه ده. تاسو د سقط د جنین ترسره کولو لپاره باید د هېچا له خوا د مجبوره کولو احساس ونه کړئ.

که چېرې ستاسو امېندواري تر 12 اونیو ډېره نه وي، تاسو کولای شئ جنین سقط کړئ، په دې مانا چې ستاسو د وروستی میاشتنی دورې له لومړی ورځې راهیسې 84 ورځې تېرې شوې دي. له 12 اونیو وروسته تاسو یوازې په ځانګړو شرایطو کې کولای شئ جنین سقط کړئ. تاسو کولی شئ د مشورې او ملاتړ لپاره خپل GP یا محلي روغتیايي مرکز ته لاړ شئ.

تاسو همدارنګه کولی شئ له My Options سره اړیکه ونیسئ، چې د HSE وړیا تلفوني کرښه ده چې هغو خلکو ته وړیا او محرم معلومات او مشورې ورکوي چې د غیر پلان شوې امېندواری سره مخ دي. که چېرې تاسو وغواړئ امېندواری ته دوام ورکړئ، نو هغوی کولی شي په دې ګزینه کې مرسته درسره وکړي. که چېرې تاسو پرېکړه وکړئ چې غواړئ جنین سقط کړئ، هغوی همدارنګه کولای شي تاسو د جنین د سقط او له سقط وروسته ملاتړ په اړه تاسو ته معلومات درکړي.  هغوی همدارنګه کولی شي تاسو ته د توافق، محرمیت او د والدینو، پالونکي یا بل ملاتړونکي بالغ شخص په اړه وضاحت درکړي.

تاسو کولی شئ له دوشنبه تر جمعې د سهار له 9 بجو څخه د شپې تر 9 بجو پورې اړیکه ونیسئ او د شنبه په ورځو د سهار له 10 بجو څخه د ماسپښین تر 2 بجو پورې په 8010 82 1800 شمېره اړیکه ونیسئ یا د دوی وېب پاڼه My Options.ie وګورئ.

# له ضرر څخه
# د خوندیتوب په
# اړه زما حق





4

# 4.1 له ضرر څخه د خونديتوب په اړه زما حق

## آيا زه د دې حق لرم چې له ناوړه استفادې څخه خوندي وم؟

### هو. مهمه نده چې عمر مو څومره دی، تاسو د دې حق لرئ چې له هر ډول ناوړه استفادې، تاوتريخوالي او استثمار څخه خوندي وئ. دا سخته ده چې د ناوړه استفادې ځينې ډولونه وپېژندل شي. دا کولی شي سخت وي، خو له يو چا سره په دې اړه خبرې کول څه روان دي يو ښه ابتدايي ګام دی.

دا د ايالت قانوني مسئوليت دی چې ستاسو خونديتوب او هوساينې ته پاملرنه وکړي. په آيرلنډ کې داسې قوانين او سازمانونه شتون لري چې د ماشومانو د سوء استفادې، استثمار څخه د خوندي کولو او د ناوړه استفاده کوونکو د څيړنې او جزا ورکولو لپاره کار کوي. ګارډا او د عامه تعقيب رئيس ممکن د هغو کسانو په تعقيب کې رول ولري چې ماشومانو او ځوانانو ته زيان رسوي.

## ناوړه استفاده څه ده؟

څلور ډوله د ماشوم ناوړه استفاده شتون لري:

- بې غوري
- عاطفي
- فزيکي
- جنسي.

تاسو ښايي په ځانګړي وخت کې يو يا ډېر ډولونه د ناوړه استفادې تجربه کړئ.

بې غوري هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې يو بالغ شخص ونشي کولی تاسو ته پاملرنه وکړي او دا تاسو ته جدي زيان رسوي يا ستاسو د سمې ودې مخه نيسي. په بې غورۍ کې ښايي لاندې موارد شامل وي:

- په سمه توګه نه تغذيه کېدل، ساتل يا ګرمې جامې نه ورکول
- خوندي نه ساتل
- د لويانو له خوا پاملرنه او محبت نه ترلاسه کول
- ښوونځي ته مو نه راوستل
- د اړتيا په صورت کې ستاسو لپاره طبي مراقبت نه چمتو کول.

بې غوري داسې يو څه دی چې د وخت په تېرېدو سره ترسره کېږي او يوازې په يوه ځانګړي نقطه کې نه.

## عاطفي ناوړه استفاده

عاطفي ناوړه استفاده معمولاً هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې یو لوی کس:

- •مینه نه درسره کوي یا مو ملاتړ نه کوي
- له تاسو سره د کنټرولولو په توګه عمل کوي
- په مکرر ډول په داسي توګه درته خبري کوي چي په درناوي نه وي ولاړې
- ستاسو لپاره ډېر مهم دی
- په مکرر ډول د ناخوندیتوب احساس درکوي.

د سوء استفادې دا ډول ډېر د هغه اړیکي په اړه دی چې تاسو یې له یوه بالغ شخص سره لرئ، نه د کومي ځانګړې پېښې په اړه چي واقع کېږي. دا کېدی شي تاسو ته احساس درکړي چي ناامنه، ناخوښه، د ځان د ارزښت احساس کم او په ښوونځي یا ستاسو د ژوند نورو برخو کي کمزوری فعالیت کوئ.

## فزیکي ناوړه استفاده

په فزیکي ډول ناوړه استفاده هغه وخت پیښیږي کله چې یو بالغ شخص تاسو ته د فزیکي سزا درکوي یا نشي کولای داسي اقدام ترسره کړي چي تاسو په فزیکي ډول له ناوړه استفادې څخه خوندي کړي کله چې د داسي کار ترسره کول ممکن وي.

په دې ډول ناوړه استفاده کې شدیده فزیکي سزا او په قصدي ډول خوږول شاملېږي. په دې کې لاندې موارد شاملېږي اما په دې موارادو سره نه محدودېږي:

- څپېړه ورکول
- وهل
- چیچل
- ګورئ چې کوم ځوک مو وهي اما تاسو یې مخه نه نیسئ
- په ډارولو سره مو ګواښي.

## ناوړه جنسي استفاده

جنسي ناوړه استفاده یا استثمار هغه وخت رامنځته کېږي کله چې یو بالغ شخص تاسو د جنسي موخو لپاره وکاروي. ښایي لاندې موارد پکې شامل وي:

- په غلط ډول ستاسو لمسول
- له تاسو جنسي اړیکه ترسره کول
- تاسو مجبوره کول چي په جنسي اړیکه کې بوخت کس ته وګورئ
- د جنسي ماهیت لرونکو موادو درښودل
- ستاسو او د یوه بالغ کس ترمنځ غلطي جنسي اړیکي
- د انسانانو قاچاق او د فحشا لپاره استثمار کېدل.

## که چېرې داسې وانګېرم چې بد چلند راسره کېږي، د خوندیتوب احساس نه کوي یا ناوړه استفاده راڅخه کېږي، څه به کوم؟

تاسو د دې حق لرئ چې له هر ډول ناوړه استفادې څخه خوندي وئ. که چېرې تاسو په کور ښوونځي یا بل هر ځای کې هر ډول ناوړه استفاده تجربه کوئ، تر ټولو مهم شی د دی چې په دې اړه داسې یوه لوی کس ته وواياست چې باور ورباندې لرئ، ترڅو هغوی له تاسو څخه ملاتړ وکړي.

بیا تاسو یا هغه لوی کس چې تاسو باور وربانديې لرئ باید له خپل ټولنیز کارمند سره په Tusla کې اړیکه ونیسئ. د هغوی د اړیکو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د Tusla ویب پاڼه وګورئ.

که چېرې تاسو په بېړني حالت کې یا له رسمي ساعتونو د باندې (له دوشنبې تر جمعې د سهار له 9 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې) مرستې ته اړتیا لرئ، تاسو یا کوم بل داسې لوی کس چې باور وربانديې لرئ کولای شئ تر ټولو نږدې د ګارډا سټېشن عاجلې تلفوني کرښې 999 یا 112 ته زنګ ووهئ.

که چېرې تاسو د خپل ځان، ملګري یا داسې چا په اړه اندېښنه لرئ چې تاسو یې پېژنئ، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو له کرښې سره خبرې وکړئ. تاسو کولی شئ د ماشومانو کرښې ته په وړیا ډول د 1800 66 66 66 شمېرې له لارې زنګ ووهئ، 50101 ته پیغام واستوئ یا په آنلاین ډول د لاندې لېنک له لارې چټ وکړئ www.childline.ie. تاسو همدارنګه کولی شئ د جنسي تېرې د مرستې کرښې ته په 1800 77 8888 شمېره زنګ ووهئ. 10مه برخه وګورئ: چېرې کولی شم لاړ شم؟ د غه لاربنود د ملاتړ نورو سازمانونو ته.

## آیا هغه کس به کولی شي زما خبره محرم وساتي چې زه خبره ورته کوم؟

ځینې مسلکي کسان لکه مشاورین، ښوونکي او ډاکټران د قانون له مخې مجبور دي چې Tusla ته ووايي چې تاسو ورته ویلي چې تاسو ته زیان رسېدلی دی یا تاسو د زیان رسېدو په خطر کې یاست. که چېرې تاسو غواړئ په دې اړه ډېرې خبرې وکړئ، تاسو کولای شئ د ماشومانو له کرښې سره په وړیا توګه خبرې وکړئ:

- تلفون 1800 66 66 66
- پیغام 50101
- آنلاین چټ وکړئ www.childline.ie



## Tusla څه ده؟

د ماشوم او کورنۍ اېجنسي چې د Tusla په نوم هم یادېږي، یو داسې ملي سازمان دی چې په آیرلنډ کې د ماشومانو د خوندیتوب او سلامتیا مسئولیت پر غاړه لري. که چېرې تاسو ونه شئ کولی له خپلې کورنۍ سره ژوند وکړئ، Tusla مسئولیت لري ډاډ حاصل کړي چې تاسو د ژوند کولو ځای لرئ او لویان پاملرنه درته کوي.

## د ټولنیز کارمند رول څه دی؟

ټولنیز کارمندان د هغه خدمت برخه دي چې د Tusla له خوا چمتو کېږي. ټولنیز کارمندان د هغو ماشومانو ملاتړ کوي چې د ځورېدنې یا ناخوندیتوب له خطر سره مخ دي. دا د ټولنیزو کارمندانو مسئولیت دی چې تاسو خوندي وساتي او ملاتړ مو وکړي که چېرې تاسو په کور کې یا په خپل ژوند کې د ناخوندیتوب احساس کوئ.

## زه څنګه کولی شم له ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسم؟

ټولنیز کارمندان له دوشنبې تر جمعې د سهار له 9 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې شتون لري. په ټول آیرلنډ کې ټولنیز کارمندان شتون لري. په څپله سیمه کې له ټولنیز کارمند سره د اړیکو نیولو لپاره تاسو باید د Tusla له خپل محلي ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسئ. تاسو کولی شئ دا کار د تلفون، برېښنالیک یا دفتر ته په زنګ وهلو سره ترسره کړئ.

تاسو کولی شئ خپل ټولنیز کارمند ته په زنګ وهلو سره چې شمېره یې د Tusla پر وېب پاڼه شتون لري، د ټولنیز کارمند د اړیکو معلومات ترلاسه کړئ).

## د ګارډا د Síochána رول څه دی؟

ګارډا Síochána په آیرلنډ کې د ملي پولیسو خدمت دی. دا د هغوی مسئولیت دی ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو خوندي یاست او له هیڅ ډول خطر سره مخ نه یاست. په ټول آیرلنډ کې د ګارډا محلي سټېشنونه شتون لري. د ګارډا د بېړني وضعیت وریا تلفوني شمېرې 999 او 112 دي. ګارډا په ورځ کې 24 ساعته شتون لري.

## د کورنۍ کوم ډول ملاتړ شتون لري چې له ما او زما له کورنۍ سره مرسته وکړي؟

د کورنۍ د ملاتړ خدمات شتون لري چې له تاسو او ستاسو له کورنۍ سره مرسته وکړي ترڅو له ستونزمنو حالاتو سره مبارزه وکړئ، لکه:

- په کورنۍ کې شخړه
- زده کړو ته لاسرسی
- بېلتون
- تاسو ته د نږدې کس مړینه
- روږدیتوب.

په دغه ملاتړ کې د مشورو ورکړه، ملاتړي ګروپونه، د ټولنیزو کارمندانو لیدنې یا د کورنۍ له ملاتړو کارمندانو سره کار کول شاملېږي. د ملاتړ خدمات به خپل نهایي کوښښ وکړي ترڅو ډاډمن شي چې تاسو کولی شئ له خپلې کورنۍ سره پاتې شئ، که چیرې دوی فکر وکړي چې دا ستاسو لپاره غوره ده. تاسو کولی شئ د دغه ملاتړ په اړه ډېر معلومات له Tusla څخه ترلاسه کړئ: www.tusla.ie.

## که چیري ماته شک پیدا شي چې یو ماشوم کافي پاملرنه، او ساتنه نه ترلاسه کوي یا د سوء استفادې سره مخ دی، نو باید څه وکړم؟

د ماشوم په محلي سیمه کې د Tusla کې له مسئول کارمند سره اړیکه ونیسئ (له ټولنیز کارمند سره د اړیکې نیولو د څرنګوالي په اړه مخکینی پاڼه وګورئ). که چیرې له رسمي ساعتونو څخه د باندې وخت وي او تاسو فکر کوئ چې ماشوم له سملاسي خطر سره مخ دی، تاسو کولی شئ له ګارډا سره په 999 یا 112 شمېره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شئ د ماشومانو د سوء استفادې او له هغې سره د مقابلې په اړه نور معلومات د ماشومانو د خوندیتوب او سلامتیا لپاره د ماشومانو د لومړي لارښود په لوستلو سره ترلاسه کړئ، چې د Tusla پر ویب پاڼه شتون لري.

## په کور کې د ننه له خطر څخه د خپل ماشوم د خوندیتوب لپاره څه کولای شم؟

تاسو کولی شئ له محکم څخه د حکم غوښتنه وکړئ ترڅو تاسو او ستاسو ماشوم له کورني تاوتریخوالي څخه خوندي کړي. محکمه کولی شي د خوندیتوب حکم صادر کړي، چې کولی شي کوم څوک له دې څخه منعه کړي ستاسو او ستاسو د کورنی پر وړاندې له تاوتریخوالي څخه کار واخلي.

که چیرې کوم شخص له تاسو سره ژوند کوي، د خوندیتوب مسئول به هغوی له لاندې کړنو څخه منعه کړي:

- له تاوتریخوالي څخه استفاده، یا ګواښ کول چې د درخواست کوونکی/متکي کس پر وړاندې به تاوتریخوالی کوي، یا
- د درخواست کوونکي/متکی کس څورول یا په وېره کې اچول.

که چیرې شخص له تاسو سره نه اوسیږي، د خوندیتوب حکم هغوی له لاندې کارونو څخه منعه کوي:

- شاوخوا ګرځېدل
- ستاسو کور ته کتل،
- ستاسو او ستاسو د کورنۍ تعقیبول یا له تاسو سره اړیکه نیول ( چې په دې د برېښنايي وسیلو په واسطه اړیکه نیول هم شاملیږي).

د خوندیتوب حکم تر هغه مهال د اجراء وړ دی تر کله چې تاسو د محکمې استماعیه غونډه ترلاسه کوئ. په دې مرحله کې محکمه کولی شي تاسو ته لاندې حکمونه درکړي:

- د خوندیتوب حکم - دا یو اوږدمهاله حکم دی چې د خوندیتوب حکم ته ورته کارونه ترسره کوي، یا
- د بندیز حکم – دا داسې یو حکم دی چې تاوتریخوالی کوونکی شخص کور ته نه پرېږدي.

په ځانګړو حالاتو کې، Tusla همدارنګه کولی شي ستاسو په استازیتوب د حکم غوښتنه وکړي.

ډېر داسي خدمات شتون لري چې د هغو کسانو لپاره لنډ مهاله او اوږد مهاله پناه ځایونه وړاندي کوي چې له کورني تاوتريخوالي څخه د تېښتي په هڅه کي دي. که چېرې تاسو يا ستاسو د کورنۍ کوم غړی دا مهال کورنۍ تاوتريخوالی تجربه کوئ، يو شمېر داسي سازمانونه شتون لري چې کولای شي له تاسو سره مرسته وکړي. دغه سازمانونه کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو لاندې خدماتو ته لاسرسی ولرئ:

- سر پناه
- حقوقي مشورې
- عاطفي ملاتړ
- د شته خدماتو په اړه مشورې.

مهرباني وکړئ 10مې برخې ته لاړ شئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د تفصيلاتو لپاره.

تاسو همدارنګه کولی شئ د مشورې او مرستې لپاره د ښځو د مرستې ملي تلفوني کرښې ته په 1800 341 900 شمېره زنګ ووهئ.



# 4.2 د ايالت تر مراقبت لاندې ماشومان

## دا څه مانا کله چې د ايالت تر مراقبت لاندې ياست؟

Tusla (د ماشوم او کورنۍ اداره) ستاسو په مراقبت کې ښکېلېږي که چېرې پرېکړه وکړي چې تاسو ته په کورم کې سمه پاملرنه نه کېږي - دې ته ايالتي يا حکومتي مراقبت وايي. که چېرې تاسو د مراقبت لپاره ورل کېږئ، تاسو به يا په يوه پالونکي کورنۍ کې اوسېږئ ( چې کېدی شي ستاسو خپلوان وي) يا به د مسکوني مراقبت په کور کې ژوند کوئ.

## زه به څنګه مراقبت ته ورل کېږم؟

بېلابېلې لارې شتون لري چې ماشومان او ځوانان به څنګه مراقبت ته ورل کېږي.

که چېرې ستاسو والدين او Tusla دواړه توافق وکړي چې په کور کې ژوند کول ستاسو لپاره غوره نه دي، ستاسو والدين به توافق وکړي چې تاسو مراقبت ته يوړل شئ (دې ته داوطلبانه مراقبت وايي).

که چېرې ستاسو والدين توافق ونه کړي چې تاسو بايد ايالتي مراقبت ته لاړ شئ، اما Tusla فکر کوي چې ښه دليل شتون لري چې تاسو بايد له کوره وايستل شئ، ياده اداره بايد محکمې ته لاړه شي او له يوه قاضي څخه غوښتنه وکړي او (د مراقبت د حکم له مخې) مراقبت ته ستاسو د ورلو حکم وکړي. که چېرې قاضي توافق وکړي، هغوی به د لنډ مهال لپاره د مراقبت حکم صادر کړي.

ستاسو ټولنيز کارمندان مکلف دي چې ستاسو د اوږدمهاله مراقبت لپاره په پلان باندې توافق وکړي بايد ستاسو د وضعيت ارزونه ترسره کړي. له تاسو څخه به په دې اړه ستاسو د نظرياتو غوښتنه وشي.

که چېرې محکمه د مراقبت حکم صادر کړي او تاسو ستاسو د والدينو د هيلو خلاف حکومتي مراقبت ته يووړل شئ، هغوی کولای شي د محکمې د حکم مخالفت وکړي.

د ځارنې حکم: دا Tusla ته اجازه ورکوي ترڅو له هغه ماشوم څخه ځارنه وکړي چې دوی فکر کوي په خطر کې دی. تاسو له خپل کور څخه نه ايستل کېږئ. د ځارنې حکم ښايي 12 مياشتې دوام ومومي. کله چې اصلي حکم پای ته رسېږي، نو Tusla کولی شي مکرراً د حکم د تمديد غوښتنه وکړي.

دواطلبانه مراقبت: ستاسو والدين کولی شي له ټولنيز کارمند سره په ګډه تصميم ونيسي چې تاسو محمکې ته له تګ پرته په مراقبت کې واچوي.

د لنډمهاله مراقبت حکم: دغه حکم ترسره کېدی شي په داسې حال کې د بشپړې پالنې د حکم لپاره په انتظار کې ياست. تاسو به د 29 ورځو ولپاره د Tusla د مراقبت لپاره ځای پر ځای شئ سره له دې چې د ناحيې محکمه کولی شي دغه موده پراخه کړي.

د مراقبت حکم: دغه حکم تاسو ته اجازه درکوي چې د خپلو والدينو له مراقبت څخه وايستل شئ او د Tusla تر مراقبت لاندې راشئ. د مراقبت حکم کېدی شي تر هغې دوام وکړي ترڅو چې تاسو 18 کلن کېږئ.

د بېړني مراقبت حکم: دغه حکم په بېړني حالت کې د اتو ورځو لپاره تاسو د Tusla تر مراقبت لاندې راولي.

## که چېرې مراقبت ته ولیږدول شم، نو زما حقونه به څه وي؟

که چېرې مراقبت ته واستول شئ، نو تاسو د یو شمېر حقونو لرونکي یاست. Tusla باید دا یقیني کړي چې ستاسو په هکله هر ډول کېدونکي پرېکړه باید په داسې توګه ترسره شي چې ستاسو په ګټه وي. ستاسو ټولنیز کارمند باید تاسو ته د ترسره کېدو پېښو په اړه وواي اما هغه چې تاسو ته ویل کېږي، ستاسو له عمر او پخوالي سره تړاو لري. تاسو د دې حق لرئ چې ستاسو د مراقبت په اړه د ترسره کېدونکو پرېکړو پر مهال ستاسو غږ واورېدل شي. ستاسو هیلې باید د امکان تر حده په پام کې ونیول شي.

که چېرې په محکمه کې د مراقبت د حکم غوښتنه وشي، قاضي باید ستاسو هیلې په پام کې ونیسي که چېرې هغوی داسې وانګېري چې تاسو په کافي اندازه پاخه شوي یاست چې په هغه څه پوه شئ چې واقع کېږي.

## که چېرې زه په مراقبت کې یم، نو زما لپاره څه ډول ملاتړ او مرسته شتون لري؟

په مراقبت کې د خلکو ځواکمنتیا (EPIC) د لاندې ماشومانو لپاره د مدافعي خپلواک ملاتړ چمتو کوي:

- هغه ماشومان چې مراقبت ته وړل کېږي
- چې له مخکې څخه په مراقبت کې وي
- د مراقبت پروسې طی مراحل کوي.

EPIC کولی شي د ځوان کس د ملاتړ مرسته وکړي ترڅو د هغه څه په هکله خبرې وکړي چې غواړي یې. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د EPIC ویب پاڼه وګورئ.

تاسو همدارنګه کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف له مرستندویه کرښې سره اړیکه ونیسئ که چېرې د خپلو حقونو په اړه ډېرو معلوماتو ته اړتیا لرئ:

- تلفون 01-902 0494
- برېښنالیک help@childrensrights.ie.

## کله چې زه په مراقبت کې یم، څوک زما لپاره مسئول دي؟

معمولاً Tusla به (ستاسو د ټولنیز کارمند له لارې) ستاسو د مراقبت په اړه ټولې مهمې پرېکړې ترسره کړي، لکه هغه مراقبت چې تاسو اړتیا ورته لرئ او دا چې تاسو باید چېرې واوسېږئ.

که چېرې تاسو د پالنځي یا مسکوني مراقبت کې یاست، ستاسو پالونکي یا د مسکوني مرکز مراقبین به د هغو ورځنیو پرېکړو مسئولیت پر غاړه ولري چې ستاسو پر ژوند باندې اغېز کوي.

که چېرې ستاسو والدین توافق وکړي چې تاسو باید تر مراقبت (داوطلبانه مراقبت) لاندې راشئ، هغوی لا هم د دې حق لري چې په ټولو هغو تصامیمو کې برخه واخلي چې ستاسو پر ژوند باندې اغېز کوي.

که چېرې ستاسو لپاره د لنډمهاله مراقبت حکم صادر شي، ستاسو له والدینو سره بیا هم باید ستاسو د ژوند د ډېرو مسائلو په هکله مشوره وشي.

## آیا کله چې په مراقبت کې یم، کولی شم پریکړه وکړم چې چیرې به اوسیږم؟

د امکان تر حده، تاسو به خپله ټولنه کې ژوند کوئ. تاسو نه شئ کولی د خپل ځان لپاره پریکړه وکړئ چې چیرې به اوسیږئ. ستاسو ټولنیز کارمند او Tusla به ستاسو لپاره پریکړه کوي اما ستاسو ټولنیز کارمند باید تاسو ته غوږ ونیسي او ستاسو نظریات په پام کې ونیسي.

په ډیری مورادو کې، ماشومان به له پالونکي کورنی یا له خپلوانو سره ( چې د خپلوانو پالونکو په نامه یادیږي)، ژوند کوي په ځانګړې توکه که چیرې ستاسو عمر تر 12 کلونو ټیټ وي.

ځیني ماشومان ښایي د ماشومانو په مسکوني مرکزونو کې واوسیږي.

## آیا زه د دې حق لرم چې ټولنیز کارمند ته د لاسرسي حق ولرم؟

هو، تر مراقبت لاندې هر ماشوم د ټولنیز کارمند د لرلو حق لري. ټولنیز کارمند د Tusla له خوا ګومارل کیږي. هغوی به له تاسو سره وګوري> ترڅو ستاسو ملاتړ وکړي او تاسو ته ستاسو د اړتیا وړ معلومات او مشورې درکړي. تاسو ته باید ستاسو د ټولنیز کارمند د تلفون شمیره درکړل شي، ترڅو د اړتیا په صورت کې وکولی شئ اړیکه ورسره ونیسئ.

ستاسو ټولنیز کارمند مسئولیت لري، ترڅو ستاسو لپاره د مراقبت پلان جوړ او عملي کړي.

## که چیرې زه ټولنیز کارمند ونه لرم، نو له چا سره به اړیکه نیسم؟

که چیرې تاسو ټولنیز کارمند نه لرئ، نو تاسو کولی شئ د ټولنیزو کارونو له خپل محلي دفتر سره اړیکه ونیسئ او د ټولنیز کارمند غوښتنه ځني وکړئ. تاسو همدارنګه کولی شئ له EPIC سره اړیکه ونیسئ چې د هغو ماشومانو لپاره د مدافعي خپلواک ملاتړ چمتو کوي، چې مراقبت ته ورل کیږي، تر مراقبت لاندې دي، یا د مراقبت د پروسې مراحل طی کوي. EPIC کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې تاسو یې لرئ. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د EPIC ویب پاڼه وګورئ .

تاسو کولی شئ د ټولنیزو کارونو د خپل محلي دفتر د اړیکي معلومات د Tusla پر ویب پاڼه ومومئ.



## د مراقبت پلان څه دی؟

مخکې له دې چې تاسو په مراقبت (پالنځای یا مسکوني) مراقبت کې ځای پر ځای شئ، ټولنیز کارمند باید ستاسو لپاره د مراقبت پلان جوړ کړي. ستاسو پلان باید د لاندې موارد و لرونکی وي.

1. ستاسو د مراقبت د ترسره کېدو موخې.
2. د Tusla ملاتړ به تاسو ته لاندې شیان درکړي:
   - تاسو
   - ستاسو سرپرست مراقبت کوونکي
   - د هستوګنې مرکز
   - په ځینو موارد و کې، ستاسو والدین.
3. ستاسو او ستاسو د والدینو، خپلوانو یا کوم بل داسې چا تر منځ د لاسرسي په اړه ترسره شوي اقدامات چې له تاسو سره د اړیکو نیولو حق لري.
4. ستاسو د مراقبت پلان به کله ارزول کېږي..

تاسو کولی شئ چې په خپل پلان کې خپل نظریات ځای پر ځای کړئ. که چېرې تاسو په بېړنیو حالاتو کې په مراقبت کې ځای پر ځای شئ، Tusla باید له بېړني وضعیت وروسته څومره ژر چې امکان ولري ستاسو د مراقبت پلان چمتو کړي.

## زما د مراقبت اړوند تابیاوې به کله ارزول کېږي؟

یو ملاقات چې "په مراقبت کې د ماشوم بیاکتنه" بلل کېږي باید د دې نه دوه میاشتې وروسته ترسره شي چې تاسو لومړی پاملرنې ته داخلېږئ. دا باید د دې ارزونه وکړي چې تاسو څنګه پر مخ ځئ. ارزونه باید په مراقبت کې ستاسو د ځای پر ځای کېدو په لومړیو دوو کلونو کې په هرو شپږو میاشتو کې یو ځل ترسره شي. له دې وروسته، ستاسو دمراقبت پلان باید په کال کې لږ تر لږه یو ځل ترسره شي.

## آیا زه کولی شم په مراقبت کې د ماشوم ارزونې ته لاړ شم؟

هو، ستاسو ټولنیز کارمند باید تاسو ته ووایي چې د ارزونې غونډه به کله ترسره کېږي. تاسو په دغو غونډو کې د ګډون او د خپلو نظریاتو د شریکولو حق لرئ. تاسو همدارنګه کولی شئ له ځان سره کوم څوک راولئ چې ملاتړ او ملګرتیا مو وکړي لکه د EPIC مدافع وکیل.

نور خلک لکه ستاسو والدین، ښوونکي، مشاورین، د پالنځای پالونکي او نور هغه خلک چې له تاسو سره کار کوي هم کولی شي دغو غونډو ته راشي.

تاسو د دې حق لرئ چې د هرې هغې پرېکړې په اړه درته وویل شي چې ستاسو د مراقبت پلان د ارزونې په پایله کې ترسره کېږي.

## آیا زه د دې حق لرم یوه شم چې زما د مراقبت په پلان کې څه دي؟

هو، تاسو باید په خپل مراقبتي پلان کې په مهمو ټکو پوه وئ. تاسو هر وخت چې وغواړئ له خپل ټولنیز کارمند یا د مسکوني مراقبت له کار کوونکو څخه غوښتنه وکړئ چې په دې اړه معلومات درکړي چې ستاسو پلان کې څه دي. تاسو همدارنګه باید د خپل مراقبت پلان یوه کاپي له خپل ټولنیز کارمند څخه ترلاسه کړئ.

## آیا زه د دې حق لرم کله چې زما د مراقبت په اړه پرېکړه کېږي، زما نظریات واورېدل شي؟

هو، اما محکمه ستاسو د غږ اورېدو لپاره بېلابېلې لارې لري. دا ستاسو عمر او پخوالي پوړې او د قاضي په هیلو پورې اړه لري. ستاسو تولینز کارمند به په محکمه کې وي او قاضي ته به ستاسو د اړتیاوو په اړه ووايي.

په ځینو مواردو کې، قاضي ښايي ستاسو لپاره مؤقتي استازی وټاکي. دا هغه څوک دی چې:

- دا یقیني کوي چې قاضي ستاسو نظریات اوري
- قاضي ته لاربښوونې کوي چې ستاسو لپاره څه غوره دي.

قاضي ښايي وغواړي له تاسو سره په مستقیم ډول خبرې وکړي یا کوم بل متخصص ولري چې له تاسو سره خبرې وکړي. تاسو کولی شئ محکمې ته د تګ غوښتنه کړئ، یا کولی شئ قاضي ته یو لیک ولیکئ. قاضي ښايي تاسو ته غوږ ونیسي چې څه غواړئ، اما هغوی ښايي داسې پرېکړه وکړي چې ستاسو نظریات نه تعقیبوي. مؤقتي استازی هم په دې هکله چې ستاسو لپاره څه غوره دي، ښايي له تاسو څخه متفاوت نظریات ولري

تاسو همدارنګه کولی شئ دا غوښتنه وکړئ چې د قضیې یوه برخه وګرځئ، چې په دې معنی ده چې تاسو به په محکمه کې د خپل وکیل لخوا استازیتوب وکړئ. دا د هغه څه په واسطه ترسره کېږي چې د 25مې برخې درخواست په نوم پېژندل کېږي. که چېرې تاسو په دې اړه ډېرو معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف له مرستندویه کرښې سره اړیکه ونیسئ.

EPIC کولی شي ستاسو ملاتړ وکړي او په محکمه یا غونډو کې مو ملتیا وکړي، د لا زیاتو معلوماتو لپاره د هغوی ویب پاڼه وګورئ.

## آیا زه د دې حق لرم چې په محکمه کې حضور ولرم کله چې زما قضیه اورېدل کېږي؟

کله چې ستاسو قضیه اورېدل کېږي، نو تاسو حق نه لرئ چې په اتوماتیک ډول حضور ولرئ. په هر صورت، که تاسو غوښتنه وکړئ چې د استماعیې لپاره یا د استماعیې د کومې ځانګړې برخې لپاره باید حضور ولرئ، قاضي ستاسو غوښتنې ته باید مثبت ځواب ووايي مګر دا چې هغوی فکر وکړي چې دا به ستاسو لپاره غوره وي چې هلته حضور ونلرئ.

## آیا زه د دې حق لرم چې په محکمه کې زما محرمیت خوندي وساتل شي؟

هو. کله چې ستاسو قضیه په محکمه کې اورېدل کېږي، یوازې ځانګړو خلکو ته به اجازه ورکړل چې هلته حضور ولري او د قضیې په اړه راپور چمتو کړي. هغوی اجازه نه لري چې ستاسو په هکله هېڅ داسې معلومات شریک کړي چې د خلکو په منځ کې ستاسو هویت څرګند کړي - لکه په ورځپاڼه کې یا په آنلاین ډول. ستاسو نوم، پته او تصویر به له چا سره نه شریکېږي. دا د کامرې د قانون په نامه یادېږي.

## آیا زه د دې حق لرم چې مراقبت پرېږدم او کور ته لاړ شم؟

نه، تاسو نه شئ کولی تر 18 کلنی پورې د پرېښودو پرېکړه وکړئ.

که چېرې تاسو د داوطلبانه ترتیباتو په اساس په پاملرنه کې یاست، نو ستاسو والدین ممکن خپل توافق بېرته واخلي او تاسو کور ته راولي. که چېرې داسې پېښ شي او ستاسو ټولنیز کارمند خوښ نه وي چې ستاسو اړتیاوې به کور ته په تګ سره پوره شي، ټولنیز کارمند بنایي له محکمې څخه د مراقبت د حکم غوښتنه وکړي چې تاسو په مراقبت کې وساتي.

که چېرې تاسو د مراقبت د حکم په اساس په مراقبت کې یاست، محکمه بنایي پرېکړه وکړي چې هغه دلایل چې تاسو په لومړي ځای کې مراقبت ته وړل شوي یاست بدل شوي دي او نور ستاسو د خوندیتوب او سلامتیا په اړه اضافي اندېښنې شتون نلري. که داسې وشي، نو تاسو کولی شئ کور ته لاړ شئ. تاسو حق لرئ چې غږ مو په دې پرېکړه کې واورېدل شي.

## آیا زه د دې حق لرم چې په مراقبت کې د اوسېدو پر مهال له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم؟

هو. کله چې تاسو په پالنځي یا مسکوني مراقبت کې یاست، Tusla باید ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو له خپلو والدینو یا پالونکي او نورو خپلوانو سره مناسبې اړیکې لرئ او لاسرسی ورته لرئ مګر دا چې قاضي فکر وکړي چې دا ستاسو لپاره خوندي نه دی یا غوره نه دی. دغه اړیکه کېدی چې د لیدنو، تلفوني اړیکو یا لیکونو یا برېښنالیکونو په بڼه وي. Tusla همدارنګه باید ډاډ حاصل کړي چې تاسو له بل هر هغه چا سره اړیکه لرئ چې ستاسو له مراقبت سره لېوالتیا لري لکه نیا او بابا، عمه، کاکا یا د کورنۍ ملګری. که چېرې تاسو غواړئ کله ناکله خپله کورنۍووینئ، نو کولی شئ له خپل ټولنیز کامند څخه د دې غوښتنه وکړئ.

## آیا زه د دې حق لرم چې په مراقبت کې د خپل دین (که چېرې شتون ولري) پیروي وکړم؟

هو. تاسو د دې حق لرئ چې د مراقبت پر مهال د خپل دین پیروي وکړئ، که چېرې کوم یولرئ. Tusla باید خپل نهایي کوښښ وکړي، ترڅو تاسو ته دا ورتیا درکړي چې په خپل دین باندې عمل وکړئ. Tusla همدارنګه باید کله چې تاسو له پالونکي کورنۍ سره ځای پر ځای کوي، باید ستاسو مذهب او ستاسو د والدینو هیلې په پام کې ونیسي.

## آیا زه کولی شم خلکو ته ووایم چې په مراقبت کې یم؟

تاسو کولی شئ خلکو ته وواياست چې تاسو په مراقبت کې یاست. په هر صورت، تاسو باید متوجه اوسئ کله چې د خپل مراقبت د وضعیت په اړه آنلاین یا په کوم بل ډول معلومات نشروئ. هېڅوک اجازه نه لري چې تاسو ته د هغه ماشوم په توګه چې په پاملرنه کې واست یا اوس پاملرنه کې یاست، په عامه رسنیو یا لیکلي خپرونو کې ستاسو هویت څرګند کړي.

## که چېرې په مراقبت کې خوښ نه یم، زما حقونه به څه وي؟

تاسو د دې حق لرئ په مراقبت کې هر وخت چې وغواړئ د خپل ټولنیز کارمند د لیدو غوښتنه وکړئ. له Tusla څخه کوم څوک باید ستاسو د مراقبت په لومړۍ میاشت کې تاسو ته مراجعه وکړي، بیا د هغو لومړیو دوو کلونو په جریان کې هر درې میاشتې، او وروسته له هغې هر شپږ میاشتې. که چېرې ستاسو په مراقبت کې ستونزه شتون ولري، Tusla باید دا یقیني کړي چې ستاسو سلامتیا خوندي ده. که چېرې تاسو له مراقبت سره خوښ نه یاست، تاسو د دې حق لرئ چې:

- Tusla ته شکایت وکړئ
- د شکایاتو په طرزالعملونو باندې باید پوه شئ (کوم څوک یې باید درته تشریح کړي)
- د شکایت د ترسره کولو لپاره مو باید ملاتړ وشي، د بېلګې په توګه، د والدینو یا خپلواک مدافع وکیل له خوا ( هغه څوک چې ستاسو په استازیتوب عمل کوي)
- د خپل شکایت په نتیجه (پایلو) باندې پوهېدل
- ستاسو په هکله د هر ډول پرېکړې د ترسره کېدو یوه کاپي ترلاسه کول.

که چېرې تاسو د شکایت له پروسې څخه ناخوښه یاست، نو تاسو د دې حق لرئ چې د ماشومانو لپاره د شکایاتو مسئول ته شکایت وکړئ. تاسو همدارنګه کولی شئ له EPIC سره اړیکه ونیسئ، چې د هغو ماشومانو لپاره چې په مراقبت کې دي او مراقبت پرېږدي یو لړ خدمات چمتو کوي. 10مه برخه وګورئ: چېرې کولی شم د مرستې لپاره لاړ شم؟ د غه لاربنود د دغو سازمانونو د اړیکو معلومات.

د والدینو او پالونکي لپاره

### آیا زه کولی شم له Tusla څخه غوښتنه وکړمخ چې په مراقبت کې د ماشوم ځای پر ځای کولو د ارزونې غوښتنه وکړم؟



هو. که چېرې تاسو تر مراقبت لاندې ماشوم له هوساینې سره تړاو لرئ، تاسو Tusla ته لیک واستوئ او غوښتنه ځنې وکړئ چې د ماشوم د ځای پر ځای کولو لپاره ځانګړې ارزونه ترسره کړي. که چېرې Tusla پرېکړه وکړي چې دا کار به نه کوي، هغوی باید تاسو ته په لیکلې بڼه د خپلې پرېکړې دلایل واضح کړي.

## کله چې زه 18 کلن کېږم، څه به کېږي؟

مخکې له دې چې تاسو مراقبت پرېږدئ، Tusla باید د هغه څه په اړه ارزونه وکړي چې تاسو ښايي د 18 کلن کېدو پر مهال اړتیا ورته ولرئ او د مراقبت سیستم پرېږدئ - دا له مراقبت وروسته حالت په نامه یادېږي. ستاسو د اړتیاوو دغه ارزونه باید په لیکلي بڼه ثبت شي.

که چېرې تاسو د 13 کلنۍ او 18 کلنۍ عمر په منځ کې د 12 میاشتو لپاره په مراقبت کې یاست، تاسو د مراقبت وروسته داسې پلان مستحق یاست چې څرګنده کړي چې ستاسو اړتیاوې به څنګه پوره کېږي.

دا چې تاسو له مراقبت وروسته پلان لپاره مستحق یاست، تاسو په اتوماتیک ډول د دې حق نه لرئ چې په دغه پلان چې ځای پر ځای شوو خدماتو ته لاسرسی ولرئ. له مراقبت وروسته حالت په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره له EPIC سره اړیکه ونیسئ.

له مراقبت وروسته ملاتړ ښايي په دې مانا وي چې تاسو په لاندې برخو کې مرسته ترلاسه کوئ:

- د ښوونځي تادیات
- د درېمي کچې یا نور فیسونه او لګښتونه
- په کاري زده کړه کې ګډون کول
- د ژوند کولو لپاره د ځای موندل.

Tusla کولی شي له تاسو سره تر هغې پورې مرسته وکړي چې تاسو 21 کلن کېږئ مګر دا چې تاسو زده کړې کوئ، چې په دې

## د ځانګړي مراقبت څانګه څه ده او آیا کېدی شي زه هغې ته واستول شم؟

د ځینو ماشومانو او ځوانانو چلند کولی شي د هغوی هوساینه، روغتیا یا رشد په خطر کې واچوي. په دغو نادرو حالاتو کې، تولنیز کارمند ښايي له محکمې څخه غوښتنه وکړي چې اړونده ماشوم یا ځوان کس په آیرلنډ کې یا د باندې د هغوی هوساینې او خوندیتوب په موخه د ځانګړې مراقبت په څانګه کې توقیف کړل شي.

د ځانګړې پاملرنې واحد د اوسېدو یو خوندي ځای دی چې دروازې او کړکۍ یې قلف وي، چېرې چې ستره محکمه هغه ماشومان یا ځوانان چې عمرونه یې د 11 څخه تر 17 کلونو پورې وي، ځای پر ځای کوي کله چې هغوی د خپلې روغتیا یا امنیت لپاره ګواښ ګڼل کېږي. د مراقبت د نورو ځایونو په پرتله د، د مراقبت څانګې څانګه ډېر کارمندان لري. هغوی همدارنګه تعلیمي، درملنیز او ځانګړی ملاتړ لري ترڅو ماشوم یا ځوان کس سره د چلندي ستونزو یا نورو مشکلاتو په حل کولو کې مرسته وکړي. موخه د ژورې او لنډ مهاله پاملرې یا مراقبت وړاندې کول دي چې له ځوان کس سره مرسته وشي چې لا ثابت شي ترڅو څومره ژر چې کولی شي بېرته عادي مراقبت ته راوګرځي.

## په ځانګړي مراقبت کې زما لپاره څه ډول ملاتړ شتون لري؟

EPIC د لاندې ماشومانو لپاره د مدافعې خپلواک ملاتړ چمتو کوي:

- هغه ماشومان چې مراقبت ته ورل کېږي
- چې په پاملرنه کې وي.
- د مراقبت پروسې طی مراحل کوي.

هغوی کولی شي د ځوان کس د ملاتړ مرسته وکړي ترڅو د هغه څه په هکله خبرې وکړي چې غواړي یې. د لازیاتو معلوماتو لپاره، د EPIC ویب پاڼه وګورئ. EPIC په آیرلنډ کې د ځانګړي مراقبت ځانګې ته د لیدنو د ملاتړ خدماتو وړاندې کوي.

که چېرې د خپلو حقونو په اړه ډېرو معلوماتو ته اړتیا لرئ، نو تاسو همدارنګه کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف له مرستندویه کرښې سره په 0494 902-01 شمېره اړیکه ونیسئ یا په لاندې پته برېښنالیک ورته واستوئ.help@childrensrights.ie

## که چېرې د ځانګړي مراقبت په ځانګه کې ځای پر ځای شم، زما حقونه به څه وي؟

یوازې د سترې محکمې قاضي کولی شي دا حکم وکړي چې تاسو به د ځانګړي مراقبت په ځانګه کې ځای پر ځای کېږئ. ستاسو ټولنیز کارمند او د امکان په صورت کې ستاسو مؤقتي استازی به له قاضي سره ستاسو نظریات او ستاسو د لېوالتیاوو مسلکي ارزونه شریکه کړي، اما تاسو د وکیل د لرلو مستحق نه یاست. ځای پر ځای کول کېدی شي له دریو تر شپږو میاشتو پورې وي. له دې وخت وروسته، محکمه باید د ځای پر ځای کېدو ارزونه ترسره کړي. محکمه خپله کولی شي پرېکړه وکړي چې د مراقبت په ځانګړي ځانګه کې ستاسو د ځای پر ځای کولو په حکم کې بدلون راولي یا Tusla کولی شي د دې کار غوښتنه وکړي..

# په کورنۍ
# کې زما حق







5

# 5.1 عمومي

## آیا زه د دې حق لرم چې له خپلې کورنۍ سره ژوند وکړم؟

هو، که چېرې دا کار ستاسو لپاره غوره گزینه وي، نو تاسو کولی شئ له خپلې کورنۍ سره ژوند وکړئ.

## سرپرستي یا پالنه څه شی ده؟

سرپرستي هغه کلمه ده چ د خپلو ماشومانو د روزنې په اړه د والدینو حقونه او دندې بیانوي. ستاسو پالونکی یا سرپرست د دې حق لري چې ستاسو د ژوند په هکله تولې لویې پرېکړې وکړي. په دې خینې پرېکړې شاملېږي لکه:

- تاسو کوم ښوونځي ته ځئ
- هر ډول طبي درملنې چې تاسو یې ترلاسه کوئ
- چېرې ژوند کوئ
- د پاسپورتونو لپاره درخواست کول
- د مذهب انتخاب (که لرئ یې)
- د هېواد د پرېښودو په اړه پرېکړې.

ستاسو پالونکی هغه کس دی چې ستاسو د سرپرستی یا پالنې حقوق - ستاسو لپاره قانوني مسئولیت لري. دا معمولاً ستاسو مور یا پلار وي اما کېدی شي کوم بل خپلوان یا کس وي.

## زما پالونکی څوک دی؟

که چېرې ستاسو د زېږون پر مهال ستاسو والدین واده وو، هغوی په آتوماتیک ډول ستاسو سرپرستان یا پالونکي گرځي.

که چېرې ستاسو د زېږون پر مهال ستاسو مور واده نه وي کړی، هغه په آتوماتیک ډول ستاسو سرپرسته گرځي، اما ستاسو ناواده شوی پلار په آتوماتیک ډول ستاسو سرپرست یا پالونکی نه گرځي حتی که چېرې د هغه نوم ستاسو د زېږون په سند کې لیکلی وي. نوموړی له مختلفو لارو کېدی شي ستاسو سرپرست وي:

- ستاسو له مور سره د واده کولو له لارې
- ستاسو له مور سره د گډ توافق له لارې
- که چېرې ستاسو والدینو د 2016 کال د جنورۍ له 18مې وروسته د 12 پرله پسې میاشتو لپاره یو ځای ژوند کړی وي، چې پکې ستاسو له زېږون وروسته له تاسو او ستاسو له مور سره حد اقل درې میاشتې شاملېږي
- محکمې ته د درخواست په واسطه.

که چېرې ستاسو والدین د ورته ښځینه جنسیت لرونکي وي، نو ستاسو بیولوژیکي مور به ستاسو آتوماتیکه سرپرسته وي. که چېرې ستاسو والدین د ورته نارینه جنسیت لرونکي وي، نو ستاسو بیولوژیکي پلار کولی شي ستاسو د سرپرستی غوښتنه وکړي. په دواړو مواردو کې ستاسو غیر بیولوژیکي والدین کولی شي محکمې ته د سرپرست توپ درخواست وکړي که چېرې:

- هغوی ستاسو بیولوژیکي والد/والدي ته واده شوی وي یا یې له دریو کلونو ډېر ژوند ورسره کړی وي
- له دوو کلونو څخه د ډېرې مودې لپاره یې ستاسو مراقبت کړی وي.

که چېرې تاسو د پدرخوانده یا مادرخوانده والدینو لرونکي یاست، نو هغوی کولی شي محکمې ته د سرپرستی درخواست وکړي که چېرې:

- هغوی ستاسو بیولوژیکي والد/والدي ته واده شوی وي یا یې له دریو کلونو ډېر ژوند ورسره کړی وي
- له دوو کلونو څخه د ډېرې مودې لپاره یې ستاسو مراقبت کړی وي.

تاسو والدین او پالونکی نه لرئ یا ستاسو والدین یا پالونکی نه شي کولی خپل نقش ولوبوي، ستاسو په ژوند کې کوم بل داسي لوی کس په دوامدار ډول یې له 12 میاشتو څخه ډېره موده ستاسو ورځنی مراقبت کړی وي هم کولی شي درخواست وکړي چې ستاسو سرپرست شي.

## که چېرې زما له والدینو څخه یو یې له چا سره اړیکه رامنځ ته کړي، آیا د هغوی د ژوند نوی ملګری/ملګرې په آتوماتیک ډول زما سرپرست یا پالونکی ګرځي؟

نه. که چېرې ستاسو د مور یا پلار د ژوند ملګری ستاسو بیولوژیکي والدین نه وي، نو هغوی په آتوماتیک ډول ستاسو سرپرست نه ګرځي. په هر صورت، هغوی کېدی شي محکمې ته په درخواست کولو سره ستاسو سرپرست شي که چېرې:

- هغوی ستاسو یو له والدینو سره واده کړی وي
- له دریو کلونو څخه د ډېرې مودې لپاره یو له ستاسو والدینو سره یې ژوند کړی وي، او
- له دوو کلونو څخه د ډېرې مودې لپاره یې ستاسو ورځنی مراقبت کړی وي.

که چېرې ستاسو له والدینو څخه کوم یو له بل چا سره واده وکړي، د هغوی د ژوند نوی ملګری/ملګرې کولی شي په رسمي ډول ستاسو د بیولوژیکي والدین په توافق سره تاسو په فرزندۍ ونیسي (یو له هغو والدینو څخه چې د واده برخه نه دي).

## آیا زما خپلوان د دې حق لري چې زما په هکله پرېکړې وکړي؟

معمولاً نه. په هر صورت، که چېرې ستاسو والدین د ناروغۍ له امله ونه شي کولی تاسو ته پاملرنه وکړي یا که چېرې د بېلګې په توګه، هغوی مړه شي، نو ستاسو له خپلوانو څخه یو کس کولی شي محکمې ته درخواست وکړي چې ستاسو سرپرست یا پالونکی وګرځي. هغوی به له دې وروسته وکولی شي ستاسو په هکله قانوني پرېکړې ترسره کړي او ستاسو په استازیتوب ستاسو حقونه وکاروي. دا معمولاً هغه وخت پېښیږي کله چې ستاسو والدین نه شي کولی تاسو ته پاملرنه وکړي او تاسود خپلو خپلوانو یا بابا او نیا تر پاملرنې لاندې وئ. ستاسو والدین همدارنګه کولی شي د هغوی د مړینې په صورت کې د دغه نقش د اخیستو لپاره کوم بل څوک وټاکي.

## د کورنیو لپاره څه ډول ملاتړ شتون لري؟

د کورنۍ د ملاتړ خدمات د هغو کورنیو او افرادو لپاره شتون لري چې مرستې ته اړتیا لري. د ژوند پېښې لکه زیږون، مړینه، ذهني فشار، بېلتون، ناروغي ناوړه استفاده یا مالي ستونزې کولای شي په کورني ژوند باندې فشار واچوي او زیان ورته واړوي. د هبواد په کچه د کورنیو د سرچینو مرکزونه او د کورنۍ د ملاتړ نور خدمات شتون لري چې د Tusla له لارې د لاسرسي وړ دي. تاسو کولی شئ په دې اړه زیات معلومات د Tusla پر ویب پاڼه ومومئ.

## آیا زه کولی شم خپل دواړه والدین ووینم که چېرې هغوی یوځای ژوند نه کوي؟

که چېرې ستاسو والدین یوځای ژوند نه کوي (یعني که چېرې هغوی سره بېل شوي وي یا یې هېڅکله یوځا ژوند نه وی کړی) هغوی به په خپل منځ کې پرېکړه وکړي چې د څومره مودې لپاره او څورمره وخت وروسته کولی شئ هر یو له خپلو والدینو څخه ووینئ. دې ته لاسرسی وایي.

که چېرې هغوی نه شي کولی چې پرېکړه وکړي، نو هغوی کولی شي په محکمه کې له قاضي څخه مرسته ترلاسه کړي.

ستاسو بابا او نیا، عمه ګانې او خاله ګانې، کاکا ګان او ماما ګان، او ستاسو خویندې او وروڼه (که چېرې له 18 کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکي وي) کولی شي محکمې ته د لاسرسي درخواست وکړي چې دا د دوی حق دی له تاسو سره وخت تېر کړي.

## قاضي به په محکمه کې څنګه پرېکړه کوي؟

د لاسري په اړه په پرېکړه کولو کې، تر ټولو هغه مهم شی چې قاضي یې باید په پام کې ونیسي هغه څه دي چې ستاسو لپاره غوره وي.

په دې اړه پرېکړه کول چې ستاسو لپاره غوره شی څه دي، یو شمېر شیان شتون لري چې دوی یې په پام کې نیسي، لکه:

- ستاسو د مراقبت سابقه
- ستاسو لپاره له دواړو والدینو سره ستاسو د اړیکو لرلو ګټې
- هر ډول زیان چې بنایي تاسو ګاللی وي
- ستاسو نظریات.

قاضي همدارنګه بنایي د راپورونو د بشپړولو حکم وکړي ترڅو له هغوی سره د پرېکړې په کولو کې مرسته وکړي. ځینې وختونه قاضي بنایي داسې لنډمهاله استازی وټاکي چې کولی شي محکمې ته د هغه څه په اړه راپور ورکړي چې ستاسو لپاره غوره دي او دا چې ستاسو نظریاتو څه دي.

## آیا زه د دې حق لرم چې زما نظریات دې واورېدل شي؟

هو. کله چې قاضي د لاندې مواردو په اړه پرېکړه کوي، نو تاسو د دې حق لرئ چې غږ مو واورېدل شي:

- سرپرستي یا پالنه
- تاسو له چا سره ژوند کوئ
- لاسرسی.

ځینې وختونه بنایي قاضي پرېکړه وکړي چې له تاسو سره په مستقیم ډول خبرې وکړي. له دې صورت پرته قاضي کولی شي له تاسو سره د خبرو کولو لپاره کوم بل داسې متخصص وټاکي چې محکمې ته داسې راپور ولیکي چې په هغه څه کې چې واقع کېږي ستاسو نظریاتو ته ځای ورکړي. د دغه کار د ترسره کولو لپاره ستاسو والدین باید یاد متخصص ته تادیه ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې که څه هم قاضي یا متخصص ستاسو نظریات اوري، هغوی ممکن په پای کې داسې پرېکړه وکړي چې ستاسو د نظریاتو سره سمون ونلري. دا ځکه چې ستاسو نظریات د هغه څه یوازې یوه برخه ده چې قاضي یې باید په پام کې ونیسي کله چې پرېکړه کوي چې ستاسو لپاره په ټولیز ډول څه ښه دي.

که چېرې قاضي ستاسو نظرياتو ته غوږ ونه نيسي، نو تاسو کولی شئ حقوقي مشورې ترلاسه کړئ. تاسو کولی شئ د ماشومانو د حقونو له ائتلاف يا د وړيا حقوقي مشورو له مرکزونو څخه وړيا مشورې ترلاسه کړئ.

## کله چې قاضي زما د مراقبت په اړه پرېکړه کوي، آيا زه کولی شم په دغه وخت کې په محکمه کې حضور ولرم؟

که چېرې تاسو غواړئ د خپلې قضيې لپاره په محکمه کې حضور ولرئ، نو تاسو کولی شئ قاضي وپوښتئ چې آيا کولی شم د ټولې قضيې يا د قضيې د يوې برخې لپاره هلته حضور ولرئ کنه. قاضي بايد تاسو ته په محکمه کې د حضور اجازه درکړي مګر دا چې هغوی داسې وانګېري چې دا به ستاسو لپاره مناسب يا ګټور نه وي. دا پرېکړه کول چې ايا هلته ستاسو حضور ستاسو په ګټه دی کنه، قاضيان به معمولاً غواړي ستاسو په عمرو پخوالي او د هغه څه په اړه ستاسو په پوهاوي باندې پوه شي چې واقع کېږي.

## که چېرې زما له والدينو څخه يو يا دواړه مړه شي، ماته به څه پېښېږي؟

ستاسو له والدينو څخه د يوه يا دواړو مړينه ستاسو د ژوند تر ټول سخت وخت دی. که چېرې تاسو غواړئ خبرې وکړئ يا مرسته ترلاسه کړئ، ډېر ځايونه شته چې کولی شي مرسته وکړي. تاسو کولی شئ د ماشومانو له تلفوني کرښې سره خبرې وکړئ چې د ماشومانو لپاره يو محرم او وړيا خدمت دی. تاسو کولی شئ د ماشومانو له کرښې سره په 66 66 66 1800 شمېره اړيکه ونيسئ. تاسو همدارنګه کولی شئ د پيغام له لارې Talk د تلفون 50101 شمېرې ته واستئ يا کولی شئ په آنلاين ډول له کوم چا سره د لاندې لينک له لارې چټ وکړئ Childline website.

Barnardos د هغو خلکو لپاره د ماشومانو د غم خدماتو د مرستندويې کرښې خدمات وړاندې کوي چې د ماشوم د غم پر وړاندې د معلوماتو او ملاتړ په لټه کې وي. تاسو کولی شئ له هغوی سره له دوشنبه تر جمعې پورې د سهار له 10 بجو څخه د غرمې تر 12 بجو پورې په 2110 473-01 شمېره اړيکه ونيسئ.

که چېرې ستاسو له والدينو څخه کوم يو مړ شي او بل هغه يې ستاسو سرپرست يا پالونکی وي، نو هغوی به وکولی شي ستاسو د ژوند په اړه پرېکړې وکړي، د بېلګې په توګه دا چې تاسو چېرې اوسېږئ او چېرته ښوونځي ته ځئ.

ستاسي والدين کولی شي يو بل بالغ شخص يا د کورنۍ غړی د خپل وصيت له لارې وټاکي چې که چېرې هغوی وفات شي، ستاسو مراقبت به کوي. که چېرې تاسو په دې هکله هر ډول پوښتنې لرئ، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف معلوماتي کرښې ته په 0494 902-01 شمېره د زنګ وهلو له لارې اضافي معلومات ترلاسه کړئ.

## په کوم عمر کې کولای شم له کوره ووځم؟

تاسو کولی شئ په 16 کلنۍ کې له کوره ووځئ که چېرې ستاسو والدين يا پالونکی موافق وي. تاسو کولی شئ په 18 کلنۍ کې د هغوی له توافق پرته له کوره ووځئ.

# 5.2 زما د کورنۍ په حالت کې بدلون

## که چېرې زما والدین سره بېل شي، ماته به څه پېښېږي؟

ستاسو والدین به پرېکړه وکړي چې:

- هغوی به ستاسو د مراقبت اړوند ورځني مسئولیتونه څنګه سره وېشي
- تاسو به چېرته ژوند کوئ
- آیا تاسو کولی شئ یو له هغوی سره ژوند وکړئ یا له دواړو سره وخت تېر کړئ
- څو ځله او د څومره مودې لپاره هر یو له والدینو څخه وینئ
- هر یو له هغوی به د کور د چلولو لپاره څومره تادیه ترسره کوي.

که چېرې ستاسو والدین ونه شي کولی د دغو ستونزو په اړه توافق ته ورسېږي، کوم بل څوک باید مداخله وکړي او ستاسو له والدینو سره مرسته وکړي چې پرېکړه وکړي. دا کېدی شي منځګړی کس، وکیل یا قاضي وي.

## که چېرې والدین توافق ونه کړي، څه به پېښ شي؟

که چېرې والدین ونه شي کولی توافق وکړي چې د هغوی له بېلتون وروسته به تاسو ته څه پېښېږي، هغوی باید محکمې ته لاړ شي ترڅو قاضي په دې اړه پرېکړه وکړي.

که چېرې قاضي پرېکړه وکړي چې د هغوی د بېلتون په صورت کې به تاسو ته څه پېښېږي، تر ټولو مهم شی چې هغوی یې باید په پام کې ونیسي هغه څه دي چې ستاسو په ګټه وي.

په دې اړه پرېکړه کول چې ستاسو لپاره په مجموع کې څه غوره دي، یو شمېر شیان شتون لري چې قاضي یې په پام کې نیسي، لکه:

- ستاسو د مراقبت سابقه
- ستاسو لپاره له دواړو والدینو سره ستاسو د اړیکو لرلو ګټې
- هر ډول زیان چې ښایي تاسو ګاللی وي
- ستاسو نظریات.

## آیا زه کولی شم زما د مراقبت د پرېکړې په اړه څه ووایم؟

تاسو نشئ کولی ستاسو د مراقبت اړوند د خپلو والدینو د پرېکړې په اړه څه ووایاست، په هر صورت، که چېرې هغوی وغواړي کولی شي ستاسو د نظر غوښتنه وکړي.

که چېرې ستاسو والدین د کورنۍ د منځګړیتوب له خدمات څخه مرسته ترلاسه کوي، له تاسو ښایي غوښتنه وشي چې له خپلو والدینو سره په غونډه کې برخه واخلئ ترڅو د هغو تابیاوو په هکله خبرې وکړئ چې هغوی ترسره کړې دي.

که چېرې قاضي د سرپرستۍ، ستاسو د ژوند کولو د ځای او لاسرسي په اړه پرېکړه کوي، تاسو حق لرئ چې نظر مو واورېدل شي. بېلابېلې لارې شتون لري چې قاضي کولی شي ستاسو غږ واوري. ځینې وختونه ښایي قاضي پرېکړه وکړي چې له تاسو سره په مستقیم ډول خبرې وکړي. له دې صورت پرته قاضي کولی شي له تاسو سره د خبرو کولو لپاره کوم بل داسې متخصص وټاکي چې محکمې ته داسې راپور ولیکي چې د هغه څه په اړه چې واقع کېږي ستاسو نظریاتو ته ځای ورکړي.

د یادوني وړ ده چې که څه هم قاضي یا متخصص ستاسو نظریاتو ته غوږ نیسي، هغوی ممکن په پای کې داسې پریکړه ونه کړي چې ستاسو له نظریاتو سره سمون ولري. دا ځکه چې ستاسو نظریات د هغه څه یوازې یوه برخه ده چې قاضي یې باید په پام کې ونیسي کله چې پرېکړه کوي ستاسو لپاره په ټولیز ډول څه ښه دي.

## که چېرې زما والدین سره بېل شي، آیا زه د دې حق لرم چې خپل خپلوان ووینم؟

هو، په ډېری حالاتو کې. معمولاً ستاسو لپاره ځیني ټابیاوې نیول کېږي اما رضاعي والدین، بابا او نیا، عمه ګاني او خاله ګانې، خوندې او وروڼه هم ښایي محکمې ته ستاسو د لیدو د حق په اړه درخواست وکړي. که چېرې دا کار په مجموع کې ستاسو لپاره ښه وي، نو محکمه به اجازه ورکړي.

## که چېرې زه له هغه وخت څخه خوښ نه یم چې د خپلو والدینو سره یې تېروم، آیا داسې څه شته چې ترسره یې کړم؟

که چېرې تاسو د خپلو والدینو له کوم یوه سره له وخت تېرولو څخه خوښ نه یاست، کوښښ وکړئ هغوی ته خپل نظر څرګند کړئ. تاسو ښایي له هغو سازمانونو څخه د مرستې ترلاسه کول وغواړئ چې له ماشومانو او ځوانانو سره کار کوي. 10مه برخه وګورئ: چېرې کولی شم د مرستې لپاره لاړ شم؟ د غه لاربنود د اړیکو د معلوماتو لپاره؟

## آیا زه د خپلو والدینو له خوا د مالي ملاتړ د ترلاسه کولو حق لرم؟


ستاسو والدین مسئول دي چې له تاسو سره تر 18 کلنۍ پورې مالي مرسته وکړي. که چېرې ستاسو والدین سر بېل یا طلاق شي، هغوی دواړه باید له تاسو سره مالي مرستې وکړي. که چېرې هغوی توافق نه کوي، محکمه ستاسو د والدینو عاید او د کورنۍ نورو مسئولیتونو ته په پام سره پرېکړه وکړي. هغه رضاعي مور او پلار چې ستاسو قانوني سرپرست یا پالونکی نه وي باید له تاسو سره مالي مرسته ونکړي.

# 5.3 ځوان والدین (تر 18 کلونو ټیټ)

## زه چیرې کولی شم معلوماتو او ملاتړ ته لاسرسی ولرم؟

ګڼ شمېر داسې سازمانونه شتون لري چې کولای شي تاسو ته معلومات او ملاتړ چمتو کړي. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي او ماشوم لرئ، تاسو کولی شئ له لاندې سازمانونو سره اړیکه ونیسئ.

- د ځوانو والدینو د ملاتړ پروګرام
- Treoir
- One Family



## آیا زه کولی شم وروسته له دې چې زما ماشوم وزیږیږي ښوونځي ته لاړ شم؟

هو، د قانون له مخې، تاسو باید د 16 کلنی عمر تر بشپړېدو پورې په ښوونځي کې وئ. تاسو کولی شئ د امېندواری په جریان کې یا وروسته له دې چې ستاسو ماشوم وزیږیږي په ښوونځي کې یوځه غیرحاضري ولرئ نو دا مهمه ده چې په دې اړه د ښوونځي له ښوونکي یا مدیر سره د غیابت د وخت په اړه خبرې وکړئ. له دې صورت پرته تاسو کولی شئ د کور د زده کړو له پروګرام سره یوځای شئ چې کولای شئ له کوره زده کړې وکړئ.

که چېرې داسې وي چې تاسو د خپلې کوچنی دورې د تصدیقپاڼې یا له منځنیو زده کړو څخه د فراغت د تصدیقپاڼې د آزموینو په جریان کې خپل ماشوم وزیږوئ، نو تاسو باید له خپل ښوونځي څخه غوښتنه وکړئ چې ځیني تابیاوې په پام کې درته ونیسي چې وکولی شئ په جدا او هوسا ډول خپله آزموینه ورکړئ.

## آیا د ناواده شوې مور په توګه زه د سرپرستی حق لرم؟

هو. تاسو د خپل ماشوم له زیږون سره سم په آتوماتیک ډول د هغوی د سرپرستی حق لرئ او د خپل ماشم بشپړه سرپرستي په غاړه لرئ.

## آیا زه باید د خپل ماشوم د زیږن پر مهال د هغه د پلار نوم ثبت کړم؟

تاسو باید له زیږون وروسته په دریو میاشتو کې د ننه د خپل ماشوم ولادت ثبت کړئ. که چېرې تاسو مجرد یاست، نو تاسو باید د خپل ماشوم د پلار اړوند معلومات ثبت نکړئ.

ځیني خلک په دې باور دي چې د ماشوم د زیږون په کارت باندې د پلار د نوم ذکر کول پلار ته د سرپرستي قانې حق ورکوي - اما دا خبره صحت نه لري. که چېرې د زیږون په کارت باندې د پلار نوم نه وي، نو دا د یو-والد یا والدین کورنی د تادیې لپاره د مجردې مور په مستحقتوب باندې اغیز نه کوي.

تاسو کولی شئ د ماشوم د زیږون د ثبت په اړه اضافي معلومات د ثبت له عمومي دفتر څخه

په 76 20 25 1890 شمېره ترلاسه کړئ. په دې اړه ډېر معلومات د اتباعو په معلوماتي ویب پاڼه کې موجود دي.

## آيا د مجرد پلار په توګه زه حقوق لرم؟

که چیرې تاسو مجرد پلار یاست، نو تاسو آتوماتیک حقوق نه لرئ. په هر صورت، که چیرې تاسو د 2016 کاله د جنورۍ له 18 وروسته د خپل ماشوم له مور سره د 12 میاشتو لپاره ژوند کوئ چې په دې کې د ماشوم له زیږون وروسته لږ تر لږه درې میاشتې هم شاملیږي، تاسو د آتوماتیکي سرپرستۍ مستحق یاست.

که چیرې تاسو د آتوماتیکي سرپرستۍ لپاره شرایط پوره نه کړئ، نو تاسو کولی شئ د مور د موافقې په صورت کې د سرپرستۍ درخواست وکړئ. تاسو کولی شئ دا کار د سولې د کمیشنر یا د قسم کمیشنر په مخ کې د سرپرستۍ فورمې په لاسلیکولو سره ترسره کړئ. که چیرې مور توافق ونه کړي، نو تاسو کولی شئ د محلي حوزوي محکمو له لارې د سرپرستۍ درخواست وکړئ. که چیرې محکمه داسې وانګیري چې دا کار به د ماشوم لپاره غوره نه وي، محکمه به سرپرست په توګه د پلار ګومارنه رد کړي. که چیرې بیولوژیکي پلار او مور واده وکړي، پلار به په آتوماتیک ډول د ماشوم سرپرست وګرځي.

د سرپرستۍ لپاره د درخواست د څرنګوالي په اړه د معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره، د خپل ماشوم لپاره د سرپرستۍ غوښتنه وکړئ یا یې د لاسرسي حقوقو له Treoir څخه ترلاسه کړئ. تاسو همدارنګه ښايي د حقوقي مشورې ترلاسه کولو ته اړتیا ولرئ. تاسو کولی شئ د حقوقي مرستو د بورډ ویب پاڼې ته په مراجعې سره وموميځ چې څخه مدني حقوقي مرستې ترلاسه کړئ.

که چیرې تاسو یو ځوان پلار یاست یا ځوان پلار کېدونکی یاست، نو تاسو هم کولی شئ د ځوانو والدینو د ملاتړ له پروګرام سره اړیکه ونیسئ. په دې باندې د پوهېدې لپاره چې د والدینتوب څه ډول ملاتړ ستاسو لپاره شتون لري، د ځوانو والدینو د ملاتړ د پروګرام ویب پاڼه وګورئ.

# 5.4 مرستندویه بشري تکثیر

## که چېرې زه له مرستندویه بشري تکثیر څخه په استفادې سره زیږېدلی وم، نو آیا زه دا حق لرم چې په دې پوه شم چې زما بیولوژیکي والدین څوک دي؟

ځیني وختونه هغه خلک چې ستاسو والدین دي او په ورځني ډول تاسو ته پاملرنه کوي هغه خلک دي چې ستاسو بیولوژیکي والدین دي. دا کېدی شي د یو شمېر دلایلو له امله وي، په شمول د دې چې که چېرې تاسو له ډاکټر څخه له ترلاسه شوي سپرم یا هګۍ څخه په استفادې سره زیږېدلي یاست.

دا مهال په دې ډول وضعیت کې تاسو د دې حق نه لرئ پوه شئ چې ستاسو بیولوژیکي والدین څوک دي. په هر صورت، داسې قوانین شته چې باید نافذ وګرځول شي چې تاسو ته به وروسته له دې چې د 18 کلنۍ عمر بشپړ کړئ اجازه درکړي په دې پوه شئ چې بیولوژیکي والدین مو څوک دي.

# 5.5 په فرزندۍ د نیول شوي ماشومان

## په فرزندۍ د ماشومانو نیول څه دي؟

په فرزندۍ د ماشومانو نیول یوه قانوني پروسه ده چې ماشوم د یوې نوې کورنۍ غړی ګرځي. په دې سره په فرزندۍ د اخیستونکو والدینو او ماشوم ترمنځ دایمي قانوني اړیکي جوړیږي.

په فرزندۍ د ماشوم په نیونه کې د ماشوم او بیولوژیکي والدینو ترمنځ اړیکي نورې له منځه ځي او په فرزندۍ اخیستونکي والدین د داسي حقونو او مسئولیتونو مکلف ګرځي لکه ماشوم چې د دوی په کورنۍ کې زیږیدلی وي

د والدینو او پالونکي لپاره

### زه څنګه کولی شم خپل ماشوم په فرزندۍ ورکړم؟

په آیرلنډ کې ټول ماشومان کیدی شي په فرزندۍ ورکړل شي په شمول د هغو ماشومانو چې له مخکې په فرزندۍ نیول شوي دي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له لاندې سرچینو سره اړیکه ونیسئ:

- ستاسو د زیږون په روغتون کې د ټولنیزو کارمندانو ټیم
- په فرزندۍ د نیولو لپاره ستاسو د ماشوم او کورنۍ د محلي اداري ټیم
- په فرزندۍ د نیولو اداره
- په فرزندۍ د اخیستو نهاد
- د My Options په څېر د امېدوارۍ د مشورې خدمت.

تاسو کولی شئ د امېندوارۍ په هره مرحله کې یا ستاسو د ماشوم له زیږون وروسته له دغو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ. تاسو هر وخت کولی شئ په فرزندۍ د ماشوم د نیولو د حکم تر وخته په فرزندۍ د ماشوم د نیولو په اړه خپله پریکړه بدله کړئ.

Treoir د کرکېچنې امېندوارۍ له پروګرام سره یو ځای د هغه والدینو لپاره چې غواړي خپل ماشوم په فرزندۍ ورکړي، په فرزدندۍ د ماشوم د اخیستو او ورکړې د پروسې په اړه یوه معلوماتي کتابګوټی ترتیب کړی دی. د معلوماتو لپاره د Treoir ویب پاڼه وګورئ یا اړیکه ورسره ونیسئ ترڅو د خپل وضعیت په اړه له کوم چا سره خبرې وکړئ.

# په فزندۍ د ماشوم د اخیستو او ورکولو مختلف ډولونه څه دي؟

### د رضاعي والدینو له خوا په فرزندۍ نیو

دا هغه مهال واقع کېږي چې ستاسو رضاعي والدین په فرزندۍ د تاسو د نیولو لپاره درخواست کوي. هغوی به ستاسو د اوسنیو والدینو سرپېره ستاسو قانوني والدین وګرځي. د دې کار د واقع کېدو لپاره تاسو باید له خپلو والدینو او رضاعي والدینو سره یو ځای حد اقل دوه کاله ژوند کړی وي.

### د کورنۍ د غړي له خوا په فرزندۍ د ماشوم نیول

### د محلي ماشوم په توګه په فرزندۍ نیول

د محلي ماشوم په توګه په فرزندۍ نیول هغه مهال واقع کېږي کله چې ماشوم لو نویو والدینو سره ځای پر ځای کېږي. ماشوم یوازې د Tusla د فرزندۍ د خدمت په واسطه یا په فرزندۍ د ورکولو د یوه معتبر نهاد له خوا له یوې جوړې والدینو سره ځای پر ځای کېږي. په فرزندۍ د ورکولو آیرلنډۍ اداره باید په فرزندۍ ورکړه تایید کړي مخکې له دې چې صورت ونیسي.

### د هېوادونو تر منځ په فرزندۍ د ماشومانو اخیستل

د هېوادونو ترمنځ په فرزندۍ د ماشومانو اخیستل هغه مهال رامنځ ته کېږي کله چې د آیرلنډ هېواد اوسېدونکي د بل هېواد اوسېدونکی ماشوم په فرزندۍ باندې نیسي.

### د اوږدمهاله سرپرستۍ په فرزندۍ باندې د ماشوم نیول

د اوږدمهاله سرپرستۍ په فرزندۍ باندې د ماشوم نیول هغه مهال واقع کېږي کله چې تاسو د خپل سرپرست له خوا په فرزندۍ نیول کېږئ.

### د والدینو او پالونکي لپاره

## آیا د ماشوم د پلار په توګه زه د دې حق لرم چې مخکې له دې چې خپل ماشوم په فرزندۍ ورکړم، له ما سره مشوره وشي؟

هو. د ماشوم د پلار په توګه، تاسو د دې حق لرئ چې مخکې له دې چې ماشوم د مور له خوا په فرزندۍ ورکړل شي له تاسو سره مشوره وي، حتی که تاسو د ګډې سرپرستۍ لرونکي نه یاست. که تاسو په ګډه د ماشوم سرپرسي یا پالنه کوئ، مخکې له دې چې په فرندۍ د ماشوم نیول صورت نیسي ستاسو توافق اړین دی. که چېرې له تاسو سره اړیکه نه نیول کېږي، مخکې له دې چې په فرزندۍ د ورکړې چارې بشپړېږي د سترې محکمې حکم ته اړتیا ده.

## یو ماشو څه وخت په فرزندۍ نیول کېدی یا ورکول کېدی شي؟

تاسو هغه مهال په فرزندۍ ورکول کېدی شئ چې عمر مو له 18 کلونو څخه تیټ وي، اما په فرزندۍ د ماشوم اخیستل ډېر وخت نیسي، نو مخکې له دې چې تاسو 17 کلن کېږئ، باید درخواست مو ترسره شي. کله چې په فرزندۍ د ورکړې پرېکړه ترسره کېږي، نو په فرزندۍ د ماشوم د ورکړې د نهاد ملاحظه هغه څه دي چې ستاسو په ګټه وي. په فرزندۍ د ورکړې اداره باید ستاسو نظریاتو ته په فرزندۍ د ورکړې په اړه ستاسو نظریاتو ته غوږ ونیسي مخکې له دې چې په فرزندۍ د ورکړې حکم صادر شي.

## که چېرې زه په فرزندۍ ورکړل شم، نو ایا د زیږون نوی کارت به ترلاسه کړم؟

که چېرې تاسو په فرزندۍ ورکړل شوي یاست، نو د ثبت د عمومي دفتر له خوا به تاسو ته د فرزندي والدینو په نوم په فرزندۍ د اخیستو تصدیقپانه درکړل شي او ستاسو نوم په فزندۍ د اخیستل شوو ماشومانو د ثبت په کتاب کې درج شي. دا وروسته له هغې پیښیږي چې هغه څه چې د آیرلنډ د فرزندۍ اداري سره د فرزندۍ د استماعیې په توګه پېژندل کیږي.

په دې اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره چې په استماعیه کې څه پیښیږي، د ځوانو خلکو لپاره په فرزندۍ د ماشومانو د ورکړې د اداري لارښود دلته وګورئ.

## آیا زه د دې حق لرم چې د زیږون خپل اصلي کارت وګورم؟

نه. داسي آتوماتیک حق شتون نه لري چې تاسو وکولی شئ د زیږون خپل اصلي کارت ووینئ یا یې کاپي ترلاسه کړئ، اما تاسو کولی شئ په فرزندۍ د ماشوم د ورکړې له اداري څخه د یاد کارت د لیدو غوښتنه وکړئ. د درخواست د څرنګوالي په اړه معلومات کولی شئ په فرزندۍ د ماشومانو د ورکړې پر وېب پاڼه ومومئ.

که چېرې تاسو ته له مخکې څخه خپل بشپړ نوم او د زیږون نېټه مالومه وي، نو تاسو کولی شئ د زیږون د کارت لپاره په مستقیم ډول د ثبت عمومي دفتر ته درخواست وکړئ.





## آيا زه د دې حق لرم چې په فرزندۍ د اخيستو خپل سوابق وګورم؟

نه. تاسو دا حق نه لرئ چې په آيرلنډ کې په فرزندۍ باندې د ماشوم د ورکړې خپل سوابق ولرئ. تاسو کولی شئ خپل د بيولوژيکي والدينو په اړه د معلوماتو لپاره په فرزندۍ د ماشوم د ورکولو نهاد ته درخواست وکړئ. په هر صورت، په فرزندۍ د ورکړې اداره مسئوليت لري چې ستاسو د زيږون د مور محرميت خوندي وساتي مګر دا چې هغه پرېکړه وکړي چې د سوابقو د نشر لپاره به توافق کوي. که چېرې ستاسو د زيږون مور توافق ونه کړي، په فرزندۍ د ماشوم د اخيستو نهاد د پرېکړې د ترسره کولو لپاره متوازني کړني ترسره کوي. که چېرې په فرزندۍ د اخيستو اداره ستاسو غوښتنه رد کړي، نوتاسو کولی شئ له سترې محکمې د يادې پرېکړې د بياکتنې غوښتنه وکړئ.

## آيا زه د دې حق لرم له خپلو بيولوژيکي والدينو سره اړيکه ولرم؟

نه. اما په فرزندۍ د ماشوم د ورکړې اداره په فرزندۍ د ماشوم د ورکړې د ترجېحي اړيکو د ثبت ملي داسې ملي کتاب لري چې د فرزندي خلکو او د هغوی د زيږون له کورنۍ لپاره دا آسانه کوي چې له يو بل سره په آسانۍ اړيکه ونيسي که چېرې هغوی دواړه وغواړي دا کار ترسره کړي. دا په تاسو پورې اړه لري چې ايا غواړئ کنه خپل نوم د ثبت په کتاب کې وليکئ، اما تاسو د دې کار د ترسره کولو لپاره بايد تر 18 کالو د لوړ عمر لرونکي وئ. تاسو او ستاسو د زيږون کورنۍ به يوازې په هغه صورت کې يو له بل سره اړيکه ولرئ که چېرې تاسو دواړه ثبت شوي ياست.

د ثبت دغه کتاب تاسو ته اجازه درکوي دا انتخاب کړئ چې په کومه کچه غواړئ اړيکه ترسره کړئ. په دې کې کېدی شي د زيږون له خپلې کورنۍ سره ليدل، تلفوني اړيکې، برېښناليکونه، ليکونه يا هېڅ ډول اړيکې شاملې وي.

که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو څخه ټيټ وي او غواړئ په دې پوه شئ چې آيا کولای شئ کنه چې له خپلو بيولوژيکي والدينو، خويندو ورونو، يا بابا او نيا سره اړيکنه ونيسئ، تاسو بايد لومړی له Tusla سره اړيکه ونيسئ ځکه هغوی کولی شي له خلکو سره مرسته وکړي چې له خپلو خپلوانو سره په تماس کې شي.

د لازياتو معلوماتو لپاره په فرزندۍ د ماشوم د اخيستو د آيرلنډ د ادارې وېب پاڼه وګورئ.

## زه له چا سره کولی شئ په فرزندۍ د ورکړې په اړه خبرې وکړم؟

که چېرې تاسو غواړئ له کوم چا سره په فرزندۍ د خپل ځان د ورکړې په اړه خبرې وکړئ، Barnardos په لاندې شمېرې سره د محرمې مرستندويه کرښې خدمات وړاندې کوي.

01- 454 6388. که چېرې انديښنې لرئ، نو تاسو همدارنګه کولی شئ په فرزندۍ د ماشوم د اخيستو له ادارې، Tusla يا د ماشوم له کرښې سره اړيکه ونيسئ – 10مه برخه وګورئ: چېرې کولی شم د مرستې لپاره لاړ شم؟ د غه لارښود د اړيکو د لازياتو معلوماتو لپاره؟



# د کډوال یا مهاجر په توګه زما حقونه



۶

# 6.1 عمومي

## آیا کډوال ماشومان په آیرلنډ کې د نورو ماشومان په شان ورته حقوق لري؟

که چېرې تاسو یا ستاسو والدین آیرلنډ ته له بل هېواد څخه راغلي یاست، نو تاسو به د کډوال په نامه یادېږئ. کډوال ماشومان یا د کډوالو ماشومان د بېلابېلو حقونو لرونکي دي چې د هغوی په لاندې مواردو پورې تړاو لري:

- د تابعیت لرل، یا
- د والدنیو تابعیت، یا
- د کډوالی وضعیت.

د آیرلنډ حکومت د هغوی کسانو په اړه قوانین وضعه کړي چې کولی شي دلته راشي ترڅو:

- ژوند وکړي
- کار
- زده کړې وکړي
- د سیلانی په توګه راشي
- د پناه غوښتنې درخواست وکړي
- سوداګري پیل کړي.

دا د کډوالی د قوانینو په نامه یادېږي.

که چېرې تاسو په آیرلنډ کې زیږېدلي یاست اما ستاسو والدین د آیرلنډ اتباع نه دي یا قانوني حق نه لري چې په آیرلند کې هستوګنه (ژوند) وکړي، کېدی شي په تاسو باندې مختلف آیرلنډي قوانین تطبیق شي.

## د کډوالی وضعیت څه شی دی؟

د کډاولی وضعیت هغوی قوانینو ته اشاره کوي چې په آیرلنډ کې په هغه اوسېدونکي کس باندې تطبیق کېږي چې د آیرلنډ تابعیت نه لري. د وضعیت حالتونه په لاندې ډول دي:

- د اروپایي ټولنې تبعه
- یو پناه غوښتونکی
- یو شخص چې د آیرلنډ د هستوګنې له جواز سره د کډوالی اجازه لري.

د اروپایي ټولنې تبعه کولی شي په آزادنه د اروپایي ټولنې په ټولو هېوادونو کې وګرځي.

## دا ولې مهمه ده چې باید د خپل وضعیت په اړه پوه شم؟

دا مهمه ده چې د خپل وضعیت په اړه پوه شئ ځکه چې دا تاسو ته څرګندوي چې په آیرلنډ کې د اوسېدو پر مهال ستاسو حقونه څه دي. د وضعیت هر ډول مختلف حقونه او شرایط لري. د بېلګې په توګه، ستاسو وضعیت کولی شي په لاندې مواردو اغېز وکړي:

- دا چې څومره موده کولی شئ په دغه هېواد کې پاتې شئ
- د ټولنیزي هوساینې لپاره ستاسو مستحقتوب
- د درېمي کچې زده کړو ته لاسرسی
- ټولنیزي هستوګنې ته لاسرسی
- روغتیایي مراقبت ته لاسرسی
- د کار کولو حق.

## زه کله باید خپل ځان د کډوالۍ له سازمانونو سره ثبت کړم؟

### که چېرې ستاسو عمر 15 کلونه یا ټیټ وي، نو تاسو اړ نه یاست چې ځان ثبت کړئ.

15 کلن یا د ټیټ عمر لرونکي ماشومان اړ ندي خپل ځانونه ثبت کړي اما کله چې 16 کلن کېږي، باید څومره ژر چې امکان ولري ځاونه ثبت کړي. تر هغې چې تاسو 16 کلن کېږئ، نو ستاسو د کډوالی وضعیت ستاسو د والدینو وضعیت ته ورته دی. د دي د بدلون لپاره پلانونه شته چې ټول هغه ماشومان چې له 16 کلنونو څخه د کم عمر لرونکي دي باید له اړونده نهادونو سره ثبت شي، خو تر اوسه پورې دا پلي شوی نه دی.

### که چېرې تاسو 16 کلن یا د ډېر عمر یاست، نو تاسو باید خپل ځان ثبت کړئ

که تاسو 16 کلن یا د لوړ عمر لرونکی یاست او د اروپایي ټولنې، یا د آیسلنډ، لختنشتاین، ناروې یا سویس تابعیت نه لرئ، تاسو باید د مهاجرت له سازمانونو سره ځای ثبت کړئ چې تاسو آیرلنډ کې یاست.

که چېرې تاسو له ډوبلین څخه د باندې ژوند کوئ، نو تاسو باید له خپل تر ټولو نږدې د ګاردا د کډوالی له دفتر سره اړیکه ونیسئ او د معمول مطابق تاسو باید د ثبت محلي دفتر ته مراجعه وکړئ. تاسو کولی شئ د دغو دفترونو لېست د INIS پر ویب پاڼه ومومئ.

که چېرې تاسو په ډوبلین کې اوسېږئ، تاسو باید د خپل ځان د ثبت لپاره په آنلاین ډول د INIS پر ویب پاڼه د ملاقات وخت واخلئ. هغوی به تاسو ته د ملاقات وخت درکړي چې تاسو باید په ډوبلین کې Burgh Quay ته ورشئ. هغوی به تاسو د نوملیکنې داسې تصدیقپاڼه درکړي چې په آیرلنډ کې د هستوګنې د اجازه لیک په نامه یادېږي. تاسو باید همېشه دغه تصدیقپاڼه له خپل ځان سره ولرئ. ستاسو د هستوګنې اجازه لیک به تاسو ته څرګنده کړي چې د څه ډول وضعیت لرونکي یاست.

که چېرې د نوملیکنې پر مهال ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، تاسو باید د ځان د ثبتولو فیس تادیه نکړئ. تاسو کولی شئ د ثبت پروسې په اړه نور معلومات د آیرلنډ د کډوالو شورا په لارښود کې دلته یا د عدلیې وزارت له ویب پاڼې څخه ومومئ.

که چېرې ستاسو عمر تر 16 کلونو لوړ وي او په آیرلنډ کې له نوملیکنې پرته ژوند کوئ تاسو کولی شئ د نوملیکنې د څرنګوالي په اړه معلومات او مشورې د آیرلنډ د کډوالی له شورا څخه ترلاسه کړئ، 10مه برخه وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د اړیکو د معلوماتو لپاره.

که چېرې ستاسو والدين په آيرلنډ کې د ژوند کولو اجازه نه لري، نو تاسو بايد د کډوالۍ له متخصص وکيل يا د آيرلنډ د کډوالو له اجنسۍ څخه د مشورو د ترلاسه کولو په لټه کې شئ، مخکې له دې چې ستاسو 16مه کليزه رارسېږي. هغوی به تاسو ته ستاسو د کډوالۍ د وضعيت د سمون لپاره د ممکنه غوښتنليکونو په اړه مشوره درکړي.

## که چېرې زه پوه نه وم چې زما وضعيت څه دی يا هېڅ وضعيت ونلرم، څه به کوم؟

که چېرې تاسو د خپل وضعيت په اړه ډاډه نه ياست يا که چېرې تاسو وضعيت نه لرئ، دا ډېره مهمه ده چې تاسو بايد د هغه څه په هکله چې ترسره کوئ يې له قانوني متخصص څخه مشورې ترلاسه کړئ. تاسو کولی شئ د آيرلنډ د کډوالۍ شورا تفلوني کرښې ته په 0200 674-01 شمېره زنګ ووهئ يا د ماشومانو د حقون د ائتلاف معلوماتي کرښې ته په 0494 902-01 شمېره زنګ ووهئ.

## که چېرې اسناد ونه لرم، نو څه به کوم؟

که چېرې تاسو اسناد نه لرئ (وضعيت نه لرئ) دا ډېره مهمه ده چې تاسو د هغه څه په هکله چې بايد ترسره يې کړئ له قانوني متخصص څخه معلومات او مشورې ترلاسه کړئ. تاسو کولای شئ د آيرلنډ د کډوالو د حقونو له مرکز يا د ماشومانو د حقونو له ائتلاف سره اړيکه ونيسئ.

## اتباع د کومو حقونو لرونکي دي؟

که چېرې تاسو د آيرلنډ تابعيت لرئ، نو تاسو کولی شئ د نورو آيرلنډي خلکو په څېر له خپلو حقونو، استحقاقونو، او ملاتړ څخه استفاده وکړئ. د آيرلنډي تبعې په توګه تاسو کولی شئ:

- د آيرلنډي پاسپورت لپاره درخواست وکړئ
- که چېرې مو عمر له 18 کلونو څخه لوړ وي په ټولو ټاکنو کې خپله رايه وکاروئ
- ټول ايالتي خدماتو ته لاسرسی ولرئ.

## که چېرې زه په آيرلنډ کې زيږېدلی وم، ايا زه په آتوماتيک ډول د آيرلنډ تبعه ګرځم؟

نه. که چېرې تاسو د 2005 کال د جنورۍ له 1 نېټې وروسته زيږېدلي ياست، تاسو آيرلنډی تبعه ياست يوازې په هغه صورت کې چې:

- ستاسو يو له والدينو څخه يا دواړه د آيرلنډي يا بريټانوي تابعيت لرونکي وي، يا
- ستاسو له والدينو څخه يوه –
  - په قانوني ډول په آيرلنډ يا شمالي آيرلنډ کې ژوند کړی وي (اوسېدلی) وي
  - له آيرلنډ سره ريښتيني اړيکه لري، او
  - مخکې له دې چې تاسو زيږېدلي واست، په آيرلنډ کې يې لږ تر لږه له څلورو مياشتو څخه درې مياشتې ژوند کړی وي.

تاسو به آيرلنډ کې د خپل زيږون په اساس د آيرلنډي تابعيت شرايطو پوره کړئ که چېرې ستاسو والدينو:

- په آيرلنډ کې د زده کوونکو په ویزه ژوند کړی وي، یا
- د پناه غوښتنې د دعوا یا د پاتې کېدو د اجازې په اړه د پرېکړې انتظار کوي، یا
- د ډیپلوماتیک خوندیتوب مستحق وي ( دا کېدی شي ستاسو له والدینو څخه له هر یوه سره تړاو ولري).

## که چېرې زه د زیږون له لارې آیرلنډی تابعیت نه لرم، نو څنګه کولی شم آیرلنډ تبعه شم؟

که چېرې چې تاسو د زیږون له لارې د آیرلنډي تابعیت لپاره په شرایطو برابر نه یاست، تاسو لا هم کولی شئ د طبیعي کولو په نوم د پروسې له لارې آیرلنډي تابعیت ته درخواست وکړئ. د تابعیت لپاره آتوماتیک حقونه هم شتون لري او په دې اړه د عدلیې او برابرۍ د وزیر له خوا پرېکړه کېږي.

تاسو باید مخکې له دې چې وکولی شئ د طبیعي کولو لپاره خپل درخواست وړاندې کړئ د 18 کلنۍ عمر مو بشپړ کړی وي. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، ستاسو والدین یا پالونکی کولای شي ستاسو په استازیتوب ستاسو لپاره درخواست وکړي. هغو په لاندې حالاتو کې کولی شي دا کار وکړي:

- مخکې له دې چې هغوی د آیرلنډ تابعیت ترلاسه کړي، یا
- که چېرې تاسو آیرلنډی اړیکې ولرئ ( په دې مانا چې د وینې اړیکه ولرئ، د خپلوۍ اړیکه ولرئ، یا داسې چا په فرزندۍ نیولې وئ چې د آیرلنډ تبعه وي) یا
- که چېرې تاسو په آیرلنډ کې زیږېدلې یاست، یا
- که چېرې تاسو په آیرلنډ کې زیږېدلې یاست او د کورنۍ د واحد د برخې په توګه د پنځو کلونو لپاره په آیرلنډ کې اوسېدلې یاست.

سربېره پر دې، که چېرې تاسو په آیرلنډ کې د 2005 کال د جنورۍ له 1 نېټې وروسته زیږېدلې یاست، یا ستاسو له والدینو څخه کوم یوه د آیرلنډ تابعیت ترلاسه کړی وي، مخکې له دې تاسو 18 کلن شئ، نو ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي ستاسو په استازیتوب د تابعیت درخواست درته وکړي. تاسو باید بېلابېل شرایطو پوره کړئ ترڅو د تابعیت لپاره په شرایطو برابر وګڼل شئ.

څو نورې لارې هم شتون لري چې له مخې یې کولی شئ د ماشوم یا یوه لوی کس په توګه د آیرلنډي تابعیت شرایط پوره کړئ. تاسو کولی شئ له لاندې لارو شرایط پوره کړئ:

- نسب – که چېرې تاسو له ایرلینډ څخه د باندې زیږېدلې یاست، اما د آیرلنډ د تابعیت لرونکي کس ماشوم یا لمسی یاست، تاسو حق لرئ د آیرلنډ تابعیت ترلاسه کړئ، په دې شرط چې ستاسو زیږېدنه د زیږون د ثبت په بهرني کتاب کې ثبت شوې وي.
- په فرزندۍ د ماشوم نیول – که چېرې تاسو د آیرلنډي تابعیت لروکي کس یا داسې جوړې له خوا په فرزندۍ نیول شوي یاست چې یو له زوجینو څخه د آیرلنډ تابعیت ولري.

د آیرلنډي تابعیت د ترلاسه کولو په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره، د اتباعو معلوماتي ویب پاڼې یا دINIS I ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ.

## آیا زه کولی شم د کډوال یا مهاجر په توګه د ماشومانو د شکایاتو مسئول ته شکایت وکړم؟

د کډوال، پناه غوښتونکي یا کډوال په توګه تاسو کولی شئ د ماشومانو لپاره د شکایتو مسئول (OCO) ته په دې اړه شکایت وکړئ چې عامه نهادونه یا د هغوی استازي په آیرلنډ کې له تاسو سره څه ډول چلند کوي. په دې کې لاندې نهادونه شاملېږي:

- ښوونځي
- روغتونونه
- ټول حکومتي نهادونه
- ځینې د حکومت له خوا تمویلېدونکي خدمات لکه د مستقیمې پاملرنې هستوګنه.

په هر صورت، تاسو نه شئ کولی OCO ته په دې اړه شکایت وکړئ چې ستاسو د کډوالۍ وضعیت څنګه طی مراحل کېږي.

## آیا زه لومړنیو او منځنیو زده کړو ته د لاسرسي په برخه کې د آیرلنډي تابعیت لرونکي کس په څېر حقوق لرم؟

تقریباً ټول کډوال او مهاجر ماشومان د لومړنیو او منځنیو زده کړو لاسرسي ته د آیرلنډي ماشوم په څېر حقوق لري.

یوازینی استثنی له اروپايي ټولنې د باندې نړیوال ماشومان زده کوونکي دي. که چېرې ستاسو والدین د زده کړو لپاره آیرلنډ ته راغلي، هغوی باید دا ثابته کړي چې په کافي اندازه پیسې لري چې تاسو ته یې درکړي. مخکې له دې چې تاسو وکولی شئ غیر وړیا ښوونځي ته لاړ شئ، هغوی د پوهنې له وزارت څخه اجازه ترلاسه کړي. هغوی همدارنګه باید ستاسو لپاره د کډوالۍ مالیه (یو ډول ځانګړې مالیه) تادیه کړي ترڅو وکولی شئ غیر وړیا ښوونځي ته لاړ شئ.

د پوهنې وزارت تر اوسه په دې اړه قوانین ندي نهايي کړي او د مالیې د اندازې په اړه یې پرېکړه نده کړې.

## آیا کولی شم د دریمې کچې زده کړو لپاره د وړیا فیس پروګرام ته د آیرلنډ د تابعیت لرونکي کس په څېر لاسرسی پیدا کړم؟

د وړیا فیسونو د پروګرام لپاره د شرایطو د پوره کولو یا د ایرلنډ د زده کوونکو د نړیوال ملاتړ مرستې ته د درخواست کولو لپاره، تاسو باید په لاندې هېوادونو کې له وروستیو پنځو کلونو څخه درې کلونه تېر کړي وي:

- اروپايي ټولنه
- آیسلنډ
- لختنشتاین
- ناروې یا
- سویس.

تاس همدارنګه باید د اروپايي ټولنې یا لاندې هېوادونو تابعیت ولرئ:

- آیسلنډ، لختنشتاین، ناروې یا سویس
- د کډوالۍ د وضعیت لرل
- د پېژندل شوي کډوال د کورنۍ غړی وئ
- د پاتې کېدو اجازه مو ترلاسه کړې وي

که چېرې تاسو د زده کړو پر مهال د اروپايي ټولنې تابعیت ترلاسه کړئ، نو تاسو د خپلو پاتې زده کړو لپاره د دریمې کچې فیسونه تادیه نکړئ.

که چېرې تاسو د اروپايي ټولنې تابعیت نه لرئ، نو تاسو ښايي د دریمې کچې تعلیم ته د لاسرسي لپاره د نړیوالو زده کوونکو د فیسونو کچه تادیه کړئ. دغه نرخونه د اروپايي ټولنې د اتباعو په پرتله د پام وړ ډول لوړ دي. دا په دې پورې اړه لري چې تاسو د کډوالۍ د څه ډول وضعیت لرونکي یاست. که چېرې تاسو د پناه غوښتنې په پروسه کې یاست، تاسو باید د نړیوالو زده کوونکو د فیس په کچه فیس تادیه کړئ. په هرصورت، یو شمېر داسې پورګرامونه شتون لري چې ښايي وکولای شي د دریمې کچې تعلیم لګښتونه تر پوښښ لاندې ونیسي لکه د Sanctuary پوهنتون.

دغو پروژو ته د لاسرسي د څرنګوالي په اړه د ډېرو معلوماتو او لارښوونو لپاره د آیرلنډ د مهاجرینو له شورا سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شئ په اړه له انستیتیوت سره خبرې وکړئ چې چېرې غواړئ زده کړې وکړئ، ترڅو په دې پوه شئ چې آیا تاسو د وړیا فیسونو د پروژې لپاره په شرایطو برابر یاست کنه. همدارنګه د زده کوونکو د مالي چارو پر ویب پاڼه هم معلومات شته دي.

# آیا زه د روغتیايي مراقبت د ترلاسه کولو لپاره د ورته حقونو لرونکی یم؟

هر ماشوم د روغتیاپالنې خدمت ته د لاسرسي لپاره ورته حقونه لري. په هر صورت، که ستاسو عمر له شپږو کلونو څخه لوړ وي، د وړیا روغتیايي مرقابت د طبي کارت لپاره ستاسو حق به ستاسو له والدینو څخه د یوه د واړو د مهاجرت پر وضعیت پورې اړه ولري. که چېرې ستاسو عمر له شپږو کلونو څخه ټیټ وي تاسو به د عمومي ډاکټر د کارت لپاره مستحق وئ. دا به تاسو ته اجازه درکړي له عمومي ډاکټر (د کورنۍ ډاکټر) سره په وړیا توګه لیدنه وکړئ. د دې لپاره چې د عمومي ډاکټر کارت ترلاسه کړئ تاسو باید د PPS شمېره ولرئ. په دې اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره 3مه برخه وګورئ: د روغتیا لپاره زما حق.

تاسو والدین باید د اروپايي ټولنې د تابعیت لرونکي ترڅو وکولی شي ستاسو لپاره طبي کارت ترلاسه کړي. هغوی باید د روغتیا د شخصي بیمې لرونکي وي. په هر صورت، ستاسو والدین ښايي ستاسو لپاره د طبي کارت د ترلاسه کولو لپاره شرایط پوره ککه چېرې تاسو یا ستاسو والدینو د پناه غوښتنې لپاره درخواست کړی وي یا مو پناه غوښتنه منل شوې وي:

- د مهاجرت وضعیت
- فرعي خوندیتوب
- په آیرلنډ کې د پاتې کېدو اجازه

د دې لپاره ځانګړي قوانین او د عاید حدود شتون لري. د لازیاتو معلوماتو لپاره، خپل د محلي اتباعو د معلوماتو مرکز ته مراجعه وکړئ.

## څنګه د PPS شمېره ترلاسه کړم؟

ستاسو د عامه خدماتو شخصي شمېره (PPS) یوه داسې بې ساري رېفرېنس شمېره ده چې کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو په آیرلنډ کې د ټولنیزې هوساینې امتیازاتو، عامه خدماتو او معلوماتو ته لاسرسی ولرئ. که چېرې ستاسو عمر له 16 کلونو څخه ټیټ وي، تاسو د داسې ماشوم په توګه په پام کې نیول کېږئ چې PPS شمېره ترلاسه کوئ.

که چېرې ستاسو عمر تر 16 کلنونو ټیټ وي، ستاسو والدین، سرپرست والدین یا پالونکی باید له تاسو سره یوځای د PPS شمېرې د ورکړې مرکز ته لاړ شي. که چېرې ستاسو عمر تر 16 کلونو لوړ وي، تاسو کولی شئ خپله لاړ شئ. په دې باندې د پوهاوي لپاره چې څنګه د ملاقات لپاره باید وخت واخلئ او څه شی له ځانه سره راوړئ، د ټولنیز خوندیتوب د وزارت وېب پاڼه وګورئ.

## آیا زه د دې حق لرم چې له بې غورۍ، ضرر او ناوړه استفادې څخه خوندي وم؟

هو. مهمه نه ده چې تاسو د کوم ځای یاست، په آیرلنډ کې ټول ماشومان ځوان خلک د دې حق لري چې له هر ډول ناوړه استفادې، بې غورۍ او ضرر څخه خوندي وي.

که چېرې فکر کوئ چې له تاسو سره بې غورې کېږي، ضرر درته رسول کېږي یا ناوړه استفاده درڅخه کېږي، تاسو یا داسې لوی کس چې تاسو باور ورباندې لرئ باید په Tusla کې ستاسو له ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسي. د هغوی د اړیکو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د Tusla وېب پاڼه وګورئ.

که چېرې تاسو په بېړني حالت کې یا له رسمي ساعتونو د باندې ساعتونو کې مرستې ته اړتیا لرئ، کولی شئ تر ټولو نږدې د ګارډا سټېشن عاجلې تلفوني کرښې ته د 999 یا 112 له لارې زنګ وهئ.

که چېرې تاسو د خپل ځان یا کوم ملګري په اړه اندېښنه لرئ، تاسو کولی شئ د ماشومانو له کرښې سره خبرې وکړئ. دا د ماشومانو لپاره یو محرم او وړیا خدمت دی. تاسو کولی شئ د ماشومانو له کرښې سره په لاندې شمېرو اړیکه ونیسئ:

- د ټلفون له لارې په 66 66 66 1800 شمېره
- 50101 شمېرې ته د Talk په استولو سره.

10مه برخه وګورئ: چېرې کولی شم د مرستې لپاره لاړ شم؟ د غه لاربنود د ملاتړ نورو سازمانونو ته.

# 6.2 جدا شوی ماشوم

## که چېرې زه آيرلنډ ته خپله يوازې راشم، څه به کيږي؟

که چېرې تاسو آيرلنډ ته خپله يوازې راشئ، يا له داسي لوی کس سره راشئ چي ستاسو د مراقبت مسئول دی، له تاسو سره به د بې ملګري ماشوم په توګه چلند وشي. تاسو همدارنګه ښايي د بېل شوي ماشوم په توګه وپېژندل شئ.

د ماشوم او د کورنی اېجنسي، Tusla به ستاسو وضعيت ته کتنه وکړي او پرېکړه به وکړي چي ستاسو لپاره څه غوره دي. که چېرې دوی داسي وانګېري چي دا په مجموع کي ستاسو لپاره غوره ده، Tusla ښايي پرېکړه وکړي چي ستاسو لپاره د نړيوال خونديتوب غوښتنه وکړي.

په دې باندې د پوهېدو لپاره چي د يوه بې ملګري ماشوم لپاره د نړيوال خونديتوب پروسه څنګه کار کوي، تاسو کولای شئ د عدليي وزارت پر وېب پاڼه معلوماتي لارښود وګورئ.

## که چېرې زه يو بېل شوی ماشوم څوک به ماته پاملرنه کوي؟

په Tusla کي د بېلو شوو ماشومانو ټيم د هغو ماشومانو د مراقبت او هوساينې مسئوليت پر غاړه لري چي بېل يا جلا شوي دي. د لازياتو معلوماتو لپاره، د Tusla وېب پاڼه وګورئ.

ټولنيز کارمند به له تاسو سره ستاسو د اړتياوو په اړه خبرې وکړي او بيا به ستاسو لپاره د مراقبت پلان جوړ کړي. ټولنيز کارمند ښايي تاسو په مسکوني مراقبت کي له يوې سرپرستي کورنی سره ځای پر ځای کړي.
هغوی کيدای شي تاسو په مساعدتي هستوګنو کي ځای پر ځای کړي چي تاسو د 18 کلنی لپاره په خپلواک ډول د ژوند کولو لپاره تيار کړي.

## نور معلومات او ملاتړ له کومه ځايه اخيستی شم؟

که چېرې تاسو د بې ملګري ماشوم يا بېل شوي ماشوم په توګه د خپلو حقونو په هکله ډېرو معلوماتو او ملاتړ ته اړتيا لرئ، تاسو کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف له مرستندويه کرښي سره په 0494 902-01 شمېره اړيکه ونيسئ يا په لاندې پته برېښناليک ورته واستوئ help@childrensrights.ie.



# 6.3 نړیوال خوندیتوب

## نړیوال خوندیتوب څه شی دی؟

د نړیوال خوندیتوب اصطلاح یعني د حکومت له خوا هغه چاته خوندیتوب ورکول چي بل هېواد یي پرېښی وي ترڅو له ځورول کېدو څخه وتښتي. په دې که هغه دوه ډوله خوندیتوب شاملېږي چي په آیرلنډ کي غوښتنلیک ورته سپارل کېدی شي:

- د مهاجرت وضعیت
- فرعي خوندیتوب.

د کډوال وضعیت یو ډول قانوني خوندیتوب دی چي حکومت یي هغو خلکو ته ورکوي چي د لاندي مواردو په اساس له ځوروني څخه د خلاصون نیت تښتي:

- نژاد
- مذهب
- ملیت
- په ځانګړي ټولنیز ګروپ کي غړیتوب
- د هغوی په خپل هېواد کي سیاسي نظریې.

فرعي خوندیتوب هغه خوندیتوب ته وایي چي له لاندي مواردو څخه تښتي:

- شکنجه
- د مرګ سزا
- د جنګ په جریان کي د شدید تاوتریخوالي خطر

ژوند وکړي او له ګټو حقونو څخه دلته استفاده وکړي.

پناه غوښتونکی هغه چاته ویل کېږي چي د نړیوال خوندیتوب لپاره یي درخواست کړی وي.

کله چي تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کوئ، تاسو د عدلیي او برابری له وزیر څخه غوښتنه کوئ چي دا په پام کي ونیسي چي آیا تاسو د لاندي مواردو لپاره په شرایطو برابر یاست کنه:

- د کډوال اظهار، یا
- د فرعي خوندیتوب اظهار.

تاسو کولی شئ دغو دواړو ته په ورته توګه درخواست وکړئ، اما که تاسو وضعیت درکړل شوی وي، دا به یوه یا د هغه بل لپاره یي وي.

## زه به څنګه د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کوم؟

تاسو به د نړیوال خوندیتوب لپاره د خپلو والدینو په درخواست کې شامل شئ که چېرې:

- ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي او له خپلو والدینو سره یوځای ژوند کوئ، او
- تاسو د آیرلنډ تابعیت نه لرئ.

ستاسو والدین باید څومره ژر چې امکان ولري د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست وکړي. هغوی کولی شي دا کار په لاندې طریقو ترسره کړي:

- په هوایي ډګر یا په سمندي پورټ کې چېرې چې تاسو آیرلنډ ته داخل شوي یاست، یا
- ایالت ته له داخلېدو وروسته په ډوبلین کې د نړیوال خوندیتوب په دفتر کې.

ستاسو والدین چې کله د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست کوي، هغوی باید تاسو هم له ځانه سره راولي.

تاسو کولی شئ د پناه غوښتنې د درخواست د پروسې په اړه اضافي معلومات د نړیوال خوندیتوب د دفتر پر وېب پاڼه ومومئ.

## که چېرې زه د نړیوال خوندیتوب لپاره درخواست وکړم، نو زما حقونه به څه وي؟

که چېرې تاسو له خپلو والدینو سره وئ، نو تاسو به د مستقیمې پاملرنې په نوم د سیستم له لارې هستوګنه او خواړه ترلاسه کړئ. ستاسو کورنۍ به هم طبي کارت ترلاسه کړي نو تاسو به وکولی شئ وړیا روغتیایي مراقبت ترلاسه کړئ. د هرکلي او ادغام اداره (RIA) د مستقیمې پاملرنې د هستوګنې سیستم مخ ته وړي او پریکړه کوي چې تاسو به چیرته ژوند کوئ. RIA همدارنګه ښایي تاسو او ستاسو کورنۍ د هستوګنې متفاوت مرکز ته انتقال کړي په داسې حال کې چې تاسو د مستقیمې پاملرنې په سیستم کې یاست.

کله چې تاسو تر مستقیمې پاملرنې یاست، ستاسو له والدینو څخه یو یا دواړه به هر یو هره اونۍ ستاسو لپاره او ستاسو د هرې خور یا ورور لپاره چې ښایي ویې لرئ 38.80€ او 29.80€ اونیزه تادیه ترلاسه کوي. تاسو همدارنګه ښایي د جامو لپاره، معمولاً په کال کې دوه ځلې پیسې ترلاسه کړئ، اما تاسو د دغه امتیاز لپاره آتوماتیک حق نلرئ. ستاسو والدین نه شي کولی ستاسو لپاره د ماشوم امتیازات یا د ټولنیزې هوساینې نور تادیات ترلاسه کړي. هغوی ښایي د ځینو تادیو لپاره په شرایطو برابر وي که چېرې هغوی کار کوي او شرایط یې پوره کړې وي.

تاسو کولی شئ ابتدائیه او منځنې ښوونځي ته د هغو اساساتو له مخې لاړ شئ کوم چې د آیرلنډي تابعیت لرونکي ماشوم لپاره دي.

تاسو حق لرئ چې د کډوالۍ د حقوقي خدمتونو (RLS) له لارې قانوني استازیتوب ترلاسه کړئ، چې د حقوقي مرستې د بورډ یوه برخه ده. دغه خدمات په ډوبلین، کورک او ګالوې کې شتون لري.

د آیرلنډ د کډوالو شورا هم حقوقي خدمات وړاندې کوي، د هغوی وېب پاڼه وګورئ.

## که چېرې زه د نړیوال خوندیتوب په لټه کې یم، ایا کولی شئ د کار کولو حق ولرم؟

که چېرې د نړیوال خوندیتوب د خپل لومړي درخواست لپاره له نهو میاشتو څخه ډېره موده د پرېکړې انتظار باسئ، نو تاسو کولی شئ د کار بازارت ته د لاسرسي درخواست وکړئ.

له 18 کلونو د ټیټ عمر په لرلو سره د یوه ځوان کس په توګه، تاسو همدارنګه کولی شئ د کار د اجازې لپاره درخواست وکړئ. که چېرې تاسو ته اجازه درکړل شي تاسو به کاري ساعتونو او حد اقل مزد په اړه ورته محدودیتونه ولرئ کوم چې د نورو ځوانو خلکو لپاره وضعه شوي دي.

تاسو کولای شئ د پروسي په اړه زیات معلومات د INIS پر وېب پاڼه ومومئ.

## که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره زما درخواست رد شي، څه به کېږي؟

که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو درخواست رد شي، تاسو، یا ستاسو په استازیتوب ستاسو والدین، ښایي د کډوالی د وضعیت په هکله یا د فرعي خوندیتوب په اړه د نړیوال خوندیتوب د استیناف د غوښتنو دفتر ته د غوښتنلیک د رد پرېکړې پر وړاندې مخالفت وکړي. کله چې تاسو ته ستاسو د نړیوال خوندیتوب د درخواست په اړه پرېکړه استول کېږي، تاسو ته به د استیناف د غوښتنې د فورمې یوه کاپي درکړل شي چې تاسو یې باید ډکه کړئ.

که چېرې ستاسو کورنۍ قانوني استازی نه لري، تاسو کولای شئ د حقوقي مرستو له بورډ سره اړیکه ونیسئ.

## که چېرې د نړیوال خوندیتوب لپاره زما درخواست رد شي، آیا زه کولی د بلې اجازې لپاره درخواست وکړم؟

که چېرې تاسو د کډوالی د وضعیت یا فرعي خوندیتوب لپاره په شرایطو برابر نه یاست، د عدلیې او برابرۍ وزارت به هغه دلایل په پام کې ونیسي چې تاسو ته به ولې په ایالت کې د پاتې کېدو اجازه درکول کېږي (د پاتې کېدو اجازه).

## که چېرې ماته د پاتې کېدو اجازه رانه کړي، ایا کولی شئ د استیناف غوښتنه وکړم؟

که چېرې د پاتې کېدو د اجازې لپاره ستاسو درخواست رد شي، تاسو نشئ کولای د استیناف غوښتنه وکړئ او ستاسو پر وړاندې به ستاسو د بېرته ستنېدو حکم صادر شي. دغه حکم به له تاسو څخه له ایالت څخه د وتو غوښتنه وکړي، او که چېرې تاسو ونه وځئ، ایالت به کوښښ وکړي تاسو اخراج یا ډیپورټ کړي. که چېرې ستاسو والدینو یا پالونکي ته لاښوونه وشي چې دې پرېکړې په ترسره کېدو کې حقوقي تېروتنه شوې ده، تاسو لا هم کولای شئ له سترې محکمې څخه غوښتنه وکړئ چې د دې کار مخنیوی وکړي، او له هغوی څخه غوښتنه وکړي چې پر خپله پرېکړه بیاځلې له سره غور وکړي.


# که چېرې زه نړیوال خوندیتوب ولرم، ایا له آیرلنډ څخه د باندې زما کورنۍ کولای شي دلته له ما سره یوځای شي؟

دا په دې پورې اړه لري چې تاسو ولې آیرلنډ کې اوسېږئ او دا چې آیا تاسو د آیرلنډ یا د اروپایي ټولنې د قانون له مخې د اوسېدو حق لرئ کنه.

که چېرې تاسو د آیرلنډ یا اروپايي ټولنې د تابعیت لرونکي یاست، ستاسو د کورنۍ غړی ښايي په آیرلنډ کې له تاسو سره د یوځای اوسېدو حق ولري.

که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو څخه ټيټ وي او نړیوال خوندیتوب درکړل شوی وی، نو تاسو د ځینو حقونو لرونکي یاست. په دغو حالاتو کې نړیوال خوندیتوب یعني دا چې تاسو کولای شئ د کورنۍ د ادغام لپاره درخواست وکړئ - ستاسو د کورنۍ د غړو لپاره اجازه چې له تاسو سره په آیرلنډ کې یوځای شي. د کورنۍ غړي دلته عبارت دی ستاسو له والدینو، او هغو ورونو او خویندو څخه چې عمرونه یې تر 18 کلونو ټيټ وي.

تاسو 12 میاشتې وخت لرئ ترڅو د کورنۍ د یوځای کېدو لپاره درخواست وکړئ. دغه موده هغه مهال شروع کېږي کله چې تاسو د نړیوال خوندیتوب د تاییدۍ په اړه لیک ترلاسه کړئ. که چېرې تاسو مېشت شوی کډوال یاست، نو تاسو آیرلنډ ته له راتګ څخه وروسته 12 میاشتې وخت لرئ ترڅو د خپلې کورنۍ د ادغام درخواست وکړئ.



# 6.4 د کډوالۍ یا فرعي خوندیتوب وضعیت

که چیرې د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو یا ستاسو د کورنۍ درخواست ومنل شي، نو تاسو به د مهاجرت یا فرعي خوندیتوب وضعیت درکړل شي. دا په دې مانا ده چې تاسو کولی شئ په آیرلنډ کې پاتې شئ او تاسو ډېر نور حقونه لرئ. د وضعیت دغه دوه ډولونه تقریبا ورته حقونه لري اما یو څو کوچني توپیرونه شتون لري.

## د کډوال په توګه زما حقونه څه دي؟

د کډوال په توګه، تاسو به په آیرلنډ کې د آیرلنډي تابعیت لرونکي کس په شان ورته حقونه ولرئ. دا په د مانا چې تاسو د دې حق لرئ چې:

- په کار پسې وګرځئ
- دنده ترلاسه کړئ
- زده کړو ته لاسرسی ولرئ
- روزنه ترلاسه کړئ
- طبي مراقبت ترلاسه کړئ
- ټولنیز خوندیتوبونه او خدمات.

د کډوال په توګه تاسو مستحق ګڼل کېږئ چې د سفر آیرلنډی سند درکړل شي، ترڅو له آیرلنډ څخه ووځئ او بېرته دغه هېواد داخل شئ. په هر صورت، که چیرې تاسو بېرته هغه هېواد ته ستانه شئ چې ځنې راتښتي یاست، کېدی شي تاسو خپل د کډوالۍ وضعیت له لاسه ورکړئ او ښایي تاسو بېرته دغه هېواد ته د اخلېدو لپاره ویزې ته اړتیا ولرئ. تاسو کولی شئ د طبیعي پروسې له لارې له دریو کلونو وروسته د تابعیت لپاره درخواست وکړئ. هغه وخت چې تاسو یې پرېکړې ته په انتظار کې تېروئ په دغه موده کې نه شمېرل کېږي.

## که چیرې زه د فرعي خوندیتوب وضعیت ولرم، نو زما حقونه به څه وي؟

که چیرې د فرعي خوندیتوب لپاره ستاسو یا ستاسو د کورنۍ درخواست ومنل شي، تاسو به د مهاجر په څېر د ورته حقونو او استحقاقونو لرونکي وئ اما ځیني واړه توپیرونه شتون لري. په ځانګړې توګه، کېدی شي دا ستاسو لپاره ډېره ستونزمنه وي چې د سفر سند ترلاسه کړئ او تاسو باید د دریو کلونو پر ځای پنځه کاله انتظار وکړئ مخکې له دې چې وکولای شئ د تابعیت لپاره درخواست وکړئ.

# له جزايي قانون او ګارډا (آيرلنډي پوليس) سره د معاملې په اړه زما حقوق







۷

# 7.1 د جرم قرباني

## قرباني څوک دی؟

د جرم قرباني هغه کس ته ويل کېږي چې داسې فزيکي، رواني، عاطفي ضرر يا اقتصادي زيان ورته رسېدلی وي چې په مستقيم ډول د جرم د ارتکاب له امله وي. د کورنۍ غړي هم قربانيان ګڼل کېږي که چېرې د هغوی د دوست مړينه په مستقيم ډول د جرم د ارتکاب له امله وي.

## د ملاتړ لپاره له چا سره کولی شم اړيکه ونيسم؟

که چېرې تاسو د جرم قرباني ياست، نو تاسو کولی شئ د جرم د قربانيانو له مرستندويه کرښې سره په لاندې شمېره اړيکه ونيسئ:

- 116006 ته په زنګ وهلو سره
- 085 133 7711 ته د پيغام په استولو سره.

هغوی کولی شي تاسو ته معلومات او ملاتړ چمتو کړي.

## که چېرې زه د جرم قرباني يم، زما حقونه به څه وي؟

که چېرې تاسو د جرم قرباني ياست، تاسو د داسې معلوماتو د ترلاسه کولو حق لرئ چې کولی شئ وريانديز پوه شئ. که چېرې مرستې ته اړتيا لرئ، د بېلګې په توګه ترجمان ته، تاسو ته به چمتو کړل شي.

تاسو همدارنګه بايد د جرم په اړه ګارډا (آيرلنډي پوليسو) ته په 999 يا 112 شمېره راپور ورکړئ. کله چې تاسو ګارډا ته د جرم په اړه راپور ورکوئ، تاسو د دې حق لرئ د هغه څه په اړه چې راپور کړي مو دي يو ليکلی تصديق ترلاسه کړئ. تاسو معمولاً مستحق ياست ترڅو د هر هغه بيان يوه کاپي ترلاسه کړئ چې ګارډا ته مو جوړ کړی دی.

تاسو حق لرئ چې د An Garda Síochána (پوليسو ځواک) له خوا د قرباني د هر ډول خدماتو په اړه چې په دې کې د متخصص خدمات هم شامليږي او چې کېدی شي وکولی شي له تاسو سره مرسته وکړي، خبر شئ. که چېرې تاسو وغواړئ، ګارډا همدارنګه کولی شي تاسو دغو خدماتو ته راجع کړي.

معمولاً، تاسو دا حق هم لرئ چې د خپلې خوښې ور کس يا وکيل له خو مو ملتيا وشي، که چېرې تاسو وغواړئ، هرکله چې تاسو:

- د لومړي ځل لپاره ګارډا ته ورشئ او د جرم په اړه ورته ووایاست
- ګراډا ته شکايت وکړئ چې ستاسو پر وړاندې جرم ترسره شوی دی.

که چېرې د هر دليل له امله ستاسو والدين يا پالونکی نشي کولای له تاسو سره راشي، کېدی شي د بل مناسب لوی کس په څېر له يوه مناسب کس څخه غوښتنه وشي چې د هغوی پر ځای راشي.

د یوه داسي کس په توګه چي عمر مو له 18 کلونو څخه ټیټ وي، تاسو په آتوماتیک ډول داسي انګېرل کېږئ
چي د جرم د قرباني په توګه ځانګړي خوندیتوب ته اړتیا لرئ. په دې کې ټولي هغه مرکي شاملېږي چي د داسي
کس له خوا ترسره کېږي چي ځانګړې روزنه یې ترلاسه کړې وي.

ستاسو مرکه ښايي په ډي وي ډي کې ثبت شي او دغه ثبت ښايي بېرته په محکمه کې پلې شي.

کله چي په دې اړه ارزونه ترسره کېږي چي تاسو د ځانګړي خوندیتوب څه ډول اقداماتو ته اړتیا لرئ، ګارډا باید
ستاسو غوره ګڼې او نظریات په پام کې ونیسي.

دا د ګارډا او د عامه تعقیبونو د رییس (DPP) مسئولیت دی چي پرېکړه وکړي چي آیا د یوه جرم په اړه پلټني
وشي او محکمې ته راوړل شي کنه. که چېرې داسي پرېکړه وشي چي د جرم په اړه دې پلټنه نه کېږي، تاسو
حق لرئ د دغه پرېکړې د دلایلو د لنډیز غوښتنه وکړئ.

## آیا زه باید په دې اړه محکمه کې خبرې وکړم چي ماته څه پېښ شوي دي؟

د جرم د قرباني په توګه، ښايي له تاسو غوښتنه وشئ چي په محکمه کې د جرم د شاهد په توګه حضور ولرئ که
چېرې تورن کس ملامت ثابت نشي.

که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو ټیټ وي، نو تاسو په آتوماتیک ډول داسي انګېرل کېږئ چي ځانګړي
خوندیتوب ته اړتیا لرئ. په دغه ځانګړي خوندیتوب کې د جرم له مرتکب سره د اړیکو د مخنیوي حق دی. دا
کېدی شي له لاندې ځایونو څخه د شاهدی د ورکولو په مانا وي:

- له ویډیويي لینک څخه په استفادې سره له بل اطاق څخه
- د پردې تر شاه.

دا همدارنګه کېدی شي په دې مانا وي چي تاسو به پخپله د تورن کس له خوا نه پوښتل کېږئ. او نه هم قاضي
کولی شي د تورن کس لپاره له تاسو څخه د شخصي ژوند په هکله چي له جرم سره تړاو نه لري، پوښتني مطرح
کړي.

په پای کې دا په دې مانا هم کېدی شي چي محکمه د عامو خلکو پر مخ تړلې ده. دا په دې مانا چي د خبري
رسنیو راپور جوړوونکي باید د هېڅ داسي څیز په اړه راپور ورنکړي چي د ماشوم هویت څرګند کړي.

قرباني شوی کس همدارنګه کولی شي د قرباني شوي کس د اغېز بیان چمتو کړي. که چېرې تورن کس مجرم
وګڼل شي، کله چي د سزا په اړه خبرې کېږي، کېدی شي دغه بیان د قاضي یا خپله د قرباني شوي کس له خوا
محکمې ته ولوستل شي.

# 7.2 استثمار

## د انسان قاچاق څه ته وايي؟

انساني قاچاق له يوه ځای څخه بل ځای ته د استفادې او استثمار په موخه د خلکو انتقال ته وايي. قربانيان په مختلفو ډولونو د کارونو لپاره قاچاق کيږي، چې په دې کې د فارم کار يا محلي کار شامليږي يا کېدی شي قرباني شوی کس فحاشۍ ته اړ کړل شي.

د ماشومانو په مورد کې دا لا هم قاچاق ګڼل کيږي حتی که چيرې تاوتريخوالی، ذهني فشار يا ګواښونه هم شتون ونلري.


## د مرستې لپاره چيرته تللای شم؟

که چيرې تاسو يا کوم بل داسې څوک چې پيژنئ استثمار کيږئ، تاسو کولی شئ له خپل محلي ګارډا سره اړيکه ونيسئ. که چيرې غواړئ په مستعار نامه سره يې راپور کړئ، تاسو کولی شئ د جرم له شنډوونکو سره په 1825 0022 شمېره اړيکه ونيسئ. تاسو همدارنګه کولی شئ لاندې پتې ته په مستعار ډول يا شديد محرميت سره برېښناليک واستوئ، blueblindfold@garda.ie.

تاسو کولی شئ د ملاتړ د خدماتو په اړه د انساني قاچاق ضد ملي ادارې پر وېب پاڼه له لاندې لېنک څخه معلومات ترلاسه کړئ www.blueblindfold.gov.ie.

## که چيرې زه په جبر سره د جرم ارتکاب ته اړ کيږم، بايد څه وکړم؟

که چيرې کوم داسې څوک چې تاسو يې پيژنئ تاسو د نشه يي توکو د لېږد په څېر غير قانوني فعاليت ته اړ باسي، تاسو بايد له يوه داسې لوی کس سره چې باور ورباندې لرئ د هغه څه په اړه خبرې وکړئ چې تاسو ته پېښيږي. تاسو همدارنګه کولی شئ له خپل محلي ګارډا سره اړيکه ونيسئ. که چيرې غواړئ په مستعار نامه سره يې راپور کړئ، تاسو کولی شئ د جرم له شنډوونکو سره په 1825 0022 شمېره اړيکه ونيسئ.



# 7.3 د جرم پر وړاندې شهادت

## که چېرې زه ووينم چې کوم جرم ترسره کېږي، آيا زه بايد په دې اړه ګارډا ته ووايم؟

تاسو بايد د ټولو جرمونو په اړه ګارډا ته راپور ورکړئ. د ځينو جدي جرمونو لپاره، لکه د بل ماشوم يا زيانمنونکي بالغ کس پر وړاندې جنسي ځورونه، دا جرم ګڼل کيږي که چېرې تاسو ګارډا ته د هغه څه په اړه خبر ورنکړئ چې ورباندې پوهيږئ..

## که چېرې زه د کوم جرم شاهد وم، آيا بايد محکمې ته لاړ شم؟

کېدی شي. دا په دې پورې تړاو لري چې تاسو څه ليدلي يا اورېدلي دي او دا چې ايا ايالت غواړي تاسو په دغه قضيه کې شاهد وئ کنه. که چېرې له تاسو غوښتنه وشي چې محکمې د هغه څه په اړه شهادت ورکړئ چې ليدلي مو دي، نو تاسو کولی شئ په هغه اطاق کې له حضور څخه انکار وکړئ چې تورن پکې شتون لري. تاسو کولی شئ د محکمې په جريان کې له لاندې طريقو څخه په استفادې سره خپل شواهد ورکړئ:

- د پردې تر شاه، يا
- د محکمې له بل اطاق څخه په ژوندی بڼه د ويډيويي لينک له لارې.

## آيا تورن مجرمين به په دې پوه شي چې هغه کس چې راپور يې ورکاوه زه يم؟

تورنو مجرمينو ته معمولاً اړينه نه ده وويل شي چې چا د جرم په اړه راپور ورکړی دی. په هر صورت، که چېرې يو ځوان کس ګارډا ته د شکايت په بڼه رسمي ليکلی بيان وړاندې کړي او د عامه تعقيبونو رييس پرېکړه وکړي چې قضيه دې محکمې ته راجع شي، ياد بيان به د محکمې له پيل مخکې له تورن کس سره شريک شي. په جرم تورن هر کس د دې حق لري چې د هغوی پر وړاندې چمتو شوي شواهد واوري، نو په دې توګه به هغوی وکولی شي هغه څه چې تاسو يې محکمې ته وايئ ووينې او واوري.

## که چېرې زه د جرم شاهد يم، آيا زما لپاره ملاتړ شتون لري؟

هو، ستاسو لپاره يو شمېر د ملاتړ موارد شتون لري، لکه:

- د محکمې د ملاتړ خدمات، تلفون 6785 872-01، يا 552 288 087 يا وېب پاڼه
- د ماشومانو کرښه، تلفون 66 66 66 1800
- د جرم د قربانيانو مرستندويه کرښه، وړيا تلفون 116006، پيغام 1337711 085.

# 7.4 د جرم شکمن یا تورن کس

## د جرمي مسئولیت عمر څومره دی؟

په آیرلنډ کې د جرمي مسئولیت عمر د 12 کلنی عمر دی. دا په دې مانا ده چې هغه ماشومان چې د 12 کلنی عمر یې نه وي بشپړ کړی د جرم مرتکب نه ګڼل کیږي. اما، د هغو ماشومانو لپاره چې عمرونه یې 10 یا 11 کلونه وي کېدی شي د قتل، ځانوژنې، جنسي تجاوز، یا شدیدې جنسي ځورونې په تور د متهم کېدو استثنی شتون ولري.

که چېرې ستاسو عمر له 12 کلونو څخه ټیټ وي او ګارډا د داسې معقولو دلایلو لرونکی وي چې فکر وکړي تاسو د جرم مرتکب ګرځېدلي یاست، هغوی باید تاسو ستاسو والدینو یا پالونکي ته بوځي.

## آیا کېدی شي زه له حکم پرته یا زما له توافق پرته تعقیب شم؟

که چېرې ګارډا معقول دلایل ولري چې تاسو د جرم مرتکب ګرځېدلي یاست، هغوی کولی شي ستاسو له توافق پرته ستاسو په لټه کې شي. دا د ټولو هغو لپاره د تطبیق وړ دی چې عمرونه یې له 18 کلونو څخه ټیټ دي.

ګارډا ستاسو د والدینو یا پالونکي توافق ته اړتیا نلري. ګارډا باید تاسو ته ووایي چې ولې ستاسو پلټنه کوي.

ګارډا معمولاً د کور یا بلې ودانۍ د پلټنې لپاره د پلټنې حکم ته اړتیا لري. محکمه، یا ځینې وختونه ارشد ګارډا کولی شئ د پلټنې حکم صادر کړي. که چېرې پلټنه ستاسود جېبونو له پلټلو څخه اضافي کار ته اړتیا ولري، دا کار باید د ورته جنسیت لرونکي غړي له خوا ترسره شي.

## آیا ګارډا کولی شي زما موټر وپلټي؟

ګارډا کولی شي ستاسو موټر وپلټي که چېرې هغوی غوره دلایل ولري چې فکر وکړي چې:

- تاسو د دولت ضد قوانینو لاندې جرم ترسره کړی یا نږدې یاست جرم ترسره کړئ لکه قتل یا کوم بل ځانګړی جرم، یا
- تاسو له نشه یي توکو څخه د ناوړه استفادې د قوانینو په اساس د چرسو او هیروئینو په شان کنټرولېدونکي نشه یي توکي یا نور ځانګړي نشه یي مواد لرئ.

ګارډا همدارنګه کولی شئ د بېلابېلو نورو صلاحیتونو له مخې ستاسو موټر وپلټي..

## ګارډا کله کولی شي زما کور ته داخل شي؟

معمولاً، ګارډا ستاسو له توافق پرته نه شي کولی ستاسو کور ته داخل شي. اما، ځینې استثناوې شتون لري. تر ټولو عامه يې د ګارډا له خوا د پلټنې د بااعتباره حکم لرل یا د شکمن کس څارل دي.

## آیا ګارډا زما د کور د پلټنې لپاره حکم ته اړتیا لري؟

ګارډا ډېرى ملکیتونو او شتمنیو ته د ننوتلو لپاره حکم ته اړتیا لري، اما نه د ټولو لپاره. د بېلګې په توګه، ګارډا کولی شي ستاسو کور ته داخل شي کله چې باور ولري چې کوم څوک په کور کې د ننه جرم ترسره کوي.

## آیا د هټیو امنیتي ګارډان یا نور خلک اجازه لري چې زما پلټنه وکړي؟

امنیتي ګارډان او نورو خلک هېڅ داسې صلاحیت نه لري چې ستاسو له اجازې پرته ستاسو پلټنه وکړي. هغوی یوازې په هغه صورت کې کولی شي ستاسو د خپلې غوښتنې خلاف ونیسي کله چې هغوی یقیني وي چې تاسو کوم جرم ترسره کړی دی او کوښښ کوئ چې د ګارډا له خو ستاسو د نیولو مخنیوی کوئ. که چېرې امنیتي ګارډ یا کوم بل کس تاسو ونیسي، هغوی باید څومره ژر چې کولی شي تاسو ګارډا ته وسپاري. ګارډا ښايي د اړتیا په صورت کې تاسو وپلټي تعني تلاشي مو کړي.

## که چېرې زما عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، آیا ګارډا کولای شي ما ونیسي؟

ګارډا د روته صلاحیتونو لرونکي دي دا که د ماشوم، ځوان کس یا لوی کس سره معامله وي. اما، که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، ګارډا باید ستاسو عمر او د پخوالي کچه تر ډېره په پام کې ونیسي.

## که چېرې زه ونیول شم او د ګارډا سټېشن ته راوړل شم، آیا ګارډا به زما والدین ته ووايي؟

د ګارډا په سټېشن کې مسئول ګارډا باید ستاسو والدین یا پالونکي ته ووايي چې تاسو تر پالنې لاندې یاست، دا چې ولې تاسو هلته یاست او تاسو حق لرئ چې وکیل ولرئ. دغه ګارډا باید ستاسو له والدینو یا پالونکي څخه غوښتنه وکړي چې څومره ژر چې کولی همدغه سټېشن ته راشي.

## آیا ګارډا کولی شي خپله له ما څخه پوښتنې وکړي؟

نه. تاسو حق لرئ د پوښتنو په جریان کې له خپل ځان سره وکیل ولرئ. تاسو ښايي وکولی شئ د ګارډا سټېشن د حقوقي مرستو د پروګرام له مخې قانوني مشور ته وړیا لاسرسی ولرئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره د حقوقي مرستو د بورډ وې پاڼه وګورئ. که چېرې ونه شئ کولی وړیا لاسرسی ولرئ، تاسو ستاسو دالدین یا پالونکی باید د پوښتنو په جریان کې وکیل ته تادیه ترسره کړي.

سربېره پر دې، که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو ټیټ وي، ګارډا نه شي کولی له تاسو څخه پوښتني وکړري یا ستاسو د والدینو یا پالونکي له حضور پرته د لیکلي بیان دجوړولو غوښتنه درڅخه وکړي، مګر دا چې که چېرې:

- هغوی نه شي کولی ستاسو له والدینو یا پالونکي سره اړیکه ونیسي.
- ستاسو والدینو یا پالونکي ته ویل شوو چې په مناسب وخت کې د ګارډا سټېشن ته راشي اما هغوی ندي راغلي
- ګارډا په دې باور دی که چېرې پوښتل وځنډېږي، خلک یا ملکیت ښايي د ضرر له خطر سره مخ شي.

ګارډا کولی شئ په مرکه کې ستاسو د والدینو یا پالونکي د کښېناسو مخالفت وکړي او رد يې کړي. که چېرې هغوی باور ولري چې ستاسو والدين یا سرپرست ښايي په شکمن جرم کې ښکېل وي یا دا چې د هغوی شتون ممکن د عدلي انصاف خنډ شي، نو دوی کولی شي دا کار ترسره کړي. دا کېدی شي واقع شي، د بېلګې په توګه، که چېرې ګارډا داسې فکر وکړي چې ستاسو والدين ښايي د مرکې په پروسه کې مداخله وکړي.

په هر صورت، که چېرې ګارډا وغواړي چې یو د ستاسو د والدینو یا پالونکي له حضور پرته له تاسو څخه پوښتنې وکړي، هغوی باید کوښښ وکړي ستاسو بل له والدینو، بل نږدې خپلوان یا کوم نور مسئول لویان کسان د مرکې لپاره حاضر کړي.

## زه به د ګارډا سټېشن په کوم ځای کې ساتل کېږم؟

د ګارډا سټېشن مسئول ګارډا باید دا یقیني کړي چې تاسو له کوم لوی کس سره په توقیف کې نه یاست اچول شوي مګر دا چې بله خوندي هستوګنه شتون ونلري.

## آیا زه د دې حق لرم چې د خپلې توقیفی د لایلو په اړه پوه شم؟

هو. تاسو د دې حق لرئ چې په څرګند او په اسانه ډول پوهېدونکي ژبه درته وویل شي چې تاسو توقیف شوي یاست او همدارنګه باید د توقیف دلایل درته په څرګند ډول بیان کړي.

## کله چې له ګارډا سره سر او کار لرم، چېرې کولی شم خپل حقونه ومومم؟

د آیرلنډ د مدني آزادۍ شورا د "خپل حقونه وپېژنئ" لاربښود کې د "ماشوم او ځوان شخص" برخه وګورئ چې د جنايي عدالت او ګارډا د صلاحیتونو په اړه معلومات وړاندې کوي. تاسو کولی شئ دغه معلومات د خپل حقونه وپېژنئ پر ویب پاڼه پیدا کړئ.

دغه لاربښود به تاسو ته ستاسو د هغو حقونو په اړه معلومات درکړي کله چې له ګارډا سره سر او کار لرئ او همدارنګه د لاندې موارډو په اړه:

- د ګارټو د پلټنې صلاحیتونه
- د ګارډا د نیولو صلاحیتونه
- د ګارډا د عامه حکمونو صلاحیتونه.

# 7.5 د منحرف کېدو پروګرام

## د منحرف کېدو پروګرام څه دی؟

د ماشوم له خوا له قوانینو څخه سرغړونه معمولاً د ګارډا له خوا د منحرف کېدو د پروګرام په توګه پېژندل کېږي. که چېرې تاسو له قانون څخه د سرغړونې مسئولیت ومنئ، تاسو د دغه پروګرام لپاره په پام کې نیول کېږئ. استثنی هغه مهال شتون لري کله چې ګارډا په دې باور وي چې دا به د ټولنې په ګټه نه وي.

د دغه پروګرام هدف ماشوم ته د خبرداري ورکولو له لارې چې 'احتیاط' نومیږي له نورو جرمونو څخه د ماشومانو راګرځول دي. تاسو ښايي په دغه پروګرام کې شامل شئ که چېرې تاسو:

- له قانون څخه د سرغړونې مسئولیت ومنئ (چې همدارنګه د جرم د ارتکاب په نامه یادېږي)
- د احتیاط کولو لپاره توافق
- کله چې د 12 او 18 کلونو ترمنځ عمر لرئ.

په هر صورت، دا د جرم شدیدتوب او د جرم د ارتکاب په پخوانیو سوابقو پورې اړه لري.

تاسو همدارنګه ښايي د ځوانانو د اړیکو د مسئول (JLO) له خوا هم وڅارل شئ. تاسو د دې حق لرئ مخکې له دې چې پرېکړه وکړئ له خپلو والدینو یا پالونکي او وکیل سره خبرې وکړئ.

## د منحرف کېدو پروګرام څنګه کار کوي؟

د انحراف د پروګرام موخه له بشپړ جزايي سیستم څخه د هر هغه ماشوم مخنیوی دی چې د جرم مرتکب ګرځېدلی وي - دغه پروګرام هغوی ته دویم چانس ورکوي.

ستاسو د جرم د شدیدتوب او پر قرباني یا قربانیانو باندې یې د اغېز په اړه د بحث په موخه به یوه غونډه ترسره شي چې لاندې کسان به پکې ګډون کوي:

- تاسو
- ستاسو والدین یا پالونکی
- ستاسو د نویو ځوانانو د اړیکو مسئول (JLO)
- په احتمالي ډول د ګارډا بل غړی
- قرباني شوی کس.

د دې لپاره چې د انحراف په برخه کې شامل شئ او په احتمالي ډول د احتیاط خبرداری ترلاسه کړئ، تاسو باید د خپل جرمي چلند مسئولیت ومنئ او توافق وکړئ چې له خپل JLO سره به تعامل کوئ.

داسې باید داسې اقدامات ترسره کړئ، ترڅو دا یقیني کړئ چې د قانون پر وړاندې هېڅ عمل نه ترسره کوئ. له تاسو ښايي غوښتنه وشي چې په ښوونځي کې پاتې شئ یا له قرباني څخه بښنه وغواړئ. تاسو همدارنګه ښايي د JLO له خوا تر 12 میاشتو پورې وڅارل شئ.

## د ګارډا د ځوانانو د انحراف پروژې (GYDPs) څه دي؟

د انحراف پروګرام د ګارډا د ځوانانو د انحراف د پروژو (GYDPs) له خوا ملاتړ کېږي. GYDPs د ټولنې په اساس پر ملاتړ ولاړې د ځوانانو د پرمختګ داسې پروژې دي چې هڅه کوي ځوانان له ټولنیز ضد یا له جرمي چلند ضد کړنو کې (یا اضافي ښکېلتیا) څخه منحرف کړي او را وېې ګرځوي. اوس مهال د هېواد په کچه 106 GYDPs پروژې شتون لري او 10 پروژې چې ځانګړې تمرکز لري (لکه ډېر ننګوونکي ماشومان یا د کورنۍ ملاتړ). د انحراف پروژې د Foróige او یوت ورک آیرلنډ په څېر سازمانونو له خوا مخ ته وړل کېږي.

د ګارډا ځوانانو د انحراف په پروژو کې هر ښېکل ځوان د ارزونې له یوې پروسې څخه تېرېږي، ترڅو د هغوی فردي اړتیاوې او ځواکمنتیاوې په ګوته شي. دا پروژې ته اجازه ورکوي چې د فعالیتونو یو پروګرام په ځانګړي ډول د ځوانانو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره ترتیب کړي.

## آیا کوم څوک به په دې پوه شي چې زه په دغه پروګرام کې شرکت کوم؟

نه. د انحراف په پروګرام کې ستاسو مشارکت محرم ساتل کېږي. که چېرې وروسته له دې چې تاسو د انحراف په پروګرام کې ښېل شئ او په محکمه کې په جرم باندې تورن شئ، قاضي ته به د انحراف په پروګرام کې ستاسو د پخواني مشارکت په اړه وویل شي.



# 7.6 د محکمې په مخ کې د تورن کس په توګه

## د ماشومانو محکمه څه ده؟

که چېرې تاسو د انحراف پروګرام لپاره نامناسب وګڼل شئ، تاسو ښايي له عدلي تعقيب سره مخ شئ او بايد محکمې ته لاړ شئ. په دغو شرايطو کې به تاسو د ماشومانو محکمې ته ځئ.

د ماشومانو محکمه هغه قضيې څېړي چې له 18 کلونو څخه د ټيټ عمر لرونکي ماشومان او ځوانان پکې ښکېل وي. د ماشومانو د محکمې ودانۍ په ډوبلېن کې ده. له ډوبلېن څه د باندې، د ماشومانو محکمه معمولاً د نايحې د محکمې په ودانۍ په داسي متفاوته ورځ ترسره کېږي چې په هغه ورځ د لويانو لپاره په محکمه کې استماعيه غونډه نه وي.

د ماشومانو محکمه کولی شي ډېری هغو جنايي قضيو ته رسيدګي وکړي چې له 18 کلونو څخه د ټيټ عمر لرونکی ځوان کس او هغه ځوانان لويان پکې ښکېل وي چې د جرم د ارتکاب پر مهال ماشومان وو.

دغه محکمه د ځانوژنې په څېر پېچلو جرمونو ته رسيدګي نه کوي. شديد جرمونه د ماشومانو له محکمې څخه مرکزي جينايي محکمې ته محول کېږي.

ځيني وختونه په شديد جرم سره تورن ځوان کس کولی شي پرېکړه وکړي د ماشومانو د محکمې قاضي ته لاړ شي يا د يوه قاضي له خوا د لويانو په محکمه کې محکمه شي.

تاسو کولی شئ داسي وکيل ولرئ چې د هغوی په دفتر کې مو ورسره ليدلي دي. ځيني وختونه به دغه وکيل په محکمه کې ستاسو استازيتوب وکړي. ځيني وختونه به وکيل کوم مدافع وکيل ته لارښوونه وکړي چې د هغه يا هغې پر ځای په محکمه کې ستاسو استازيتوب وکړي.

## زه بايد د ماشومانو په محکمه کې څه تمه ولرم؟

د محکمې اطاق يو رسمي ځای او له تاسو تمه کېږي چې هلته په رسمي ډول چلند وکړئ. له خپل وکيل يا مدافع وکيل څخه غوښتنه وکړئ له استماعيي غونډې لاندې موارد درته تشريح کړي:

- د محکمې اطاق څه ډول ځای دی
- څوک به ستاسو په استماعيه کې برخه اخلي
- هر کس به چېرې ښکېني.

که چېرې تاسو نه پوهېږئ د استماعيي غونډې په جريان کې څه پېښېږي، له خپل وکيل يا مدافع وکيل څخه غوښتنه وکړئ چې د استماعيي غونډه ستاسو لپاره تشريح کړي.

که چېرې تاسو د ماشومانو محکمې ته راځئ، دا مهمه ده چې تاسو د ښوونځي تګ ته دوام ورکړئ يا په تعليمي روزنو کې برخه واخلئ او هېڅ ډول جرم ترسره نه کړئ. کله چې قاضي ستاسو د قضيې په اړه پرېکړه کوي، بايد ښوونځې ته ستاسو تګ په پام کې ونيسي او بايد دې ته يې پام وي چې آيا تاسو کوښښ کړی کنه ترڅو په خپل چلند کې بهبود راولئ.

## که چېرې زما قضیه محکمې ته لاړ شي، زما حقونه به څه وي؟

که چېرې تاسو د ډېر جدي جرم مرتکب ګرځېدلي یاست، تاسو به یا استیناف محکمې ته ځئ یا د جرمونو مرکزي محکمې ته.

تاسو د دې حق لرئ چې د استماعیې لپاره خپل والدین یا پالونکی له ځان سره ولرئ.

## آیا زما قضیه به د لوی کس له قضیې څخه په متفاوت ډول اورېدل کېږي؟

هو. د ماشومانو په محکمه کې به ستاسو استماعیه غونډه د معمولو لویانو له محکمې څخه په متفاوته ورځ، متفاوت وخت یا د محکمې په متفاوت اطاق کې ترسره کېږي. دا په دې مانا چې تاسو به په هغه ځای کې نه یاست چې په جرمونو تورن لویان ورسره مخ کېږي.

قاضي همدارنګه باید د محکمې چارې مخ ته یوسي ترڅو تاسو په دې پوه شئ چې څه واقع کېږي.

## آیا زما هویت به خلکو ته څرګند شي؟

دا په دې پورې اړه لري چې تاسو کومې محکمې ته ورځئ. په مجموع کې، که چېرې ستاسو عمر له 18 کلونو څخه ټیټ وي، نو محکمه به یوازې له لاندې حاضرو کسانو سره په شخصي ډول کښېني:

- د محکمې کارمندان
- وکیلان
- مدافع وکیلان
- ستاسو والدین یا پالونکي
- ګارډا.

ستاسو نوم باید په رسنیو کې یا آنلاین ډول څرګند نشي. که چېرې کوم څوک ستاسو هویت خلکو ته څرګند کړي، هغوی به جریمه یا زنداني شي.

د ماشومانو په محکمه کې نومونو د نوم د لومړي تورو په اساس ویل کېږي. کله چې تاسو خپلې قضیې ته انتظار کوئ، نو تاسو به له نورو ماشومانو، د هغوی له والدینو ویا پالونکیو سره ناست وئ. ستاسو قضیه ښایي په ورځپاڼو کې خپره شي اما ستاسو نوم، یا د هویت نور مشخصات، کله ښوونځی به یکې څرګند نه شي.

## آیا وکیل به (چې یو ډول مدافع وکیل دی) په محکمه کې زما استازیتوب وکړي؟

هو. د وکیل ډول ستاسو پر وړاندې د تورونو په طبیعت او څرنګوالي او د کورنۍ په مالي وړتیا پورې اړه لري چې تاسو ته څه ډول وکیل نیسي. که چېرې ستاسو کورنۍ نه شي کولی وکیل ونیسي، تاسو ښايي د حقوقي مرستې (وړیا وکیل) مستحق وګرځئ. مخکې له دې چې تاسو ته وکیل وټاکل شي، د عامه تعقیبونو رییس باید پرېکړه وکړي چې تاسو به د ماشومانو محکمې ته ځئ یا د منصفه هئیت لپاره مرکزي جنايي محکمې ته.

ستاسو وکیل به تاسو ته ووايي چې په کنفرانس او محکمه کې څه پېښېږي. که چېرې تاسو په دې اړه نه پوهېږئ چې په محکمه کې یا له محکمې وروسته به څه پېښېږي، همېشه خپل وکیل وپوښتئ.

## کله چې زما قضیه محکمې ته راځي، څه به پېښېږي؟

یو له دریو شیانو ښايي پېښ شي، قاضي ښايي:

- ستاسو قضیه واوري
- ستاسو قضیه وځنډوي
- په تاسو باندې شوي تورونه باطل کړي.

### ستاسو قضیه اورېدل شوې ده

که چېرې قاضي پرېکړه وکړي چې ستاسو قضیه به اوري، هغوی ښايي:

- په تاسو باندې د شوي تور په هکله خپله پرېکړه وځنډوي او تاسو به د ځوانانو د مشروطې آزادۍ خدمت ته د کورنۍ د کنفرانس په نوم یوې غونډې ته واستوي، یا
- ستاسو مشروطې آزادۍ حکم صادر کړي - دا په دې مانا چې د مشروطې آزادۍ له یوه مسئول څخه به غوښتنه وشي چې ستاسو قضیه او شخصي شرایط وڅېړي، یا
- ښايي په تور باندې مو محکوم کړي او سزا درته وټاکي.

### قاضي ښايي ستاسو قضیه وځنډوي

دا په دې مانا چې ستاسو قضیه به ځنډول کېږي او کومه بله ورځ به اورېدل کېږي.

که داسې وشي، قاضي ښايي پرېکړه وکړي چې تاسو په توقیف کې وساتي. دا په دې مانا چې تاسو به تر هغې پورې د توقیف مرکز ته استوي چې ستاسو قضیه واورېدل شي - دا به یوازې په هغه صورت کې واقع شي که چېرې تور ډېر جدي وي یا تاسو په دوامداره توګه له قانون څخه سرغړونې کړې وي. دا په توقیف کې ستاسو ساتلو یا پاتې کېدو په مانا دی. که چېرې تاسو د توقیف په مرکز کې ساتل کېږئ، نو تاسو د دې حق لرئ چې له نورو محکوم شوو ځوانانو څخه بېل وساتل شئ.

بله ګزینه دا ده چې قاضي ښايي له تاسو څخه د ضمانت غوښتنه وکړي. دا په دې مانا چې ستاسو والدین یا پالونکی باید پیسې تادیه کړي یا د پیسو د تادیه کولو ژمنه وکړي، ترڅو تاسو له توقیف څخه وباسي. قاضي له تاسو څخه د ضمانت غوښتنه کوي، په دې کې کېدی شي د لاندې په مواردو په څېر سخت شرایط شامل وي:

- په ګرځېدو بندیز
- له ځانګړو ځایونو یا خلکو څخه د ځان لرې ساتل
- د شرابو نه څښل
- نشه يي توکي نه کارول
- ښوونځي ته تلل.

که چېرې تاسو له دغو شرایطو څخه سرغړونه وکړئ، نو ښايي تاسو توقیف ته یوړل شئ. که چېرې ضمانت د ماشومانو د محکمې له خوا رد شي، د سترکې محکمې د ضمانت لپاره باید ستاسو د وکیل له خوا درخواست وشي.

### ستاسو د قضيې باطلول

قاضي ښايي پرېکړه وکړي چې په تاسو باندې لګول شوي تورونه باطل کړي. دا په دې مانا چې ستاسو په قضيه کې به نور کوم څه ترسره نشي او تاسو ښايي شرايطو ته پام سره بياځلي تورن وګڼل شئ.

## که چېرې قاضي ما د کورنۍ کنفرانس ته واستوي، څه واقع کېږي؟

د کورنۍ کنفراس ستاسو، ستاسو د کورنۍ او د مشروطي آزادۍ د مسئول ترمنځ غونډه ده. تاسو به په دغه غونډه کې يادو خلکو سره کار کوئ ترڅو ستاسو لپاره داسې يو پلان جوړ کړئ، ترڅو د توقيف کېدو يا مجازات کېدو پر ځای دغه پلان تعقيب کړئ. د دغه پلان موخه له جرم څخه ستاسو راګرځول دي.

## که چېرې زه د جرم مرتکب او تورون وپېژندل شم، څه به پېښېږي؟

که چېرې تاسو د کوم جرم مرتکب او تورن وپېژندل شئ، قاضي به تاسو ته يا د ټولنې د بنديز يا توقيف سزا درکړي. دا به په لاندې موارد باندې اړه ولري:

- ستاسو له خوا ترسره شوی جرم
- دا جرم څومره شديد و
- ستاسو شخصي شرايط لکه څنګه چې د مشروطي آزادۍ د مسئول له خوا ارزول شوي دي.

محکمه تاسو ته حکم کوي چې:

- جريمه تاديه کړئ
- هغه مهال د مشروطې آزادۍ ضمانت ترلاسه کړئ کله چې له تاسو غوښتنه کېږي چې د قانون مطابق چلند وکړئ او ښايي له دې سره تړاو لرونکي شرايط ولرئ لکه په ځانګړي ځای کې ژوند کول يا له ځانګړي ساحې څخه د باندې اوسېدل.
- ستاسو نيول کېدل ( که چېرې جرم ډېر شديد وي).

په مشروط ډول آزادي او توقيف په راتلونکو برخو کې تشريح شوي دي.



# 7.7 مشروطه آزادي

## مشروطه آزادي څه ده؟

مشروطه آزادي يو ډول رسمي خبرداری دی چې ښايي قاضي يې تاسو ته توقيف ته د استولو پر ځای درکړي. محکمه ښايي له تاسو غوښتنه وکړي چې خپل جرمي چلند بند کړئ او ښايي د ځانګړي مودې لپاره ستاسو د چلند لپاره ځانګړي شرطونه وټاکي. تاسو ته به د مشروطې آزادۍ يو مسئول وټاکل شي چې دنده يې داډ ترلاسه کول دي چې تاسو به د محکمې د حکم شرايط تعقيبوئ. په شرايطو کېدی شي لاندې موارد شامل وي:

- زده کړو يا رزونې ته دوام ورکول
- د نشه يي توکو يا الکولو د کورس بشپړول
- له Le Chéile مربې ګرۍ سره اړيکه نيول.

## که چېرې زه ونه شم کولی د مشروطې آزادۍ شرايط پوره کړم، نو څه به پېښيږي؟

تاسو به بېرته محکمې ته راوستل شي. محکمه ښايي تاسو ته لارښوونه وکړي چې شرايط تعقيب ښايي حکم لغوه کړي او پر ځای يې په تاسو بل د تولنې بنديز ولګوي.

## آيا د ځوانانو لپاره د مشروطې آزادۍ ځانګړي خدمات شتون لري؟

د ځوانانو لپاره د مشروطې آزادای (YPP) خدمت د مشروطې آزادۍ يوه ځانګړې برخه ده چې له هغو ځوانانو سره محکمې ته له راتګ مخکې کار کوي چې عمرونه يې د 12 او 18 کلونو ترمنځ وي. YPP د ټولنې پراساس جزاګانې (لکه د ټولنيزې خدمت حکم يا جريمې) او بيا ترميمي عدالت تشويقوي (دا هغه ځای دی چېرې چې قربانيانو ته دا فرصت ورکول کيږي چې د مجرم سره ووينې يا اړيکه ورسره ونيسي تر څو دقيقاً ووايي او تشريح کړي چې څنګه جرم پر هغوی باندې اغيزه کړې ده) تر څو د مکرر جرم مخنيوی وشي.

# 7.8 توقیف یا نیول

## آیا زه به زندان ته استول کېږم؟

نه. هغه ځوانان چې عمرونه يې تر 18 کلونو ټيټ وي زندان ته نه استول کېږي. په هر صورت، قاضي ښايي پرېکړه وکړي اړونده ځوان کس به له ټولنې څخه ایستل کېږي:

- یا هغه مهال کله چې قاضي پرېکړه کوي چې څه باید وکړي، یا
- له دې امله چې قاضي پرېکړه کړې دغه ځوان کس دې توقیف ته واستول شي.

که چېرې قاضي پرېکړه وکړي چې کوم ځوان کس دې له ټولنې څخه وایستل شي، هغوی دغه ځوان کس په ډوبلېن کې د آبرس ټاون د ماشومانو د توقیف مرکز ته استوي. د دغه مرکز موخه د مناسبو تعلیمي او روزنیزو پروګرامونو چمتو کول دي. دغه مرکز د مراقبت خدمات، تعلیم او روزنه وړاندې کوي، اما دا یو خوندي مرکز دی، په دې مانا چې تاسو نشئ کولی په آزادانه ډول تګ راتګ وکړئ. که څه هم د دغه مرکز موخه د کورنیو اړیکو ساتل او هڅول دي، که چېرې تاسو په توقیف کې یاست، دا ښايي په دې اغېز وکړي چې تاسو له باندنۍ نړۍ سره څومره اړيکه لرئ.

## کله چې زه آبرس ټاون کې یم، څه به پېښېږي؟

د آبرس ټاون موخه د خوندي، امن او مناسب مراقبت چمتو کول دي، ترڅو تاسو وکولی شئ خپلې روغتیایي اړ تعلیمي اړتیاوې پوره کړئ. آبرس ټاون به له تاسو سره مرسته وکړي ترڅو خپل جرمي چلند ته رسيدګي وکړئ او وروسته له دې چې له توقیف څخه آزاد شئ، ستاسو کورنۍ او ټولنې ته ستاسو د بېرته ستنېدو لپاره تاسو چمتو کوي.

په دې هکله د ډېرو معلوماتو لپاره چې څه به پېښ شي، د ځوانانو لپاره د آبرس ټاون معلوماتي لارښود وګورئ.

## کله چې زه توقیف کې یم زما حقونه څه دي؟

تاسو د دې حق لرئ چې خپلې روغتیا، خوندیتوب او هوساینې ته پاملرنه وکړئ. تاسو ته باید تعلیمي خدمات چمتو شي. تاسو کولی شئ د کوچنی تصدیقپاڼي یا د پرېښود د تصدیقپاڼې مضامین او آزموینې یا د QQI (د ایرلنډ کیفیت او تحصیلات) موډلونه ترسره کړئ. هر ټولګی د 45 دقیقو لپاره دوام مومي. تاسو به هره ورځ درې یا څلور ټولګي ولرئ.

- تاسو به مناسب مراقبت ترلاسه کړئ او وبه کولی شئ له خپلې کورنۍ سره اړيکې وساتئ او پراختیا ورکړئ.
- ستاسو شخصي، کلتوري یا د ژبپوهنې اړوند اړتیاوې باید وپېژندل شي.
- له تاسو سره باید په درنښت چلند وشي او د ځورونې په شمول له هر ډول تبعیض او ضرر څخه باید خوندي وئ.

که چېرې تاسو داسې طبي درملنې ته اړتیا لرئ چې نشي کېدای په مناسب ډول په مرکز کې چمتو شي، د مرکز رییس باید ستاسو لپاره ځینې تدابیر تر لاس لاندې ونیسي چې روغتون ته مو واستوي. ټولې پرېکړې باید ستاسو په ګډه ترسره شي او تاسو د دې حق لرئ چې پ آبرس ټاون کې د شتون پر مهال مو غږ واورېدل شي. تاسو کولی شئ په يو لړ غونډو کې برخه واخلئ لکه ستاسو د مراقبت او د ځانګې په اړه غونډې.

# آیا زه کولی شم په توقیف کې د خپلې درملنې په اړه شکایت وکړم؟

هو، تاسو کولی شئ هغه کلیدي کارمند ته د خپلې درملنې په اړه شکایت وکړئ چېئ د آبرس ټاون د کارمندانو غړی وي. تاسو همدارنګه کولی شئ په آبرس ټاون کې مدیریت ته شکایت وکړئ.

- د شکایاتو سیستم باید مناسب او ستاسو د لاسرسي لپاره آسانه وي.
- تاسو ته همدارنګه باید د شکایت د څرنګوالي په اړه واضح معلومات او ملاتړ درکړل شي.
- ستاسو کلیدي کارمند کولی شي د شکایت پروسه تاسو ته تشریح کړي.
- تاسو باید د هر ډول ترسره شوي شکایت په اړه فیډبک ترلاسه کړئ.

تر مراقبت باندې د خلکو پیاوړتیا (EPIC) همدارنګه د میاشتنیو ملاقاتونو خدمت وړاندې کوي، ترڅو له تاسو سره مرسته وکړي خپل حقونه وپېژنئ. که چېرې تاسو غواړئ په توقیف کې د اوسېدو پر مهال شکایت وکړئ، EPIC به له تاسو سره په دې کار کې مرسته وکړي. تاسو کولی شئ له EPIC سره په مستقیم ډول د (01) 872 7661 شمېرې له لارې شکایت وکړئ.

که چېرې تاسو د خپل شکایت پر وړاندې له غبرګون څخه خوښ نه یاست، نو تاسو کولی شئ د ابرس ټاون رییس ته د استیناف غوښتنه وکړئ. که چېرې تاسو د استیناف غوښتنې له نتیجې (پایلې) څخه خوښ نه یاست، تاسو کولی شئ د ماشومانو د شکایاتو مسئول ته شکایت وکړئ.

تاسو همدارنګه کولی شئ د روغتیایي معلوماتو او کیفیت نهاد ته شکایت وکړئ څوک چې د آبرس ټاون د پلټونو مسئولیت پر غاړه لري او د پلټنې راپورونه نشروي. هغوی به ستاسو د شکایت تفصیلات نشر نه کړي، اما دا کېدی شي د هغوی پر راتلونکي پلټنه اغېز وکړي.

که چېرې تاسو غواړئ د شکایتونو د پروسې د څرنګوالي په اړه معلومات ترلاسه کړئ، نو تاسو کولی شئ د ماشومانو د حقونو د ائتلاف له معلوماتي کرښې سره په 01-902 0494 شمېره اړیکه ونیسئ.

## آیا زه باید خلکو ته ووایم چې په جرم باندې محکوم شوی یم؟


دا په ځانګړو مواردو پورې تړاو لري. که چېرې ستاسو جرم لږ شدید وي، نو تاسو کولی شئ خپل تور له خپلو سوابقو څخه حذف کړئ، په شرط د دې چې تاسو له 18 کلنۍ وروسته تر درېو کلنې بیا جرم ترسره نکړئ. که چېرې داسې وشي، نو تاسو باید هېچا ته د جرم په اړه ونه وایاست. د انحراف په پروګرام کې ستاسو ګډون ښایي فاش شي که چېرې تاسو شرایطو ته په پام سره د کارډا په اړه څېړنې ترسره کوئ.

ځیني تورونه نه شي کېدلی ستاسو له سوابقو څخه حذف شي، د بېلګې په توګه که چېرې تاسو په مرکزي جنایي محکمه کې تورن شوي یاست، یا که چېرې ستاسو جرم د جنسي اړیکو د مجرمینو د 2001 کال قانون پر وړاندې وي. د لازیاتو معلوماتو لپاره د ماشومانو د حقونو د ائتلاف معلوماتي کرښې ته په 0494 902-01 شمېره زنګ ووهئ.

بیلابیل هېوادونه ښایي لا هم له تاسو څخه وغواړي چې د خپلو محکومیتونو په اړه ورته معلومات ورکړئ که چېرې تاسو هلته د سفر کولو یا مهاجرت په موخه د ویزې غوښتنه وکړئ. په دې کې متحده ایالات او آسترالیا شاملېږي. په جرم باندې محکومېدل ښایي تاسو د ویزې له ترلاسه کولو یا اړونده هېواد ته له مهاجرت کولو څخه منعه کړي. په دې اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره تاسو باید د اړونده هېواد له سفارت چې غواړئ هلته سفر وکړئ اړیکه ونیسئ.

## زه څنګه کولی شم له خپلو سوابقو څخه د جرمي تورونو د حذفولو لپاره په شرایطو برابر شم؟

ستاسو له سوابقو څخه په شرایطو برابر جرمي تورونه باید په آتوماتیک ډول حذف شي. که چېرې تاسو فکر کوئ چې هغه جرمي سوابق چې باید ستاسو له سوابقو څخه حذف شوی وای لا هم ستاسو په سوابقو کې ښکاري، تاسو باید د څېړنې له ملي دفتر سره اړیکه ونیسئ او په دې هکله له دوی څخه غوښتنه وکړئ.



# زما آنلاین حقونه





# 8

## زه په کوم عمر کې کولی شم په قانوني ډول آنلاین خدماتو ته لاسرسی ولرم، لکه له ټولنیزې رسنۍ څخه استفاده یا د وصل شوو لوبڅکو کارول؟

### د ډېرو خدماتو لپاره لکه ګوګل، هیڅ داسې قانون شتون نه لري چې تاسو په کوم عمر کې کولی شئ لاسرسی ورته ولرئ.

که چېرې ټولنیزې رسنۍ ستاسو له شخصي معلوماتو څخه استفاده کوي، نو تاسو باید د 16 کلنۍ عمر بشپړ کړی وي ترڅو وکولای شئ د خپلو والدینو یا پالونکي له توافق پرته نوملیکنه وکړئ. له ټولینزو رسینو څخه زموږ مطلب د سنپ چټ، یوټیوب، انسټاګرام او ټېک ټاک په څېر اپلېکېشنونه دي. له وصل شوو لوبڅکو څخه زموږ مطلب هغه لوبڅکي دي چې تاسو کولی شئ په مستقیم ډول یا د اپلېکېشن له لارې لاسرسی ورته ولرئ.

## زما شخصي ملومات څه دي؟

ستاسو شخصي معلومات عبارت له هغو معلوماتو څخه دی چې په تاسو پورې اړه لري او ستاسو هویت څنې څرګندېږي. په شخصي معلوماتو کې ستاسو نوم، پته، د زیږون نېټه، ستاسو روغتیایي معلومات، ستاسو د شخصي برېښنالیک پته، ستاسو د موقعیت په اړه معلومات، ستاسو د مبایل یا کارېدونکې وسیلې د آی پي آدرس (چې ستاسو د وسیلې لپاره یو داسې بېساری تشخیصوونکی کوډ دی چې ستاسو وسیلې ته د انټرنېټ په واسطه د کاروني اجازه ورکوي)، شاملېږي.

## شرکتونه ولې زما د شخصي معلوماتو غوښتنه کوي؟

کله چې تاسو د پیغام استولو یا ګېم ترسره کولو د اپلېکېشن په څېر آنلاین خدماتو ته نوملیکنه کوئ یا د لوبڅکو له اپلېکېشن سره وصلېږئ، تاسو باید لومړی خپل شخصي معلومات له یادو خدماتو سره شریک کړئ او د اپلېکېشن له خدمت څخه د استفادې شرایطو ومنئ. اپلېکېشنونه، په ځانګړې توګه وړیا اپلېکېکشنونه، ستاسو له شخصي معلوماتو څخه په استفادې سره پیسې ګټي او تاسو د اعلاناتو هدف ګرځوي یا د ورته کار د ترسره کولو لپاره ستاسو معلومات په نورو کمپنیو باندې پلوري.



## زه څنګه کولی شم خپل محرم او شخصي معلومات د آنلاین استفادې پر مهال خوندي وساتم؟

ځینو ګامونه شته چې تاسو یې په آنلاین نړۍ کې د خپلو شخصي معلوماتو او محرمیت د خوندي ساتلو لپاره پورته کولای شئ، لکه:

- په هغو اپلیکېشنونو کې د محرمیت د ګامونو کنټل چې تاسو استفاده ځنې کوئ ترڅو ډاډ حاصل شي چې ستاسو پروفایل په عامه توګه د لیدو وړ نه دی
- په خپلو آنلاین حسابونو کې له پیچلي پسورډ څخه استفاده کول
- په خپلو وسیلو او اپلیکېشنونو کې د موقعیت د شریکولو تنظیمات روښانه کول.

د لازیاتو معلوماتو لپاره Spunout.ie ته مراجعه وکړئ.

## زه څنګه کولی شم په آنلاین فضا کې ځان خوندي وساتم؟

په آنلاین فضا کې د خپل محرمیت خوندي ساتل په خوندي ډول ستاسو د فزیکي ساتنې یوه مهمه برخه ده. دا مهمه ده چې په یاد ولرئ چې هر څوک چې آنلاین ځان ښیي هغه نه شي کیدای چې په ریښتیا هماغه شخص وي او تاسو نه شئ کولی د هغوی د هویت په اړه ډاډه شئ. تاسو باید هېڅ داسي کار ونکړئ چې په اړه یې ډاډه نه یاست. تاسو کولی شئ د ناوړه استفادې کوونکي خلک، بند، بلاک او راپور کړئ.

تاسو کولی شئ اضافي معلومات د آیرلنډ د انټرنېټي خوندیتوب د پوهاوي د مرکز پر وېب پاڼه ومومئ. دغه مرکز د داسي وسیلو او لارښوونو لرونکی په مرسته یې والدین، ښوونکي او ځوانان کولی شي انټرنېټي خوندیتوب ولري. دغه مرکز همدارنګه د بېلابېلو اپلیکېشنونو، ګېمونو او ټولنیزو شبکو په اړه معلومات وړاندې کوي. CyberSafeKids له انټر څخه د خوندي استفادې په اړه پر خپله وېب پاڼه ګټورې سرچینې لري.

د آیرلنډ د انټرنېټ تلفوني کرښه هر چاته اجازه ورکوي، ترڅو د هغو مزاحمو او ستوزه جوړوونکو موادو په هکله راپور ورکړي چې ورسره مخ کېږي. همدارنګه د والدینو، پالونکو او ځوانانو لپاره له انټرنېټ څخه د استفادې په هکله معلومات او مشورې وړاندې کوي.

## آیا دا زما لپاره قانوني ده چې خپل صمیمي عکسونه آنلاین ا د پیغام استولو د اپلیکېشن له لارې شریک کړم؟

که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي او خپل جنسي تصویر چاته واستئ، دا د قانون په اساس د ماشوم ا ستثمار د موادو په توګه پېژندل کېږي. دا په دې مانا چې تاسو او هغه کس چې تصویر ورته استوئ ښایي له جدي خطر سره مخ شئ. دا ځکه چې له 18 کلونو څخه د ټیټ عمر لرونکي ماشوم بربنډ عکسونه لرل یا له بل چا سره شریکول غیر قانوني دي او کېدی شي د جرمي تعقیب لامل شي.

کېدی شي په زنداني کېدو، جریمه او د جنسي مجرمینو په کتاب کې په ثبت سره منتج شي. که چېرې تاسو خپل ځان په داسي وضعیت کې ومومئ تاسو کولای شئ له ټولنیز یا هغه ګارډا څخه د مرستي غوښتنه وکړئ چې ښایي وکولی شي د انځور یا ویډیو د نشر مخنیوی وکړي.

## آیا دا قانوني ده چې د داسې چا بربنډ عکسونه آنلاین شریک کړم چې عمر یې تر 18 کلونو ټیټ وي؟

نه. دا قانوني کار نه دی چې د کوم بل داسې کس بربنډ عکسونه آنلاین شریک کړئ چې عمر یې تر 18 کلونو ټیټ وي. قانون د داسې انځورونو پوسټ کولو یا خپرولو ته له ماشومانو څخه د ناوړه جنسي استفادې د موادو په سترګه ګوري چې ډیری وخت د ماشومانو د پورنوګرافی په توګه یادېږي.

د دا ډول عکسونو لرل هم غیر قانوني دي، حتی که تاسو هېڅېری پوسټ کړي هم نه وي یا کوم چاته ښودلي هم نه وي.

## که چېرې کوم داسې څوک چې عمر یې له 18 کلونو څخه ټیټ وي خپل بربنډ عکسونه له ما سره شریک کړي، باید څه وکړم؟

د داسې کس د بربنډو عکسونو جوړول، وېشل یا حتی لرل چې عمر یې تر 18 کلونو ټیټ وي په احتمالي ډول یو جرمي عمل دی باید په اړه یې An Garda Síochána ته راپور ورکړل شي.

## که چېرې زه آنلاین داسې څه ووینم ستونزه راته جوړوي، باید څه وکړم؟

ډېری وېب پاڼې د داسې سیستمونو لرونکي دي چې تاسو کولی شئ هغوی ته د مزاحمو او ستونزه جوړوونکو تصویرونو په اړه راپور وکړئ. که چېرې تاسو له داسې کوم جدي څیز سره مخ کېږئ چې فکر کوئ غیر قانوني به وي لکه له ماشوم څخه د ناوړه جنسي استفادې موارد، تاسو کولی شئ له خپل نامه پرته یې په مرحم ډول لاندې پتې ته راپور کړئ www.hotline.ie

تاسو همدارنګه باید د هغه څه په اړه چې لیدلي مو دي له یوه باوري لوی کس سره خبرې وکړئ او خپل احساس ورته څرګند کړئ.

ځورونه هم په آنلاین او هم په آفلاین ډول ترسره کېدی شي. د ځورونې په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره، د دغه راپور 2.8 برخه وګورئ. آنلاین ځورونه یا سایبري ځورونه د آفلاین ځورونې په څېر ده اما د تکنالوژۍ له لارې ترسره کېږي. دا کېدی شي د داسې ناغوښتل شوو پیغامونو، ویډیوګانو، آډیوګانو یا تصویرونو په بڼه ترسره شي چې ضرر رسوونکي او توهین آمېزه وي.

## که چېرې تاسو فکر کوئ چې ځورول کېږئ، یو شمېر کارونه شتون لري چې تاسو یې باید ترسره کړئ.

### یوه لوی کس ته ووایاست

که چېرې تاسو ځورول کېږئ، دا مهمه ده چې په اړه داسي لوی کس ته ووایاست چې فکر کوئ باور وربانديږ لرئ، لکه یو والدینو ځخه، ښوونکی یا د لارښووني مشاور.

که چېرې مو شاوخوا کې داسي څوک نه وي، نو کولی د ماشومانو کرښې ته په 66 66 66 1800 شمېره زنګ ووهئ ترڅو له کوم مرستندویه کس سره خبرې وکړئ یا د ځوانانو کرښې ته په 634 833 1800 شمېره زنګ ووهئ.

که چېرې ځورنه په دې باندې تمرکز کوي چې تاسو ګې، لېزبین، بایوسېکشول، ټرانسجنډر یاست، نو تاسو کولی شئ له ملاتړي سازمان سره اړیکه ونیسئ لکه BeLonG To.

### ځواب مه ورکوئ

ځوروونکو پیغامونو، بریښنالیکونو یا پر ټولنیزو رسنیو کې توهینوونکو پوسټونو ته ځواب مه ورکوئ. ځواب ورکول ډېرى وختونه کولی شئ وضعیت لا خراب کړي.

### یو ریکارډ وساتئ

د امکان په صورت کې د ځوروونکو یا خواشینی کوونکو پیغامونو یو ریکارډ له ځان سره وساتئ (باید ويې نه لولئ). که چېرې کتبي پیغامونه وي، نو ذخیره یې کړئ. که چېرې آنلاین پوسټونه یا پیغامونه وي، سکرین شاټ یې واخلئ یا یې یوه داسي لوی کس ته د بریښنالیک له لارې واستوئ چې باور وربانديږ لرئ.

### خپلې تلفوني شبکې ته ووایاست

که چېرې ځورونه د مبایل تلفون له لارې ترسره کېږي، نو خپلې تلفوني شبکې ته ووایاست، د نوي سیم کارت په اخیستو سره خپله د تلفون شمېره بدله کړئ او خپل شخصي معلومات محرم وساتئ.

### خپل د محرمیت تنظیمات وګورئ

که چېرې کوم څوک تاسو په آنلاین ډول ځوروي، نو تاسو کولی شئ د محرمیت تنظیمات وکاروئ، ترڅو ځان ډاډه کړئ چې ځوروونکي کس نه شي کولی ستاسو معلومات ووینې یا تاسو ته تبصرې ولیکي.

### خواشینوونکي تبصرې لرې کړئ

که چېرې کوم څواک خواشینوونکي تبصرې لیکي، نو تاسو کولی شئ یا یې خپله لرې کړئ یا د سایټ اداره کوونکو ته زنګ ووهئ او غوښتنه ځنې وکړئ چې په سملاسي ډول یې لرې کړي.

### ګارډا ته ووایاست

که ځورونه دوامداره وي یا څوک تاسو ته آنلاین توکمیزې یا جنسي تبصرې لیکي، نو تاسو کولی شئ په دې اړه ګارډا یا لاندې وېب پاڼې ته راپور ورکړئwww.hotline.ie.

## که چېرې کوم څوک په تاسو باور وکړي نو څه به کوئ

که چېرې کوم داسي څوک چې تاسو یې پېژنئ درته ووایي چې آنلاین ځورول کېږي، دا مهمه ده چې یوه لوی کس یا داسي چا ته ووایاست چې باور وربانديږ لرئ ترڅو ځورونې ته رسیدګي وشي. تاسو هم باید هغوی وهڅوئ ترڅو له داسي لوی کس سره چې باور وربانديږ لري خبرې وکړي.

## که چیرې زما د ماشوم تصویر یا ویډیو آنلاین شریکه شي، څه به کوم؟

که چیرې ستاسو د ماشوم عکس یا ویډیو د داسي هدف لپاره خپره شي چې تاسو یې توافق نه وي کړی، نو تاسو کولی شئ له هغه کس سره چې دا کار یې کړی دی اړیکه ونیسئ او غوښتنه ځنې وکړئ چې بېرته یې لرې کړي.

تاسو همدارنګه کولی شئ له هغه کس سره اړیکه ونیسئ چې د تصویر د کاپي رایټ حق ورسره دی (د بېلګې په توګه که چیرې تاسو له ښوونځي سره موافقه کړې وي چې د ځانګړي هدف لپاره ستاسو د ماشوم تصویر واخلي) او هغوی ته خبر ورکړئ چې له دغه تصویر څخه د داسي مقصد لپاره استفاده کېږي چې تاسو یې اجازه نده ورکړې. د کاپي رایټ د حق لرونکی بیا له اړونده پلېټفارم څخه غوښتنه کوي چې یاد تصویر لرې کړي.

تاسو همدارنګه کولی شئ د ډاټا د خوندیتوب له کمیسیون سره اړیکه ونیسئ او شکایت ورته وکړئ.

## که چیرې زما د ماشوم بربنډ تصویر یا ویډیو آنلاین شریکه شي، څه به کوم؟

که چیرې ستاسو ماشوم عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، د هغوی اړوند هر ډول بربنډ عکسونه کېدی شي له ماشوم څخه د ناوړه جنسي استفادې د موادو په توګه یا د ماشوم د پورنوګرافی په توګه وپېژندل شي. دا د هر چا لپاره غیر قانوني ده چې دغه تصویرونه شریک کړي یا یې له ځان سره ولري.

تاسو باید په دې اړه ګارډا ته راپور ورکړئ او هر ډول داسي شواهد له ځان سره وساتئ چېرې چې دغه مواد خپاره شوي دي او دا چې چا شریک کړي دي. که چېرې تاسو پوهېږئ چې دغه تصویرونه چا پوسټ کړي یا شریک کړي دي، دا ښایي ښه نظر وي چې وګورئ چې آیا دوی له کوم بل چا سره هم دغه تصویرونه شریک کړي دي کنه.

# د سرپناه
# اړوند زما
# حق



۶

## که چېرې زه له خپلې کورنۍ پرته بې کوره وم، نو زه د څه ډول ملاتړ مستحق یم؟

که چېرې تاسو بې کوره یاست او والدین یا پالونکی مو درسره نشته، یا که چېرې تاسو په کړکېچ کې یاست او عاجل مراقبت ته اړتیا لرئ، نو تاسو کولی شئ په Tusla کې له خپل محلي ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسئ (www.tusla.ie).

که چېرې د مازدیګر له 5 بجو وروسته وخت وي او دفتر بند وي، د ګارډا له خپل محلي دفتر سره اړیکه ونیسئ چې د ګارډا غړی به ستاسو لپاره له ټولنیز کارمند سره اړیکه ونیسي.

ټولنیز کارمند به ستاسو د اړتیاوو ارزونه وکړي او کوښښ به وکړي ستاسو لپاره هستوګنه یا مراقبت ومومي. که چېرې مناسبه وي ټولنیز کارمند ښایي ستاسو له کورنۍ سره اړیکه ونیسي. یا، ټولنیز کارمند ښایي تاسو د بې کورۍ د بیړني وضعیت په هستوګنه کې ځای پر ځای کړي.

بیړني او بې کورۍ خدمات په ډوبلین، کېلداري او ویکلو کې د کړکېچ د مداخلې د خدمت له خوا او د هېواد په نورو سیمو کې د بیړني وضعیت د ځای او خوندیتوب د خدمت له لارې وړاندې کېږي.

همدارنګه د فوکس آیرلنډ په څېر یو شمېر سازمانونه هم شتون چې له هغو ځوانانو سره کار کوي چې بې کوره وي. د 10مې برخې پاڼې وګورئ: د مرستې لپاره چېرې تللای شم؟ د اړیکو د معلوماتو لپاره.

## که چېرې زه له خپلې کورنۍ سره بې کوره یم، نو زما لپاره څه ډول ملاتړ شتون لري؟

د رسمي ساعتونو په جریان کې (معمولاً د سهار له 9 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې، له دوشنبه تر جمعې) ستاسو کورنۍ باید داسې محلي نهاد ته مراجعه وکړي چې د هغو ځوانانو لپاره د هستوګنې د چمتو کولو مسئولیت پر غاړه لري چې نه شي کولی خپله یې د ځان لپاره چمتو کړي. هغوی کولی شي په مستقیم ډول د هستوګنې (ټولنیزې هستوګنې) په چمتو کولو سره یا د هستوګنې د دواطلبانه سازمانو او نورو رضاکاره نهادونو له لارې د هستوګنې په چمتو کولو کې مرسته وکړي. په کړکېچنو حالاتو کې هغوی ښایي بیړنۍ هستوګنې چمتو کړي، لکه د هوټل اطاقونه یا د کورنۍ مرکزونه یا ښایي هغوی په هوټل یا بېډ او بریکفسټ کې د هستوګنې د لګښت د تادیې موافقه وکړي. په ډوبلین کې له کاري ساعتونو د باندې تاسو کولی شئ د ډوبلین د بې کورۍ له ساحوي اجرایوي وړیا تلفوني شمېرې سره د 707 707 1800 له لاې اړیکه ونیسئ.



که چېرې د شته خدماتو په اړه معلوماتو ته اړتیا لرئ، له فوکس آیرلنډ سره په 2555 671-01 شمېره یا @focusirelandcharit فېسبوکي پته اړیکه ونیسئ.

## ایا زه کولی شم د خپل ځان لپاره د ځای انتخاب وکړم - ایا کېدی شي زه خپل ښوونځیو پخواني کور، یا خپلو ملګرو ته نږدې ځای پر ځای شم؟

نه. له بده مرغه تاسو او ستاسو کورنۍ به په دې باندې ډېر محدود کنټرول ولرئ چې چېرې ځای پر ځای شئ. دا په دې پورې اړه لري چې چېرې هستوګنې شتون لري. تاسو باید له خپلې محلي ټولنې څخه لرې لاړ شئ او بل ښوونځي ته لاړ شئ.

## آیا زه باید خپل ښوونځي ته ووایم چې زه بې کوره یم؟

نه، تاسو باید خپل ښوونځي ته ونه وایاست چې تاسو بې کوره یاست، اما ستاسو والدین یا پالونکی کولی شي هغوی ته خبر ورکړي چې ستاسو پته بدله شوې ده ترڅو هغوی وکولی شي اسناد او لیکونه ترلاسه کړي. ځینې وختونه کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي چې له یوه ښوونکي سره خبرې وکړئ یا په ښوونځي کې نورو ته ووایاست چې په تاسو څه تیریږي، خو دا ستاسو انتخاب دی.

## که چېرې زه بې کوره یم، آیا زما ښوونځي باید ماته آسانتیاوې چمتو کړي؟

په دې اړه د ښوونځي لپاره رسمي لارښووني شتون نه لري چې له هغو ماشومانو سره څنګه تعامل وکړي چې بې کوري تجربه کوي. ډېری ښوونځي کوښښ کوي ستاسو لپاره آسانتیاوې برابرې کړي که چېرې په دې یوه شي چې تاسو بې کوره یاست. هغوی ښايي:

- وګوري چې څنګه کولی شي د کورنی دندې په برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي
- ښايي تاسو ته اجازه درکړي چې خپل کتابونه پر ځای د دې له ځانه سره یې خپلې هستوګنې ته یوسئ، په ښوونځي کې پرېږدئ
- ښايي تاسو ته اجازه درکړي چې له لاسه ورکړی خوب پوره کړئ
- ښايي له تاسو سره د ښوونځي د تجهیزاتو مرسته وکړي.

دا په ښوونځي او هغو سرچینو پورې اړه لري چې ښوونځی یې لري..

## که چېرې زه بې کوره یم، آیا د ښوونځي داسې مرستې شته چې زه وکولی شم لاسرسی ورته ولرم؟

که چېرې تاسو داسې ښوونځي ته ځئ چې په ښوونځیو کې د فرصتونو د برابرۍ د لېږد په پروګرام کې وي، نو تاسو کولی شئ ملاتړ ته د لاسرسي غوښتنه وکړئ لکه د کور د ښوونځي د ټولنې د اړیکو مسئولان. ځینې ښوونځي همدارنګه ښايي د ښوونځي د لګښتونو د تامین لپاره بودجه ولري.

ځینې ښوونځي د ناشتاوو کلبونه لري یا هغوی د ښوونځي د خوړو د پروګرام برخه دي نو ښايي هغوی غرمنۍ ولري. دا ښايي ګټور وي که چېرې تاسو باید خپله بېړنی هستوګنه مخکې له دې چې د سهار د ناشتا خوړلو فرصت پیدا کړئ، پرېږدئ.

# که چیرې زه وغواړم د خپل وضعیت په اړه خبرې وکړم، څه ډول ملاتړ ته کولای شئ لاسرسی ولرم؟

ماشومان بېلابېل ډوله ملاتړ چمتو کوي او همېشه د لاندې ذریعو له لارې د اړیکو لپاره د لاسرسي وړ دي:

- وړیا تلفون 1800 66 66 66
- وړیا پیغام استونه 50101
- په ژوندی بڼه پیغام استونه د هغوی پر وېب پاڼه.

3.5برخه لارښوونه کوي چې ماشومان چېرې کولی شي د خپلې رواني روغتیا په تړاو ملاتړ او معلوماتو ته لاسرسی ولري



# د مرستې لپاره چېرته تللای شم؟

10

یو شمېر سازمانونه او نهادونه شتون لري چې په دغه لاربنود کې ذکر شوي دي. هغوی د موضوع په اساس سره ګروپ شوي دي او دلته د الف با د تورو په ترتیب سره لیست شوي دي او ورسره د هغه څه لنډه شرحه هم وړاندې شوې ده چې هغوی څه کوي او څنګه کولی شي له تاسو سره مرسته وکړي.
تاسو کولی شئ په سازمانونو او نهادونو کې کوم چا ته په مستقیم ډول شکایت وکړئ، اما له نورو سره تاسو کولی شئ له خپلو والدینو یا پالونکي یا باوري لوی کس څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو لپاره معلومات پیدا او ستاسو په استازیتوب شکایت وکړي.

## د ګټورو سازمانونو او ادارو فهرست


| | |
|---|---|
| 1. شکایت او د خسارې د جبران نهادونه (د خسارې جبران یعني اصلاح) | 150 |
| 2. حقوقي سازمانونه | 155 |
| 3. د عامه دخدماتو په اړه معلومات | 158 |
| 4. حکومتي وزارتونه او نهادونه | 159 |
| 5. د ماشومانو سازمانونه | 161 |
| 6. د ځوانانو سازمانونه | 162 |
| 7. د بیرنیو اړیکو شمیرې | 166 |
| 8. روغتیا (عمومي او ماشومان) | 170 |
| 9. روغتیا (رواني روغتیا) | 172 |
| 10. معلولیت | 174 |
| 11. د لومړنیو کلونو زده کړې او مراقبت | 177 |
| 12. تر مراقبت لاندې ماشومان | 179 |
| 13. بې کوري | 180 |
| 14. کورنی ستونزې او ملاتړ | 181 |
| 15. والي او پناه غوښتنه | 184 |
| 16. عدلي سیستم | 187 |
| 17. عدلي سیستم | 191 |

## 1.ساري د جبران نهادونه (د خسارې جبران يعنې اصلاح)

که چېرې تاسو غواړئ چې شکايت وکړئ، نو تاسو بايد لومړی له هغه سازمان يا شخص سره موضوع راپورته کړئ چې تاسو فکر کوئ ستاسو حقونه يې تر پښو لاندې کړي دي ترڅو هغوی ته د دې فرصت ورکړئ چې دغه ستونزه هواره کړي. تاسو کولی شئ دا کار په غير رسمي ډول وکړئ. که چېرې هغوی د شکايت فورمه لري، نو د هغوی له فورمې څخه استفاده وکړئ يا خپل شکايت په ليکلي بڼه وړاندې کړئ چې لاندې موارد په کې شامل وي، د وختونو او نېټو معلومات، ولې تاسو ناخوښ ياست، او دا چې سازمان يا شخص د وضعيت بهبود په اړه څه کولی شي. که چېرې تاسو له ځواب څخه ناخوښ ياست يا تاسو داسې انګېرئ چې ستونزه نه ده هواره شوې، يو له لانديني نهادونو څخه ښايي وکولای شي له تاسو سره مرسته وکړي:

### د سيالۍ او د پېرودونکي د خونديتوب کميسيون

دغه نهاد کولی شي تاسو ته د پېرودونکي د حقونو، د خپلو پيسو د مديريت د څرنګوالي او محصول د خونديتوب په اړه معلومات چمتو کړي. که چېرې تاسو فکر کوئ چې کومې سوداګرۍ د پېرودونکي په توګه ستاسو حقونه تر پښو لاندې کړي دي، تاسو کولی شئ د دغه سوداګرۍ په اړه د پېرودونکو مالي اداري ته راپور ورکړئ.

د سيالۍ او د پېرودونکي د خونديتوب کميسيون
Bloom House
Railway Street
Dublin 1
D01-C576

د پېرودونکو مرستندويه کرښه 432 432 1890 يا 5555 402-01 (چې له دوشنبه تر جمعې پورې د سهار له 9 بجو څخه د شپې تر 6 بجو پورې فعالې دي)

/www.ccpc.ie/consumers

### د ډاټا د خونديتوب کمېشنر

د ډاټا د خونديتوب کمېشنر د هغو افرادو له خوا شوي شکايتونه څېړي چې فکر کوي د محرميت لپاره د هغوی حقونه په کافي اندازه نه دي خوندي شوي يا دا چې د هغوی شخصي معلومات په ناسم ډول کارول شوي دي. که چېرې تاسو کوم سازمان يا فرد ته هر ډول شخصي معلومات ورکړئ، هغوی مسئوليت لري چې ستاسو د معلوماتو په خوندي او محرم ساتلو سره د محرميت اړوند ستاسو حقونو ته درناوی ولري.

د کمېشنر وېب پاڼه د ډاټا د خونديتوب قانون له مخې ستاسو د حقونو په اړه په ساده انګليسي ژبه لارښود لري، او همدارنګه د ځوانانو لپاره يې داسې يو چارټ ترتيب کړی دی چې د ډاټا اړوند د هغوی د خونديتوب حقونه او مسئوليتونه تشريح کوي. هغوی همدارنګه ستاسو د استفادې لپاره ځانګړی ټمپلېټ لري که چېرې تاسو غواړئ له يوې ادارې څخه د هغوی پر وېب پاڼه معلوماتو د لاسرسي غوښتنه وکړئ.

د ډاټا د خونديتوب کميسيون
Fitzwilliam Square South 21
,Dublin 2
D02 RD28

تلفون: 800 684 578 353+

800 104 761 353+

پرانېستې ساعتونه د سهار له 9.15 بجو څخه د مازديګر تر 5.30 بجو پورې (د جمعې په ورځ د مازديګر تر 5.15 بجو پورې) /www.dataprotection.ie

انټرنېټي فورمې:forms.dataprotection.ie/contact

## GSOC (د ګارډا Siochana د شکایاتو مسئول کمیسیون)

You can complain to the Garda Síochána Ombudsman :(GSOC) about the behaviour of a Garda if

تاسو کولی شئ د ګارډا Siochana د شکایاتو مسئول کمیسیون ته د ګارډا د چلند په اړه شکایت وکړئ که چیرې:

1) په تاسو یې په مستقیم ډول اغیز کړی وي،

2) که چیرې تاسو د چلند شاهد یاست، یا

3) که چیرې تاسو غواړئ د کوم بل چا په استازیتوب دا کار وکړئ او اجازه لرئ.

تاسو باید د پیښې له رامنځ ته کېدو وروسته په 6 میاشتو کې د ننه شکایت وکړئ، مګر دا چې تاسو د ځنډ لپاره معقول دلایل ولرئ. ستاسو والدین یا پالونکی هم کولی شي ستاسو په استازیتوب شکایت وکړي. GSO به پرېکړه وکړي چې آیا کولی شي ستاسو په شکایت باندې غور وکړي کنه (که چیرې د اجازې وړ وي). که چیرې د اجازې وړ وي، د شکایاتو مسئول ښایي شکایت د منځګړیتوب لپاره راجع کړي، یا د ګارډا کمېشنر ښایي ستاسو شکایت وڅېړي. که چیرې شکایت تایید شي، کېدی شي د ګارډا پر وړاندې انضباطي اقدامات ترسره شي یا که چیرې شکایت لا جدي وي، نو کېدی شي د جرمي تعقیب لپاره راجع کړل شي.

د ګارډا Siochana د شکایاتو مسئول
Upper Abbey Street 150
Dublin 1
D01 FT73

info@gsoc.ie
ټلیفون: 800 600 1890
www.gardaombudsman.ie

Coimisiún na hÉireann um Chearta an Duine agus Comhionannas
Irish Human Rights and Equality Commission

## د آیرلنډ د بشري حقونو او مساویتوب کمیسیون

د آیرلنډ د بشري حقونو او برابری کمیسیون (IHREC) د بشري حقونو د خوندیتوب او پراختیا لپاره کار کوي. یاد کمیسیون همدارنګه ډاډ ترلاسه کوي چې تبعیض به په هغو 9 ساحو کې نه ترسره کېږي چې د برابری په قانون کې یې یادونه شوې ده: جنسیت، مدني حالت، د کورنی حالت، عمر، معلولیت، نژاد، جنسي تمایل، مذهبي عقیده او ټراولر ټولنې غړیتوب.

که چیرې فکر کوئ چې ستاسو پر وړاندې تبعیض شوی دی، تاسو کولی شئ IHREC ته شکایت وکړئ. IHREC کولی شي تاسو ته د برابری د قانون په اړه معلومات درکړي. که چیرې له تاسو سره د ښوونځي، کار یا عامه ترانسپورت په څېر خدمت ته په لاسرسي کې په غیر قانوني ډول تبعیض شوی وی، یاد کمیسیون کولای شي ستاسو لپاره حقوقي مرستې چمتو کړي. اما، تاسو نه شئ کولی ستاسو د عمر له مخې د تبعیض په اړه شکایت وکړئ. که چیرې تاسو فکر کوئ ستاسو بشري حقونه تر پښو لاندې شوي یا له پامه غورځول شوي دي، تاسو همدارنګه کولی شئ له IHREC څخه غوښتنه وکړئ چې پلټنه وکړي یا تاسو ته حقوقي مشوری یا مرسته درکړي ترڅو قضیه راپورته کړئ. په هر صورت، ستاسو درخواست یوازې

د آیرلنډ د بشري حقونو او مساویتوب یا برابری کمیسیون
Green Street 16-22
,Dublin 7
DO7 CR20

ټلیفون: 9601 858-01
محلي اړیکه: 245545 1890
برېښنالیک: info@ihrec.ie
www.ihrec.ie

## د شکایاتو د مسئول دفتر

د شکایاتو دمسئول رول دا دی چې د هغو عامه خلکو شکایتونه وڅیړي چې باور لري له دوی سره د عامه خدمتونو د ځینو وړاندي کوونکو له نامناسب چلند شوی دی. په دې کې لاندې موارد شاملېږي:

- حکومتي نهادونه
- محلي اداري
- د روغتیایي خدمتونو اجرائیه اداره (HSE)
- د خیریه بنسټونو او رضاکاره نهادونو په څېر سازمانونه چې د HSE په استازیتوب روغتیایي او ټولنیز خدمات وړاندې کوي.
- عامه روغتونونه
- په عامه پول تمویل شوي د دریمې کچې تعلیمي نهادونه
- د عامه او شخصي نرسرۍ کورونه

د شکایاتو مسئول همدارنګه د عامه ادارو د ناکامیو په اړه شکایتونه څیړي چې د 2005 کال د معلولیت قانون د 3 برخې لاندې د لاسرسي وړ ودانۍ، خدمات او معلومات نه وړاندې کوي. د دغه پول شکایتونو لپاره، د عامه نهاد په اصطلاح کې حکومتي نهادونه، محلي نهادونه، د HSE نیمه حکومتي نهادونه او همدارنګه ډېری نور حکومتي نهادونه شاملېږي.

د شکایاتو د مسئول دفتر
18 Lower Leeson Street
Dublin 2,
D02 HE97

ټلیفون: 5600 639 1 353+
محلي اړیکه: 30 30 22 1890 (فیسونه کېدی شي متفاوت وي)
برېښنالیک: info@ombudsman.ie
Email: info@ombudsman.ie
www.ombudsman.ie/

## د معلوماتو د کمېشنر دفتر

که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټیټ وي، نو ستاسو والدین کولی شي د هر پول داسې سوابقو او اسنادو لپاره درخواست وکړي چې حکومتي نهاد یې د معلوماتو د خپلواکۍ (FOI) دقانون له مخې ستاسو په اړه لري. د معلوماتو د کمېشنر دفتر د FOI د غوښتنو په اړه د عامه نهادونو د پرېکړو په خپلواکې ارزونې ترسره کوي.

که چېرې د FOI غوښتنه رد شي، بیا تاسو یا ستاسو والدین کولی شي د معلوماتو کمېشنر ته د دغه پرېکړې په اړه مخالفت وکړي. تاسو باید له اړونده عامه نهاد څخه غوښتنه کړې وي چې مخکې له دې چې تاسو وکولی شئ د معلوماتو له کمېشنر څخه د بیا کتنې غوښتنه وکړئ، پر خپله اصلي پرېکړه باندې له سره غور وکړي. که چېرې ارزونه د شخصي سوابقو په اړه وي، دا به وړیا وي.

له دوشنبې تر جمعې د سهار له 9.15 بجو څخه د مازدیګر تر 5 بجو پورې پرانیستی وي.

د معلوماتو د کمېشنر دفتر
18 Lower Leeson Street
Dublin 2,
D02 HE97

تلفون 5689 639-1-353+
برېښنالیک: info@oic.ie
www.oic.ie/

### د ماشومانو لپاره د شکاياتو د مسئول دفتر

دغه دفتر حکومت ته د ځوانانو او ماشومانو د ستونزو په هکله مشورې ورکوي. همدارنګه شکاياتو ته رسيدګي کوي. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټيټ وي او په منفي ډول د حکومتي يا عامه نهاد د پرېکړې په واسطه اغېزمن شوی وي، نو تاسو کولی شئ OCO ته شکايت وکړئ. د شکاياتو مسئول د مختلفو ادارو په اړه شکايتونه څېړي چې په دې کې حکوومتي وزارتونه، ځينې ښوونځي، روغتونونه، عامه اداري يا هغه سازمانونه شاملېږي چې د دولت په استازيتوب خدمات وړاندې کوي. که چېرې ستاسو عمر تر 18 کلونو ټيټ وي يا ستاسو والدين کولی شي ستاسو په استازيتوب شکايت وکړي، تاسو کولای شئ په مستقيم ډول شکايت وکړئ.

د ماشومانو لپاره د شکاياتو مسئول
Millennium House
Great Strand Street 52-56
,Dublin 1
D01 F5P8

ټيليفون: 01-865 6800
وړيا تلفون: 1800 20 20 40
برېښناليک: oco@oco.ie
www.oco.ie, www.itsyourright.ie

### د ټولنيزې هوساينې د استيناف د غوښتنو دفتر

د ټولنيزې هوساينې د استيناف د غوښتنو دفتر د ټولنيز خونديتوب له وزارت څخه په خپلواک ډول فعاليت کوي. د دغه دفتر موخه د ټولنيزو هوساينو د تادياتو په اړه د خپلواکو، لاسرسي وړ او عادلانه استينافي غوښتنو د خدمت وړاندې کول او په چټک او درناوي سره د يادو خدماتو لېږد دی. د شکايت ترسره کولو د څرنګوالي په اړه تاسو کولی شئ اضافي معلومات د هغوی پر ويب پاڼه ومومئ.

د ټولنيزې هوساينې د استيناف د غوښتنو دفتر
,D’Olier House
D’Olier Street
,Dublin 2
D02 XY31

برېښناليک: swappeals@welfare.ie
ټولنيزه شمېره 1890 74 74 3401
+353 1 6732800
له دوشنبې تر جمعې د سهار له 10 د غرمې تر 12.30 بجو پورې او د ماسپښين له 2.30 د مازديګر تر 4 بجو پورې
/www.socialwelfareappeals.ie

## د کاري ساحې د اړیکو کمیسیون

د کاري ساحې د اړيکو کميسيون (WRC) يو خپلواک او قانوني نهاد دی. د کميسيون په اصلي خدماتو کې د کاري حقونو د تطابق پلټنه، د معلوماتو چمتو کول، د کاري اداري او د ځوانانو د خونديتوب (کار) د جوازونو طی مراحل کول او د منځګړيتوب، پخلاينې، آسانتيا او مشورتي خدماتو چمتو کول شاملېږي. WRC همدارنګه د برابرئ وضعيت له قانون څخه د سرغړونې جبران چمتو کوي، د لازياتو معلوماتو لپاره د هغوی وېب پاڼه وګورئ.

د معلوماتو او پېرودونکي خدمت
محلي اړيکه: 90 80 80 1890
ټليفون: 059 9178990
(د سهار له 9.30 د مازديګر تر 5 بجو پورې)
www.workplacerelations.ie

# 2. حقوقي سازمانونه

که چیرې تاسو حقوقي پوښتنه لرئ، نو حقوقي لارښوونو یا استازيتوب ته اړتيا لرئ، يا که چيرې تاسو په حقوقي اسنادو باندې پوهيدو يا يې د ليکلو په برخه کې مرستې ته اړتيا لرئ، نو تاسو کولی شئ له يوه وکيل څخه د مشورې غوښتنه وکړئ. تاسو ښايي د کار د قوانينو، د کډوالی د وضعيت يا بل هر ډول حقوقي مسئلې په څېر مواردو لپاره حقوقي مرستې ته اړتيا ولرئ.

که چيرې تاسو محکمې ته د ګارډا له خوا راوستل شوي ياست، تاسو حق لرئ چې د ځان لپاره وکيل ولرئ. که چيرې تاسو نه شئ کولی د ځان لپاره په پيسو وکيل ونيسئ، قاضي به پرېکړه وکړي چې تاسو ته يو وړيا وکيل چمتو شي. که چيرې تاسو د ځينو نورو دلايلو لپاره وکيل ته اړتيا لرئ، نو ستاسو د والدينو يا پالونکي په څېر کوم بل لوی کس کولی شي ستاسو په استازيتوب له کوم وکيل سره اړيکه ونيسي. لاندې د داسې حقوقي خدماتو لپاره د اړيکو معلومات وړاندې شوي دي چې له جيناي مسائلو پرته نورو مسئله ته رسيدګی کوي.

## قانوني نهادونه

### د حقوقي مرستې بورډ

که چيرې تاسو نه شئ کولی د حقوقي مرستې فيسونه تاديه کړئ، نو د قانوني مرستو بورډ د قانوني مرستو د وړاندې کولو مسئوليت پر غاړه لري. دغه بورډ د مدني مسائلو اړوند حقوقي مرستې چمتو کوي – د بېلګې په توګه، د کورنی قانون، د ماشومانو د مراقبت اړوند قضيې، ځانې تېونه يا د پناه غوښتنې لپاره درخواستونه.
تاسو بايد د وسايلو ازموينه ترسره کړئ، په دې مانا چې ستاسو عايد بايد تر يوه ځانګړې مبلغ لاندې وي او د "امتيازاتو" آزموينه په دې مانا ده چې ستاسو قضيه بايد د برياليتوب چانس ولري.

تاسو نه شئ کولی د حقوقي مرستو د بورډ له لارې د جيناي حقوقي مرستو غوښتنه وکړئ، پر ځای د دې تاسو کولی شئ په مستقيم ډول د خپلې قضيې قاضي ته درخواست وکړئ.

Head Office
Quay Street
Cahirciveen
Co. Kerry

ټيليفون: 066 947 1000

Dublin Office
North Brunswick Street 48-49
Georges Lane
Smithfield
,Dublin 7
D07 PE0C

ټيليفون: 9600 646-01 محلي اړيکه: 200 615 1890
برېښناليک: info@legalaidboard.ie
www.legalaidboard.ie

# غیر قانوني نهادونه

## د آیرلنډ د وکیلانو پلاوی

دا د مدافع وکیلانو لپاره چې یو ډول وکیلان دي، د استازیتوب کوونکی او مقرراتي نهاد دی. که چیرې تاسو د مدافع وکیل په لټه کې یاست یا د خپل مدافع وکیل په اړه شکایت لرئ، نو تاسو کولی شئ د پلاوي له شوار سره اړیکه ونیسئ.

د وکیلانو د پلاوي شورا اداري دفتر
Four Courts
Dublin 7
D07 WDX8

تلیفون: 01-817 5000
بریښنالک: thebarofireland@lawlibrary.ie
www.lawlibrary.ie

## د آیرلنډ د قانون ټولنه

دا د وکیلانو لپاره استازیتوب کوونکي او مقرراتي نهاد دی. که چیرې تاسو د وکیل په لټه کې یاست یا د خپل وکیل په اړه شکایت لرئ، نو تاسو کولی شئ د قانون له ټولنې سره اړیکه ونیسئ.

د قانون ټولنه
Blackhall Place
Dublin 7
D07 VY24

تلیفون: 01-672 4800
بریښنالیک: general@lawsociety.ie
www.lawsociety.ie

## د ماشومانو د حقونو د ائتلاف د حقوقي معلوماتو او مشور خدمت

د ماشومانو د حقونو ائتلاف د ماشومانو، ځوانانو، کورنیو او هغو کسانو لپاره چې له دوی سره کار کوي، د ماشومانو د حقونو په اړه وړیا حقوقي معلومات او مشورې وړاندې کوي.

د ماشومانو د حقونو ائتلاف
Red Cow Lane 7
Smithfield
Dublin 7
D07 XN29

مرستندویه کرښه: 01-9020494
بریښنالیک: help@childrensrights.ie
له دوشنبې تر پنجشنبه د سهار له 10 د مازدیګر تر 4 بجو پورې او په جمعه د سهار له 10 د غرمې تر 12 بجو پورې پرانېستې وي
www.childrensrights.ie

## د وړیا حقوقي مشورو مرکزونه (FLAC)

دغه غیر دولتي سازمان د عدل د ترلاسه کولو لپاره کار کوي. دغه سازمان د مختلفو مسائلو د حل لپاره کار کوي او خلکو ته د تلیفون کرښي او د قانوني کلینیکونو له لارې په ټول هیواد کې ځیني بنسټیز، وړیا حقوقي خدمات وړاندې کوي. هغوی همدارنګه د کورنی، کارموندني او کډوالی په قانون کې ځیني اختصاصي خدمات وړاندې کوي. ځیني خدمات ډېری وختونه د آیرلنډ د نښو په ژبه او آیرلنډی ژبه وړاندې کېږي.

د وړیا حقوقي مشورو مرکزونه

Dorset Street Upper 85/86
Dublin 1
آیرلنډ

D01-P9Y3
د معلوماتو او ارجاع کرښه: 1890 350 250
www.flac.ie

## (Mercy Law Resource Centre (MLRC

### د مېرسي د قانوني سرچینو مرکز

د مېرسي د قانوني سرچینو مرکز یو خپلواک حقوقي مرکز، ثبت شوی خیریه بنسټ او په ضمانت سره محدود شرکت دی چې هغو خلکو ته د ټولنیزې هستوګنې او ټولنیزې هوساینې د قانون په ساحه کې وړیا حقوقي مشورې او د استازیتوب خدمات وړاندې کوي چې بې کوره شوي یا د بې کوره کیدو له خطر سره مخ دي. دغه مرکز همدارنګه هڅه کوي، ترڅو په هغو قوانینو، پالیسیو او چلندونو کې بدلون راولي چې پر خپلو مراجعینو باندې نامنصفانه او ناوړه اغېزه کوي.

Cork Street 25
Dublin 8

ټیلیفون: 01-4537469
بریښنالیک: info@mercylaw.ie
www.mercylaw.ie

## 3. د عامه دخدماتو په اړه معلومات Information on د

### تابعيت د معلوماتو بورډ

د تابعيت د معلوماتو بورډ د عامه معلوماتو داسي خدمت دی چي د روغتيايي مراقبت، هستوګني، ټولنيزي هوسايني او تعليم اړوند ستاسو د حقونو په اړه تفصيلي معلومات وړاندې کوي. دغه بورډ د هېواد په کچه د اتباعو له 250 څخه د ډېرو معلوماتي مرکزکونو د شبکي او خپلي وېب پاڼي له لاري معلومات وړاندې کوي. CICs کولی شي تاسو معلومات چمتو کړي يا مو کوم بل داسي مناسب نهاد يا مېکانېزم ته رهبري کوي چي ښايي وکولی شي مرسته درسره وکړي. تاسو بايد مرستندويه کرښي ته زنګ ووهئ يا د هغوی وېب پاڼي ته مراجعه وکړئ، ترڅو وکولی شئ د ځان لپاره تر ټولو نږدې مرکز پيدا کړئ.

George's Quay House
Townsend Street 43
Dublin 2
D02 VK65

ټليفون: 0761 07 4000

www.citizensinformation.ie

# 4. حکومتي وزارتونه او نهادونه

## د ماشومانو، برابری، معلولیت، ادغام او ځوانانو وزارت

An Roinn Leanaí agus Gnóthaí Óige
Department of Children and Youth Affairs

دغه حکومتي وزارت په آیرلنډ کې د ماشومانو او ځوانانو لپاره د هغوی له لومړيو کلونو څخه تر ځوانیدو یا لویېدو پورې د پالیسیو او خدماتو مسئولیت پر غاړه لري. دغه وزارت همدارنګه د Tusla، په فرزندی باندې د زوی د نیولو د آیرلنډ د اداري او د ماشومانو لپاره د شکایاتو د دفتر پر وړاندې مسئول دی.

Block 1
Miesian Plaza
Baggot Street Lower 50-58
Dublin 2
D02 XWI4

ټلیفون: 3000 647 1 353+

www.dcya.gov.ie

## د پوهنې وزارت

An Roinn Oideachais agus Scileanna
Department of Education and Skills

دا یو حکومتي وزارت دی چې د ښوونې او روزنې مسئولیت پر غاړه لري. هغوی د ښوونې له پالیسۍ څخه څارنه کوي. هغوی د پراخه مسئولیت لرونکي دي چې د ماشومانو له لومړيو کلونو څخه نیولې تر دریمي کچې ښوونې پورې او وړاندې دوام لري. هغوی همدارنګه د ښوونځیو د ودانیو، ترانسپورت او د ځانګړو زده کړو د اړتیاوو او تعلیمي ملاتړ مسئولیت پر غاړه لري.

د پوهنې وزارت

Marlborough Street
Dublin 1
D01 RC96
ټلیفون: 6400 889-01

www.education.ie

## Department of Employment Affairs and Social Protection

An Roinn Gnóthaí Fostaíochta agus Coimirce Sóisialaí
Department of Employment Affairs and Social Protection

## د ټولنیز خوندیتوب وزارت

دا یو حکومتي وزارت دی چې د عامو خلکو لپاره عایداتي ملاتړ، امتیازات، د کارموندنې خدمات او مشورې وړاندې کوي. د دغه وزارت پر ویب پاڼه د شته امتیازاتو او ملاتړ او دا چې څنګه لاسرسی ورته ولرئ، معلومات شته دي. یاده ویب پاڼه همدارنګه تاسو ته د تر ټولو نږدې د ټولنیزې هوساینې د دفتر په اړه معلومات وړاندې کوي.

Áras Mhic Dhiarmada
Store Street
Dublin 1
ټلیفون: 3000 704 01

www.welfare.ie

## Gardaí

گارډا Síochána په آیرلنډ کې د ملي پولیسو د خدمت نوم دی. د هغوی په کړنو کې د جرم په هکله پلټنې، د جرم د مخنیوي لپاره د تدابیرو وړاندې کول او له قربانیانو سره کار کول شاملېږي.

Garda HQ
Phoenix Park
Dublin 8

د ګارډا د محرمیت مرستندویه کرښه: 111 666 1800
بېړني حالات: 999
www.garda.ie

## د روغتیایي خدماتو د معلوماتو اجرائیه ملي کرښه

HSE د هېواد په کچه په روغتونونو او ټولنو کې د آیرلنډ د عامي روغتیا خدمات او شخصي ټولنیز خدمات وړاندې کوي. د مرستي لپاره دغه شمېرې ته زنګ ووهئ، ترڅو د اړتیا وړ خدمت ومومئ.

د HSE معلوماتي کرښې له دوشنبې تر شنبې پورې د سهار له 8 د شپې تر 8 پورې زنګ ووهئ.
برېښنالیک: infoline1@hse.ie
www.hse.ie

## د Tusla د ماشومانو او کورنۍ اداره

د ماشومام او کورنۍ اېجنسي (Tusla) یو حکومتي نهاد دی چې د ماشومانو لپاره د سلامتیا او پایلو (نیتجو) د بهبود مسئولیت پر غاړه لري. د Tusla وېب پاڼه د ماشوم د خوندیتوب د خدماتو، د ماشوم د مراقبت، هوساینې، تعلیم، رواني خدماتو، او هغو خدماتو په اړه معلومات وړاندې کوي چې د جنسي تاوتریخوالي په ګډون د تاوتریخوالي ښکارېلو ډولونو ته رسیدګي کوي. همدارنګه له تاسو سره مرسته کوي ترڅو په خپله سیمه کې له ټولیز کارمند سره اړیکه ونیسئ.

The Brunel Building
Heuston South Quarter
Saint John’s Road West
Dublin 8
D08 X01F

ټلیفون: 8500 771-01
برېښنالیک: info@tusla.ie
نظریات او شکایات: /www.tusla.ie/get-in-touch/feedback-and-complaints1
www.tusla.ie

# 5. د ماشومانو سازمانونه

## Barnardos

Barnardos یو خیلواک خیریه بنسټ دی چې په مستقیم ډول له اړمنو ماشومانو او کورنیو سره کار کوي او د هېواد په کچه په 40 مرکزونو کې خدمات او ملاتړ چمتو کوي. همدارنګه په آیرلنډ کې د ماشومانو د حقونو لپاره کمپاین کوي او د ماشوم د مراقبت متخصصینو ته رزونې او سرچینې چمتو کوي.

Barnardos
Christchurch Square
